د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ټولنیزو علومو مرکز


# آریانا

## مجلۀ علمی - تحقیقی

په دي ګڼه کې:


- د شېرشاه سوري د دولتداری...
- دیدگاه ابن خلدون...
- نگاهی بر رویدادهای...
- د ژورنالیزم ارزښتونه او...
- د احمدشاه بابا پوځي سیاست...
- ...





- دوره پنجم
- ربع: سوم
- سال: ۱۴۰۳ هـ.ش.
- شماره مسلسل: ۴۵۴
- سال تأسیس: ۱۳۲۱ هـ.ش
- کابل - افغانستان

۳

مجلۀ علمی - تحقیقی آریانا

شماره ۳، سال ۱۴۰۳ هـ.ش


# ARYANA

## Quarterly Journal


Establishment 1942

Academic Publication of

Afghanistan Science Academy

Serial No: 454



Address:

Afghanistan Science Academy

Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.

Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan

Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ټولنیزو علومو مرکز

# آریانا

مجلۀ علمی- تحقیقی

اقتصاد، تاریخ و اتنوگرافی، حقوق و علوم سیاسی، روانشناسی و تعلیم و تربیه، ژورنالیزم، فلسفه و جامعه شناسی

مؤسس احمد علی کهزاد

سال تأسیس ۱۳۲۱ هـ . ش.

شماره مسلسل ۴۵۴

دوره پنجم

شماره ۳ سال ۱۴۰۳ هـ ش

## یادښتونه

- مقاله دې په رسمي ډول له ځانګړي ادرس څخه د نوم، تخلص، علمـي رتبـې، د تیلفون شمېرې او ایمېل ادرس په ذکـر کولـو سره د علومـو اکـاډمۍ ادارې تـه را واستول شي.
- را استول شوې مقاله بایـد علمـي، څېړنیـزه، بکـر او دعلمـي منـل شـوو معیـارونو مطابق وي.
- مقاله باید مخکې په بل ځای کې چاپ شوې نه وي.
- د مقالې سرلیک باید لنډ او له محتوا سره مطابقت ولري.
- مقاله باید د لنډیز لرونکې وي، ۸۰ څخه تر ۲۰۰ کلمـو وي او د اصـلي پوښـتنې ځواب ویوونکې وي چې مقاله هغې ته ځواب ویوونکې ده. همدارنګه لنـډیز بایـد د یونسکو له ژبو څخه په یوې ژباړل شوی وي.
- مقاله باید د سریزې، مبرمیت، هدف، د څېړنې د پوښتنې، د څېړنـې د تګـلارې، لاس ته راغلو پایلو او د منابعو د لړلیک لرونکې وي او هم پـه مـتن کـې منبـع تـه اشاره شوې وي.
- مقاله باید پرته د ټایپي تېروتنـو، د ژبـې د اصـولو د ټولـو نکـاتو پـه مراعتولـو او د موضـوعاتو پـه منطقـي تسلسـل سره د A٤ پـه یـو مخیـزې پـاڼې او د Word پـه پروګرام کې برابره شي.
- د مقالې حجم باید حد اقل ۷ او حـد اکـثر ۱۵ معیـاري پـاڼې وي، پـه ۱۳ فونـټ کې دې ټایپ شي، د سطرونو ترمنځ دې فاصله Single وي او کاپي دې د هارډ او سافټ په بڼه را واستول شي.
- د مجلې کتنپلاوی د رد، منلو او د مقالو د سمونو صلاحیت د علومو د اکـاډمۍ د نشراتو د لایحې په نظر کې نیولو سره لري.
- ارایه شوي تحلیلونه او نظرونه د څېړونکي او لیکـونکي پـورې اړه لـري او الزامـاً د ادارې موقف پورې اړه نه لري.
- د نشر شوو مضامینو او مقالو د کاپي حق خوندي دی، یـواځې د مأخـذ پـه توګـه ترې په نشراتو کې ګټه اخیستل کېدلی شي.
- سپارل شوې مقاله بېرته نه مستردېږي.

## یادداشت

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به اداره اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالۀ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدۀ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نشده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصۀ حد اقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، و گویای پرسشی اصلی باشد که مقاله در پی پاسخ دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان-های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان، تسلسل منطقی موضوعات در صفحۀ یک رویه کاغذ A٤ در برنامۀ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵صفحه معیاری بوده، با فونت ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را با در نظر داشت لایحۀ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل ها و اندیشه های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می تواند.
- مقالۀ وارده دوباره مسترد نمی گردد.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**ناشر:** ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان

**مدیر مسؤول:** عبدالباقی شهاب

**مهتمم:** نبی الله بدری

**هیأت تحریر:**

- سرمحقق شیرعلی تزری
- څېړنپوه دکتور محمدشریف ځدراڼ
- سرمحقق عبدالجبار عابد
- څېړنوال محمد داود ناظم
- محقق غلام نبی حنیفی

**دیزاین:** عبدالباقی شهاب

**محل چاپ:** مطبعه ستاره همت. کابل - افغانستان

**آدرس:** اکادمی علوم افغانستان، طره باز خان واټ،

کوچه شاه بوبوجان، شهرنو، کابل

**شمارۀ تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)

**ایمیل ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** info@asa.gov.af

**ایمیل مدیریت مجله:** aryanajournal۷۷۷@gmail.com

**اشتراک سالانه:**

کابل: ۳۲۰ افغانی

ولایات: ۴۸۰ افغانی

- قیمت یک شماره در کابل: ۸۰ افغانی
- برای استادان و دانشمندان اکادمی علوم: ۷۰ افغانی
- برای محصلین و شاگردان مکاتب: ٤۰ افغانی
- برای سایر ادارات: ۸۰ افغانی

# د موضوعاتو لړلیک


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱. | د شېر شاه سوري د دولتدارۍ... | سرمحقق دکتور محمد شریف ځدراڼ | ۱ |
| ۲. | دیدگاه ابن خلدون... | سرمحقق عبدالجبار عابد | ۲۶ |
| ۳. | نگاهی بر رویدادهای... | پوهاند دکتر حبیب پنجشیری | ۵۰ |
| ٤. | د ژورنالیزم ارزښتونه او... | څېړنوال محمد داود ناظم | ٦۳ |
| ۵. | د احمدشاه بابا پوځي سیاست... | څېړندوی وجیه الله ظهیر | ۱۰٦ |
| ٦. | د زمان‌شاه په مقابل کې... | څېړندوی ولي‌باز ارین | ۱۳۲ |
| ۷. | د سیدجمال الدین افغان... | څېړنیار سیدمحمدصادق سادات | ۱۵۳ |
| ۸. | په افغانستان کې د گرځندوی... | څېړندوی شوکت الله عابد | ۱۷۱ |

سرمحقق دکتور محمد شریف ځدران

# د شېر شاه سوري د دولتدارۍ څېړنه (۱۵۳۹-۱۵۴۵م.)

# The governance of Sher Shah Suri (1539__ 1545)

***Professor DR Muhammad Sharif Zadran***

**Abstract**

This paper explores the life and achievements of Sher Shah Suri, including his battles with the Gorkhanis, his rise to power, and his governance strategies. Sher Shah Suri was born during the reign of the Lodhi dynasty in Jaunpur and fought against prominent rulers such as the renowned Emperor Babur and his son Humayun. In 1539 CE, he defeated Humayun in the battles of Chausa and Kanauj, thereby re-establishing Afghan rule in India.

Sher Shah Suri founded a strong and centralized government, ruling with justice and fairness. He was a staunch advocate of centralization, shaped by his experience with the revolts of Lodhi dynasty emirs and the eventual fall of their reign. He governed with strict adherence to rules, regulations, and systemic governance, implementing what could be seen as a benevolent yet disciplined form of autocracy. He is famously quoted as saying, “Two swords cannot be contained in one sheath, just as two kings cannot coexist in one kingdom.”

Despite his authoritarian rule, Sher Shah Suri actively involved both Muslim and non-Muslim community leaders in governance, seeking their counsel and urging them to contribute to the betterment of the state. His governance model was notable for its impartiality, eliminating bias, oppression, and corruption.

Key words: governance, justice, Sher Shah Suri, Afghan, India, reign, centralized government.

**لنډیز:**

په دغه څېړنه کې د شېرشاه لنډه پېژندنه، د کورګانیانو سره د ده مبارزه، واک ته رسېدل او په ځانګړې توګه د ده دولتداري څېړل شوې ده. شېر شاه سوري د لودیانو د واکمنۍ پر مهال په جونپور کې زېږېدلی او واک ته له رسېدو مخکې د لودیانو د یوه نامتو امیر په توګه د بابر او د هغه د زوی همایون پر ضد جنګېدلای او په ۱۵۳۹م. کې یې د چوسا او قنوج په جګړو کې همایون ته ماتې ورکړه او د افغانانو واکمني یې دوباره احیا کړه. ده یو متمرکز دولت جوړ کړ، خو د هغه رهبري یې د عدل او انصاف پر بنسټ وکړه. دی ځکه د متمرکزې ادارې او دولتدارۍ پلوی و چې په خپلو سترګو یې د لودي امیرانو بغاوتونه او د هغوی په نتیجه کې د لودیانو د امپراتورۍ را پرځول لیدلي وو، نو ځکه ده د قوانینو، نظم او قواعدو په رڼا کې مطلق العنانه دولتداري وچلوله. ده په خپل وخت کې ویل: (( دوه تورې په یوه تیکي کې او دوه واکمنان په یوه ځای کې ځایېدای نه شي.))

که څه هم شېرشاه سوري په خپل دولت کې مسلمان او غیر مسلمان قومي مشران او امیران شریک کړل، خو دوی ته یې لارښوونه کوله او د دوی د اجراآتو جاج یې په جدي توګه اخیست. ده یوه داسې دولتداري رواج کړه، چې په هغې کې هیڅ ډول تعصب، ظلم او فساد ته ځای نه و.

**غوره اصطلاحات:**

دولتداري، عدالت، شېر، افغان، هندوستان، واکمني، متمرکزه اداره.

**سریزه:**

شېرشاه سوري د یوې داسې قبیلې شخه و چې پلرونو او نیکونو یې پر افغانستان او هندوستان ښه اوږده او ګټوره دولتداري کړې وه. د سلطان بهلول لودي د واکمنۍ پر مهال (۱۴۵۱- ۱۴۸۹م.) د ده پلار او نیکه هندوستان ته ولاړل او هلته د دولتي جاګیر او دندو څښتن شول. شېرشاه (اصلي نوم یې فرید و) په هندوستان کې دنیا ته راغی او د لودیانو د واکمنۍ پر مهال یې ژوند او زده کړه وکړل او د نامتو امیرانو په کتار کې راغی. د بابر له خوا سلطان ابراهیم لودي ته په (۱۵۲٦م.) کال له ماتې ورکولو وروسته هم یو امیر و او د جنید برلاس په مرسته له بابر سره اشنا شو، خو کله چې د بابر په ناوړه تصمیم باندې پوه شوله هغه جلا شو او د بابر او د هغه د زوی- همایون پر ضد یې افغانان یو کړل او تر هغه وجنګېده تر څو یې په ۱۵۳۹م. کې همایون ته ماتې ورکړه او د افغانانو واکمني یې یو ځل بیا ټینګه کړه.

ده په هندوستان کې یوه متمرکزه او مطلق العنانه دولتي اداره رامنځ ته کړه او د دې ادارې د مشر په توګه یې د عدالت او مساوات پر بنسټ ژور سیاسي، پوځي، اقتصادي او ټولنیز بدلونونه رامنځ ته کړل. افغان اداره چیان اوس هم د شېرشاه د دولتدارۍ پر میتودونو ویاړي. تر ټولو د قدر وړتکی د ده په دولتدارۍ کې دا دی چې بالفعل د ستونزې ځای ته ورتلو او په خپلو سترګو به یې لیدې او کتې، بیا به یې پرېکړه کوله. کله به چې ده امر صادر کړ د هغه د اجرا او پلي کولو جاج یې هرو مرو اخیست. بې له شکه د شېرشاه د بري راز د هغه په وړتیا، تجربه او صلاحیت پورې تړلی و، نظارت، کنترول، لیدنه، ګرېوېږنه، پوښتنه او په جدیت سره کار کول د ده په خټه کې کښېل شوی وو. ده به ویل: پاچاهانو ته ښایي چې خود غرضه او رشوت خواره وزیران او عمال ځان ته نژدې پرې نږدي. د دا ډول خاینو کسانو څخه هېواد، حکومت او ملت ته ضرر رسېږي.

**د موضوع مبرمیت او اړتیا:**

تر هر څه مخکې باید ووایم، چې شېرشاه سوري د افغانستان او هندوستان یو مشترک میراث دی. د هغه د دولتدارۍ ګټورې او مثبتې ښېګڼې او تجربې په سیمه کې د واکمنانو لپاره ښه لارښود کېدای شي. له دې امله د شېر شاه د دولتدارۍ څېړنه یوه علمي اړتیا لیدل کېده او د څېړنې په بشپړولو سره به، موږ له هغې زده کړه وکړو او د دولتدارۍ په اړه به زموږ په پوهه او تجربه کې زیاتوالی راشي. دغه راز د افغانستان په اوسني حالت کې د شېرشاه سوري په څېر یو عادل او مطلق العنان مشر ته اړتیا لیدل کېږي چې یو متمرکز او پر قوانینو او دسپیلینو ولاړ دولت رامنځ ته کړي او په دې ډول ژورو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو اصلاحاتو ته زمینه برابره شي.

**د څېړنې هدف:**

د لیکنې او څېړنې هدف بې له شکه د شېر شاه سوري د دولتدارۍ پېژندل او د هغې له مثبتو او ګټورو تجربو څخه ګټه اخیستل دي. د شېرشاه د دولتدارۍ غوره هدف دا و چې په هندوستان کې د افغانانو واکمني پیاوړې او ټینګه کړي او په دې وسیله د هندوستان وګړو ته خدمت وکړي چې تر ډېره په دې کار کې بریالی هم و.

**د څېړنې میتود:**

په لیکنه کې له تاریخي علمي، تحلیلي او تشرېحي میتود څخه ګټه اخیستل شوې او د اکاډمیکو اصولو په رڼا کې پر معتبرو تاریخي آثارو تکیه شوې ده.

**د شېر شاه سوري لنډه پېژندنه:**

اصلي نوم یې فرید دی، خو په تاریخ کې د شېر شاه سوري او شېرخان په نومونو هم شهرت لري. د پلار نوم یې میاحسن سور او د نیکه نوم یې ابراهیم سور دی. سوریان په خټه پښتانه دي، په افغانستان او هندوستان کې یې لوی سلطنتونه کړي دي.

سوريان د شنسب بن خرنک څخه نيولي بيا تر محمد سوري پورې (٦٦٠-١٠١۴م.) څه کم ځلور پېړۍ په غورکې سيمه ييز خپلواک حکومت درلود. دغه راز د ١٠١۴ څخه تر ١١۴٨م. پورې د غزنويانو تر واکمنۍ لاندې نيمه خپلواک حکمرانان وو. په ١١۴٨م. کې يې له غزنويانو آزادي واخيسته او تر ١٢١۵م. پورې د يوې لويې امپراتورۍ واکمنان وو. (١: ٢٦- ٢٧ مخونه).

بيليو ليکي: چې سوري ولس په پخواکې يو لوی او پياوړی قوم و او د هزاره د اوسني نيمه لوېديځه خوا يې نيولې وه او په دې ملک کې يې خپلواک حکومت درلود او په غور او فيروز کوه کې يې پلازمېنې واقع وې، دوی وروسته د سبکتگين شاهي کورنۍ را وپرځوله او واک يې په خپل لاس کې واخيست. دوی سوري افغانان وو او د عربو د لښکرکشۍ پر مهال د غور غرنيان د افغان او د جمع په شکل د افاغنه په نامه پېژندل کېدل. (٢: ١٧١، ۴٦٨- ۴٦٩مخونه).

د ستر واکمن بهلول د پاچايي په وخت کې د شېرخان نيکه ابراهيم سور له خپل زوی مياحسن سره د افغانستان د ژغرې (د گومل درې يوه سيمه ده) څخه هند ته ورغی او په هند کې د متهي خان سور داود شاه خېل سره نوکر شو، څه موده وروسته د شېرخان نيکه ابراهيم سور د جمال خان سارنگ خاني سره نوکر شو او جمال خان ده ته د نارنول د پرگنې څو کلي چې د ځلوېښتو سپرو جاگير و، ورکړ. (٣: ٣- ۴ مخونه) که څه هم هند ته د پښتنو د مهاجرت لړۍ د آريايانو د لېږد سره سمه پيلېږي، خو د هند مسلمان ليکوال، اقتدار حسين صديقی هند ته د سوريانو د مهاجرت په اړه ليکي، چې په ١۴۵٦م. کال سلطان بهلول لودي په ديپالبور کې په لښکرکشۍ بوخت و چې د جونپور واکمن، سلطان محمود ډهلی کلابند کړ او سلطان بهلول د دې کلابندۍ د ماتولو او د افغان سلطنت د پياوړتيا په موخه د روه څخه افغان قبايل را دعوت کړل چې له همدغو قبايلو سره يو ځای د شېرشاه نيکه او پلار هم د بهلول مرستې ته حاضر شول. د سلطان محمود له ماتولو وروسته د شېر شاه نيکه او پلار نه يواځې د جاگير

ځښتن شول، بلکې د بهلول لودي او د هغه د اولادې په حکومتونو کې يې خپلو دندو ته دوام ورکړ. (۴: ٣٦- ٣٩ مخونه).

که څه هم د (شېر شاهي تاريخ) ليکوال د فريد د زېږېدو سمه نېټه نه په ګوته کوي او يوائې دومره ليکي، چې د سلطان بهلول د واکمنۍ پر مهال زېږېدلی دی. (٣: ٨ مخ). خو يو بل هندي ليکوال، ډاکټر سری واستا په خپل اثر (د مغول امپراتورۍ) کې ليکي، چې شېرشاه په ١۴٧٢م. کال په جونپورکې د يوې پښتنې مور څخه زېږېدلی دی. پروفيسور مکرجي دغه نېټه نه تاييدوي او ليکي، چې شېرشاه په ١۴٨٦م. کال په جونپور کې زېږېدلی دی. (۵: ١١۵ مخ) په هر صورت داسمه ده چې شېرشاه د سلطان بهلول لودي د واکمنۍ (١۴۵١- ١۴٨٩م.) پر مهال زېږېدلی، ژوند او زده کړې يې کړي او د اوږدې مبارزې په نتيجه کې يې د سوري امپراتورۍ بنسټ کېښود.

**د شېرشاه زده کړې:**

د شېرشاه د کورنۍ چاپېريال د ده د زده کړو لپاره مناسب نه و، حسن خان سور د څو ښځو څخه اته زامن درلودل. په دوی کې فريد خان او نظام خان له پښتنې مېرمنې څخه زېږېدلي وو او پر حسن خان باندې د کشرې مېرمنې چې يوه کنيزه وه ډېر زيات اثر و او له پښتنې مېرمنې سره يې عملاً بې مينې کړې و. مېرې يې بد سلوک ور سره کاوه، له همدې امله د ده د ژوند لومړني کلونه له ستونزو ډک وو، خوسره له دې هغه له تعليم سره مينه درلوده او ويې کولای شول چې د فارسي او عربي ژبو څو کتابونه ولولي او منظمې زده کړې يې ونه کولای شوې. (٦: ۵- ٦ مخونه).

د عبدالله په قول ((حسن خان نه يوازې د فريد مور ته چندان اهميت نه ورکاوه، بلکې د نورو زامنو پرتله يې فريد ته هم پاملرنه، نه کوله. فريد د خپل پلار نه خپه شو او جمال خان ته، چې د ده د پلار محسن و، جونپور ته ورغی. دغه مهال جونپور د ساسرام په پرتله لوی ښار و، دلته د عالمانو شمېر زيات او فريد په زده کړو لاس پورې کړ. کافيه يې د حواشي او نورو کتابونو سره ولوستل، ګلستان، بوستان او د

سکندر نامې کتابونه، چې په هغه وخت کې د هند خلکو لوستل، ولوستل او د پاچاهانو په تاریخ یې ځان پوه کړ.)) (۷: ۱۷۸ مخ)

شېرشاه په عربي، دري، اسلامي فقه او په تېره بیا په تاریخ کې پوره معلومات درلودل او د تاریخ سره یې ژوره مینه او علاقه وه او د تاریخي کتابونو لویه او ښه ذخیره یې درلوده.(۵: ۱۳۰ مخ) په (شېرشاهي تاریخ) کې راغلي: (( فرید له پلاره خپه جونپورته لاړ او د جمال خان سره نوکر شو، که څه هم حسن خان د فرید د بېرته راتګ غوښتنه له جمال خان څخه وکړه، خو فرید ونه منله او جمال خان ته یې داسې عرض وکړ:

((که پلار مې د دې لپاره بولي چې هلته راته پوهنه رازده کړي، دلته هم پوهان ډېر دي، که ستاسې خوښه وي، زه به همدلته په زده کړه بوخت شم)). جمال خان وویل: ((ډېر ښه)). فرید د جونپور په مدرسه کې د پوهنې په زده کړه بوخت شو، د قاضي ابن حاجب کافیة النحو یې د قاضي شهاب الدین دولت ابادي له شرحې سره په ښه ډول وویله. نورې پوهنې یې هم ولوستلې، ګلستان، بوستان او سکندرنامه او نور کتابونه یې ولوستل. د تاریخونو او تېرو پاچاهانو د خویونو او عاداتونو په باره کې یې ډېر مطالعات وکړل. (۳: ۱۲- ۱۴ مخونه).

**شېرشاه څرنګه واک ته ورسېد؟**

فرید (شېرشاه) د یو څه وخت لپاره په ساسرام (sasaram) کې د خپل پلار په چوپړ کې و او زده کړې یې وکړې. له هغه وروسته اګرې ته راغی او د سلطان ابراهیم لودي د یو امیر، دولت خان لودي سره نوکر شو او د خپل پلار حسن خان له مړینې وروسته د سلطان ابراهیم لودي له خوا د پلار پر جاګیر باندې وټاکل شو او ساسرام ته راغی. د فرید پوځي ژوند له همدې نېټې پیلېږي. کله چې بابر په ۱۵۲٦م. (۹۳۲هـ .) کال پر سلطان ابراهیم لودي باندې بریالی شو، فرید د بېهار ولایت د واکمن بهار خان نوحاني په خدمت کې شامل شو او د دریا خان نوحاني زوی- بهار نوحاني له سلطان ابراهیم لودي وروسته د ځان لپاره د سلطان محمد لقب غوره کړ او په بېهار کې یې خپلواکه واکمني چلوله.

فرید چې د ښکار په ترڅ کې شېر یا زمری په ګوښی ځان وواژه د سلطان محمد له خوا یې د شېرخان لقب تر لاسه کړ. شېر خان د سلطان محمد سره د خدمت په دوره کې پر خپل بنګالي سیال او د جونډ پر حاکم- محمد خان باندې بریالی شو. دغه راز شېرخان د کړه مانګپور له مغولي حکمران جنید برلاس سره لیکنۍ دوستانه اړیکې ټینګې او د بابر دربار ته راغی او له نږدې یې د کورګاني دربار وضعیت ولېده او په دې یې عقیده راغله چې له هند څخه د بابر شړل یو اسان کار دی، خو که چېرې دی وکولای شي چې افغانان سره متحد او متفق کړي، نو بیا به په هر اړخیزه توګه پر مغولو حاکمیت وومي. شېرخان د همدغه پلان په موخه د بابر دربار ترک کړ او بېرته د بېهار له واکمن سلطان محمد خان نوحاني سره یوځای شو او له هغې وروسته د ده ځواک مخ پر زیاتیدو شو. ده له نورو افغانانو سره یو ځای د بابر له نیواکګرو پوځونو څخه جونپور ونیو او بنګال هم تر لکهنو پورې د افغانانو په لاس کې ولوېد. (۸: ۵۵ مخ)

عبدالله په خپل اثر ((داودي تاریخ)) کې لیکي: کله چې شېرخان د بابر پر ناسم نیت باندې پوه شو، نو په هماغه شپه له لښکر څخه وتښتید او له سلطان محمد خان نوحاني سره بیا یو ځای شو او هغه د خپل زوی جلال خان د ښوونکي په توګه وټاکه. د تقدیر په غوښتنه سلطان محمد خان او د هغه زوی جلال خان لږ موده وروسته مړه شول او شېرخان له هغوی وروسته د ټول بېهار واکمن شو. (۷: ۱۸۹- ۱۹۰) د دې نه پس شېرخان د چنار سیمه ونیوه او ډېر زیات مال او دولت په لاس ورغلل او په دې سره د شېرخان دریځ نور هم غښتلی شو. که څه هم شېرخان د بېهار خود مختار حاکم شو، خو په دغو ورځو کې د سلطان سکندر زوی محمود لودي چې په پاني پت کې له بابر سره جنګېدلی او له ماتې وروسته راناسانګا ته ورتښتېدلی و، د راناسانګا او لودي امیرانو له خوا د بادشاه په توګه اعلان شو. محمود لودي او افغان امیران بېهار ته راغلل او له شېرخان څخه یې د بېهار د پرېښودلو غوښتنه وکړه. شېرخان پوه شو چې افغانان د محمود لودي په مقابله کې د ده مرسته نه کوي او نو ځکه یې په یوه

شرط بېهار محمود لودي ته ور پرېښود چې د جونپور له نیولو وروسته به بېهار دوباره شېرخان ته پرېږدي. له دې خبرو او ژمنو وروسته محمود لودي په بېهار کې بادشاه شو او شېرخان خپل جاګیر ته راغی. په همدغه کال (۱۵۳۰م.) بابر شاه په حق ورسېد او همایون د هغه پر ځای وټاکل شو. محمود لودي که څه هم جونپور له همایون څخه ونیو، خو شېرخان ته یې بېهار د کړې ژمنې سره سم دوباره ونه سپاره. له همدې امله و چې شېرخان د لکهنو په جګړه کې له محمود لودي څخه جدي ملاتړ ونه کړ او د همایون په وړاندې له ماتې وروسته پټنې ته وتښتېد او څه موده وروسته په ۹۴۹هـ . کال وفات شو. شېرخان د چنار کلا ته ولاړ او همایون اګرې ته ستون شو. همایون چې په چنارکلا کې د شېرخان له پلانونو خبر شو، نو سملاسي د هغه مقابلې ته روان شو، خو شېرخان چې د ده د مقابلې توان نه درلود د هغه په وړاندې یې له سیاسي چل څخه  کار واخیست او هغه ته یې د یوه پیغام په ترڅ کې ولیکل: که چېرې بادشاه ماته د چنارکلا را پرېږدي، نو زه به خپل پوځ د خپل زوی قطب خان په مشرۍ د بادشاه مرستې ته ولېږم. همایون چې دغه مهال د ګجرات له والي بهادرشاه سره په لانجه بوخت و د شېرخان سره یې روغه وکړه. شېرخان د وخت نه په ګټې اخیستنې سره یو ځل بیا بېهار په بشپړه توګه ونیو او هم د افغاني امیرانو په راغونډولو بریالی شو او د افغان واکمنۍ په بیا احیا کې نور هم سرګرم شو. (۹: ۴۲۵- ۴۲۸)

همایون غوښتل چې د سلطان بهادر ګجراتي سره خبره یو طرفه کړي، ځکه یې له شېرخان سره روغه جوړه ومنله او د شېر خان څخه یې لاس واخیست. تر هغه چې همایون د سلطان بهادر سره بوخت و، شېرشاه پرخپلو سیالانو بریالی شو او خپل ملاتړي یې زیات کړل، د کافي خزانې څښتن شو او ورو ورو یې له ځانه خپله وړتیا وښودله او د مشر په توګه یې د هند د افغانانو پاملرنه ځان ته واړوله او د سلطان بهادر له مړینې وروسته د هغه ټول امیران له شېرخان سره یو ځای شول، په ځواک کې یې زیاتوالی راغی او له دې وروسته افغان مشرانو د رهبر په توګه ومانه. شېرخان په ۱۵۳۵م. کې د ټول شمالي بېهار حکمران و

او په ۱۵۳۷م. کې يې پټنه ونيوه او پر جنوبي بېهار هم واکمن شو. له هغه وروسته يې گور (Gaur) هم په لاس راوړ او پر بنگال يې قبضه ټينگه کړه او د ۱۵۳۷م. کال په پای کې يو ځل بيا همايون د شېرخان پر ضدرا ولاړ شو، خو اوس شېرخان په هغه دريغ کې نه و کوم چې پنځه کاله وړاندې له همايون سره مخ شوی و او همايون د هغه پر ظاهري روغه جوړه بسنه وکړه، بلکې دغه ځيرک افغان قوماندان پر کورگاني بادشاه باندې پر خپل بري باور درلود. په دې ډول د شېرخان او همايون ترمنځ مقابله پېل شوه چې په نتيجه کې يې سوري امپراتوري رامنځ ته شوه.

**۱- د چوساجگړه (۲٦ جون ۱۵۳۹م.):**

همايون په ۱۵۳۹م. کې پرېکړه وکړه چې له شېرشاه څخه بنگال ونيسي په همدې موخه د گنگاسيند پر غاړه د چوسا ډگر ته ورسېد د سيند نه د رابېل شوي نهر په بله غاړه د شېرشاه له پوځونو سره مخامخ شو او له يوې سختې جگړې وروسته همايون د جگړې له ډگره وتښتېد او د گنگاسيند ته يې ځان ور واچاوه او د يو سقاو په مرسته يې په سيند کې له غرقيدو ځان وژغوره او د هغه لوی اميران، لکه محمد زمان ميرزا، مولانا محمد پرگاري، مولانا قاسم علي صدر او نور ډېر په گنگا کې غرق شول او کابو اووه يا اته زره ډېر جنگيالي او لايق عسکريې ووژل شول. د همايون ملکه، حاجي بېگم د افغانانو له خوا اسيره شوه، خو شېرشاه د هغې په وړاندې له ډېر احترام او ښه چلند څخه کار واخيست او لارښوونه يې وکړه چې د مغولي مېرمنو سره د اسيرې په توگه چلند ونه شي، بلکې ټولې د ملکې کمپ ته راوستل شي. د همايون ملکه په ډېر احترام سره د حسام خان نيراک په بدرگه اگرې ته واستول شوه. (۸: ٦۵- ٦۸ مخونه)

شېرشاه د همدغه بري په پايله کې پر ټول بېهار، بنگال او د هغه پر لوېديځو سيمو تر قنوج پورې واک ټينگ او په رسمي توگه يې پادشاهي اعلان کړه، په خپل نامه يې سکه ووهله او د سوبې فرمانونه يې هرې خوا ته ولېږل. (۸: ۷۱مخ)

اقتدار حسين صديقي په خپل اثر (شېرشاه سوري تاريخ) کې وايي چې د شېرشاه د ۱۵۳۵م. کال يوه سکه په عليگړ کې د مولانا آزاد په کتابتون کې موندل شوې. دغه سکه په هند کې د همايون د پاچاهۍ پر مهال وهل شوې ده. دا هغه وخت و چې شېرشاه د بيهار حکومت تر لاسه کړی و. دغه راز د شېرشاه د ۱۵۳۸م. کال سکې هم موندل شوې دي چې شېرشاه د (گړه) له نيولو وروسته وهلي دي. د ده د واکمنۍ دوره پنځه کاله وه، خو که د بيهار د تاج پوشۍ او حکومت دوره ورسره يو ځای شي، نو لس کاله د پاچا په توگه او لس کاله يې د امير او يا والي په توگه حکومت کړی دی. (۱۴: ۵۶۰- ۵۶۱ مخونه) خو بايد ووايم چې د ۱۵۳۹م. څخه وړاندې شېرشاه د ټول هندوستان واکمن نه و او يواځې د هند پر يوه برخه يې حکومت درلود، همداسې محلي حکومتونه د بابر او همايون د واکمنۍ پر مهال موجود وو.

**۲- د قنوج په جگړه کې د همايون ورستۍ ماتې:**

همايون د چوسا له ماتې وروسته اگرې ته ولاړ او يو ځل بيا يې د شېرشاه پرضد خپل پوځونه منظم کړل او د ۱۵۴۰م. کال په جنوري کې د قنوج په ډگر کې له شېرشاه سره وجنگېده، خو ډېره لويه ماتې يې وخوړه او څلوېښت زره عسکر يې پرته له غلامانو ووژل شول. د همايون له زرو خدمتگارانو څخه يوازې اته تنه ژوندي پاتې شول. (۸: ۷۲، ۸۰ مخونه)

په دې ډول افغانانو د شېرشاه په مشرۍ د بابر له زوی همايون څخه د پاني پت د جگړې (۱۵۲٦م.) غچ واخيست او په هند کې يې د افغانانو امپراتوري يو ځل بيا احيا کړه او له دې فتحې وروسته يې قنوج د شېرگره په نامه ونوماوه. همايون د لاهور او سند له لارې ايران ته پناه يوړوه. بايد ووايم، لکه څرنگه چې افغانانو د بابر په وړاندې د نفاق په وجه ماتې خوړلې وه او همدارنگه همايون د خپلو وروڼو- هندال او کامران د مخالفت او د شېرشاه د مدبرې رهبرۍ له امله په ماتې محکوم او له هند څخه وشړل شو.

## شېرشاه سوري او دولتداري (۱۵۳۹- ۱۵۴۵)

د هندي لیکوال، شرما په قول، کله چې افغان شېرشاه سوري مغولي همایون ته ماتې ورکړه او همایون ژوندی وتښتېد، نو له هغه وروسته دې نومیالي افغان ټول افغاني مشران ځان ته راوغوښتل او هغوی ته یې وویل:

((ما د لوی څښتن په مرسته او عنایت او ستاسو افغانانو د مېړانې په برکت مغول له هندوستانه وشړل او حکومت اوس د افغانانو لاس ته ورغلی دی، دا دی زه دا اقتدار ستاسو په وړاندې ږدم او هیله لرم چې د دې اقتدار د ښه سمبالښت لپاره په خپله خوښه او اراده یو مشر وټاکئ.)) (۵: ۱۱۸مخ)

شرما وړاندې زیاتوي: ((سره له دې چې دشېرشاه افغان د پورتنۍ وینا په اورېدلو افغانانو په یو اتفاق هغه بیا د خپل مشر او واکمن په توګه وټاکلو او نوموړی د سلطان العادل شېرشاه سوري په نوم پر تخت کېښېناست، خو دا په حقیقت کې د هغه یو خورا دموکراتیک اقدام و چې د لومړي ځل لپاره ولیدل شو او دا د شېرشاه د لوی والي یوه مثال دی.)) (۵: ۱۱۸).

هندي لیکوال، ډاکټر محمد عبدالرحیم ورته نظر لري او لیکي: ((له دې امله چې شېرشاه د مشرتابه کوم ممیزات درلودل او کوم خدمتونه یې افغانانو ته کړي وو د قومي مشرانو په یوه لویه غونډه کې د عیسی خان سرواڼي له خوا د ده د ټولواکۍ وړاندیز وشو. میابابېن (Babin) لودي او نورو مشرانو د رایو په یو والي دغه وړاندیز ومانه او شېرشاه خپله مننه په دې الفاظو کې داسې ښکاره کړه: ((شاهي یو لوی مقام دی او له رېړونو او ستونزو څخه خالي نه دی، خو څرنګه چې زما دوستان غواړي، ما پاچا وټاکي، نو زه موافقه لرم)). (۱۰: ۵۴-۵۵ مخونه)

له پورته څرګندونو ښکاري چې شېرشاه د قومي مشرانو له خوا ټاکل شوی دی.دغه راز شېرشاه په ۱۵۴۵م.کال خپل مشر زوی عادل خان خپل ځای ناستی ټاکلی و، خو قومي مشرانو د ده دویم زوی اسلام شاه د بادشاه په توګه غوره او انتخاب کړ.

سکندرخان سور کله چې په ۱۵۵۴م. کال پادشاهۍ ته ورسېد، نو مشرانو ته يې د يوې وينا په ترڅ کې داسې وويل: ((زه ځان له تاسو څخه ګڼم، زه پرتاسو باندې د لوړتيا او غورتيا ادعانه کوم، که تاسو فکر کوئ چې زه د حکومت لپاره وړ نه يم، پرېږدي چې ستاسو له ډلې نه يو غښتلی او وړ سړی وټاکل شي، زه به هم هغه ته د منښې ژبه وکړم.)) (۱۰: ۵۵ مخ)

له پورته څرګندونو ښکاري چې د سوريانو د واکمنۍ په دوره کې قومي مشرانو په سياسي مسايلو او د پاچا په ټاکلو کې لوی لاس درلود او يا دا چې ويلی شو چې په هندوستان کې د سوري افغانانو واکمني د قومي مشرانو يوه داسې اوليګارشی وه چې په سر کې يې پاچا ناست و. قومي مشرانو ټولواک له ځان سره يو برابر مشرګاڼه او د جګړې پر وخت  يې د يوه لارښوونکی په توګه ورته کتل. ډاکټر تريپاتی ليکي چې د افغانانو ټولواکي له ټبرونو جوړه شوې يوه کانفدراسي وه چې پاچا به يې په سر کې و.(۱۰: ۵٦ مخ)

په خپله د شېرشاه معقوليت، هوښيارۍ او وړ شرايط سبب شول چې دی تر بهلول لودي يو غښتلې او پياوړې ټولواکي رامنځ ته کړي، دا د ده له کارنامو څخه پوره څرګندېږي. دی په ځينو سيمو کې د خليفت الزمان په نامه يادشوی دی او له دې ښکاري چې شېرشاه ان په نظر کې هم د اسلامي خليفه تابع نه و. د خليفة الزمان لقب غوره کول دا معنی درلوده چې شېرشاه غوښتل د بهلول لودي د عنعنې له مخې بايد هسې يو تن افغاني پاچا ونه ګڼل شي. موږ د شېرشاه په اداري سيستم او پاليسي کې وينو چې د پرګنې او سرکار په اداره کې مالياتي چارو او د عسکرو په تنظيم او د نورو موسساتو  په سمونه او سمون کې يې څه کړي دي هغه دا راښيي چې ده غوښتل يوه متمرکزه اداره چې سمه دمه د پاچا تر کنترول لاندې وي، رامنځ ته کړي، خو شېرشاه بيا هم له ډېر احتياط څخه کاروا‌خيست او په هغه ځای کې چې زغم ته اړتيا وه ويې کړاو د افغاني مشرانو احساسات يې په پام کې ونيول. همدا دليل و چې هېڅ يوه

داسې پېښه رامنځ ته نه شوه چې دی له خپلو قومي مشرانو سره په جنګ واچوي. (۱۰: ٦۰- ٦۱ مخونه)

د شېرشاه سوري په حکومت کې دغه لاندې وزارتونه یا دیوانونه شامل وو:

۱- د قضأ دیوان:

د دې اداري په سرکې ستر قاضي یا قاضي القضات قرار درلود او له شېرشاه وروسته دوهم واکمن و. شېرشاه هېڅکله هم د قضأ دیوان په چارو او اجرآتو کې لاس وهنه نه کوله.

۲- دیوان وزارت (مالیې وزیر)

۳- دیوان عارض (وزارت دفاع او په سر کې وزیر یې د عارض ممالک په نامه یادېده)

۴- دیوان رسالت (د مذهبي چارو وزارت، وزیر یې صدر صدورو چې مذهبي او خیریه چارې یې رهبري کولې)

۵- دیوان انشأ (د منشیانو اداره چې د واکمن لارښوونې، فرمانونه، حکمنامې او قوانین یې ملکي او پوځي ادارو ته رسول)

٦- دیوان برید(د ځمکو د جریب کولو اداره). (۵: ۱۲۳- ۱۲۴ مخونه)

شېرشاه د ښې او ګټورې دولتدارۍ او د حکومتي نظام د اصلاح په موخه د هندوستان لوی هېواد په بېلابېلو ولایتونو او بیا هر ولایت یې په پرګنو او کلیو باندې ووېشه. په هر اداري واحد کې یې یو پوځي مشاور، یو خزانه دار، یو قاضي او دوه محاسبان ټاکلي وو او په دري او هندي ژبو یې اجرآات کول. (۵: ۱۲۴مخ)

عبدالله لیکي: چې شېرشاه د خپلې واکمنۍ په قلمرو کې یو لک او دیارلس پرګنې تر واک لاندې راوستي وې. په هره پرګنه کې یو شقدار (لوی مامور)، دوه تنه لیکوونکي، چې یو به په پارسي او بل به په هندي لیکل کول، یو تن خزانه دار په کار بوخت وو. دغه راز د پرګنو د امنیت د تامین او د کلاوو د ساتنې لپاره یو لک او دېرش زره پوځ په کار ګمارل شوی و. (۷: ۲۱۱مخ)

شېرشاه له شک پرته یو ازمویل شوی او با استعداده اداره چي و. هغه د دربار له ښو ادابو، اخلاقو، اړیکو او تنظیم سره زیاته مینه درلوده، هر ورځ به چې دربار ته راته د امپراتورۍ د مشرانو د غونډې غړی مجبور وو چې له خپلو سپرو عسکرو سره د احترام د ادا کولو په موخه حاضر شي، سپرو به په داسې حال کې چې پوځي جامې او زري جالۍ به یې په تن وې، کښلي تورې په لاس او د رتبې او موقعیت په پام کې نیولو سره د شېرشاه په وړاندې تېرېدل. دغه تشریفات هر وخت او حتی د جگړې پر مهال هم عملي کېدل، په همدې منظور د مرکز مشرانو هر سهار تیاری نیو او کله به چې د شېرشاه چتر را څرگند شو د هغه په لوري به وخوځېدل. د مالوې گوښه شوي حکمران ملوخان د سپرو او اشرافو د ښکلو پوځي جامو (یونیفورم) او ځلېدونکو تورو او نیزو تر دومره اغېز لاندې راغی چې ان ځان یې د شېرشاه د چوپړ جوگه ونه گڼلو او د هغه له درباره وتښتېد. (۴: ۱۲۴مخ)

پوځي ځواک ښودل او د دولتدارۍ په برخه کې د شېرشاه فوق العاده صلاحیت د هغه په سلطنت پورې اړوند و او د هند د پخوانیو عنعنو او د عصر د غوښتنو څخه یې الهام اخیست، لکه چې د عصر غوښتنه وه چې سلسله مراتب، اطاعت، نظم اودسپلین په اداري چارو کې رامنځ ته او رعایت شي. که په لنډ ډول ووایم شېرشاه سوري داسې یو دولت جوړ کړ چې پر اشرافو او اشرافیت باندې یې لوړتیا درلوده. د اشرافو سرغړونه که د دوی د وژنې لامل نه گرځېده، خو حد اقل د دوی مقام اومنزلت یې راټیټوه. شېرشاه یو مطلق العنان پادشاه و. (۴: ۱۰۸ مخ)

یو بل هندي لیکوال، ډاکټر عبدلرحیم هم ورته نظر لري او لیکي: (( موږ د شېرشاه په اداري سیستم او پالیسي کې، د پرگنې او سرکار په اداره، مالیاتي چارو، د عسکرو په تنظیم او د نورو موسساتو په سمونه او سمون کې کړنې وینو او دا راښیي چې ده غوښتل یوه متمرکزه اداره چې سمه دمه د پاچا تر کنټرول لاندې وي رامنځ ته کړي، خو ده په دې برخه کې په ډېر احتیاط سره کار وکړ. (۱۰: ٦۰- ٦۱ مخونه)

ولې شېرشاه سوري متمرکزه اداره غوښته؟ دليل يې دا و چې شېرشاه د لودي واکمنۍ په دوران کې زېږېدلی او لوی شوی و او د لودي واکمنو د برياوو او ناکاميو په لاملونو ښه پوهېده او لکه چې په خپله وايي: د سلطان بهلول لودي پرمهال چې افغانان سره متفق شول، بيا د هېچا په وړاندې له ماتې سره مخامخ نه شول او دومره پياوړي شول چې په هره خوا کې بری د دوی په برخه کېده او افغانان د يو بريالي ټبر په نوم مشهور شول، خو کله چې هماغه بريالي افغانان د سلطان ابراهيم لودي پر مهال سره بې اتفاقه شول، نو په نتيجه کې کمزوري او له ماتې سره مخ شول. (۳: ۱۸۸- ۱۸۹ مخونه) بې له شکه بابرشاه د پنجاب د والي، دولت خان لودي او د عالم خان لودي په بلنه او مرسته ډهلي ته ورسېد او په ډهلي کې يې افغان سلطنت له منځه يو وړ. شېرشاه دغه راز د سلطان ابراهيم پر ضد د ولاياتو د اميرانو بغاوت په خپلو سترگو ليدلی وو، نو ځکه هغه له لومړي سره ولايتي اميران تر خپل کنټرول لاندې وساتل او د دوی واک يې دسلسله مراتبو د قواعدو پر بنسټ محدود کړ، لارښوونه يې ورته کوله او د دوی د اجرآ اتو جاج يې په خپله اخيست.

که څه هم شېرشاه يو مطلق العنان سلطان و، خو د دولتدارۍ طريقې او لارې چارې يې د عدالت او انصاف پر بنسټ ولاړې وې، لکه چې په دې اړه عبدالله ليکي: شېرشاه عادل او پوه پاچا و، دی د هوښيارۍ او تدبير خاوند و، د واکمنۍ په چارو کې يې سارى نه درلود، خپل ټول وخت يې د خلکو د کارونو په تر سره کولو کې تېراوه، د رعيت د احوال نه خبرېدل يې پر ځان واجب گڼل او په نيا او عدل يې ډېر ټينگار کاوه. (۷: ۲۰۵- ۲۰۶ مخونه)

شېر شاه ويل، چې عدل په ټولو دينونو کې شته. د کوم پاچا د عدل سيوری چې د رعيت له سرونو لرې شي، گډ ژوند او يو د بل سره مرسته کول له منځه ځي، زور ور پر کمزورو خلکو باندې ظلم او تېری پيل کوي چې نتيجه يې په حقيقت کې د ملک او د دولت غورځېدل دي. (۳: ۲۴۹مخ)

شېر شاه وايي، کوم دولت چې زما لاس ته راغی سبب يې د تېر دولت د ارکانو له خوا د رشوت اخيستل وو، پاچا ته رشوت اخيستونکی استازي يا وزيران مناسب نه دي، ځکه چې رشوت اخيستونکی له رشوت ورکونکي ډېر کمزوری دی او کمزوری کس د وزارت لپاره هېڅ وړ نه دی. (۳: ۲۵۰ مخ)

هندي ليکوال، پروفيسور ډاکټر قانونگو ليکي: ((شېرشاه سوري د وينو توېدلو او بې رحمی يا قساوت ډېر کلک مخالف و او تر خپله وسه يې له جگړې ډډه کوله....))(۱۱: ۶۰۳مخ) همدغه ډول د ((کبمريج هسټري آف انډيا)) په نظر شېرشاه سوري تر ټولو لوی پاچا و او د ډهلي تخت يې ساری نه لري. د شېرشاه واکمني پنځه کاله وه، خو په دغو پنځو کلونو کې يې د ادارې، امنيت، آباديو او د عدالتي نظام د ژوندي روح له امله يوه داسې دوره وه چې د هند تاريخ يې هېڅکله نه شي هېرولی. دی د ملي او شخصي ښېگڼو له امله د يوه ځلانده ستوري په څېر د هند په اسمان کې ځلېږي. (۱۱: ۶۰۹مخ) هندي ليکوال، ياسين ليکي، چې شېرشاه خپل زوی اسلام شاه ته د عدالت او انصاف پر بنسټ ولاړه واکمني پرېښوده. که څه هم شېرشاه د مطلق اختيار خاوند و، خو بيايې هم د مهمو مسايلو په حل کې تل له خپلو افغاني مشرانو سره مشوره کوله. (۵: ۱۳۳- ۱۳۴ مخونه)

د شېر شاه د دولتداری يوه غوره برخه د منظم پوځ جوړول او په هغه کې د نويو اصلاحاتو راوستل وو. شېرشاه سوري د کورگانيانو د مخنيوي او په هند کې د افغانانو د واک د ټينگولو ، ساتلو او د عمومي امنيت او نظم د راوستو په موخه يو قوي منظم پوځ جوړ کړ چې ۱۵۰۰۰۰ سپاره او ۲۵۰۰۰ پلي عسکر په کې شامل وو. د پوځي سفرونو پرمهال پر دغه پوځ باندې د محلي حکمرانانو عسکر هم ور زياتيدل.

هغه دغه راز د دولتي آسانو د داغ کولو سيستم چې د علاألدين غلجي له وخته په هند کې مروج و بيا احيا کړ او د هغه سره سم يې د دولتي آسانو د داغ

او نشاني کولو د فترونه جوړ کړل او د تفتیش پر مهال به د سربازانو او آسانو له دفتر سره سر ورکول کېده، دې سیستم هر ډول تقلب له منځه یووړ.

افسرانو ته د حقوقو په بدل کې د جاګیر ورکول یې هم لغوه کړ او پر ځای یې هغوی ته له دولتي خزانې څخه نغدې پیسې مقررې کړې، ځکه د جاګیر سیستم د مرکزي ادارې په وړاندې ستونزې جوړولې. افسران له یو کال نه زیات په یوه سیمه کې نه شول پاتې کېدای، هغوی یې بلې سیمې او ولایت ته بدلول.

بل مهم کار یې په نظامي برخه کې دا و چې په ستراتیژیکو او مختلفو سیمو کې یې کلکې کلاوې جوړې کړې څو په هېواد کې په اسانۍ سره امنیت تأمین کړي.

شېرشاه په پوځ کې کلک نظم او دسپلین رواج کړل، سربازانو او افسرانو ته یې د دوی د وړتیا پربنسټ وظیفه ورکوله، هېڅ افسر د سرباز حقوق خوړلی نه شول، هغه په جدي توګه د سربازانو له احوال څخه ځان خبراوه، هر کال یې د پوځ لوی افسران ځان ته منل، نوې رتبې یې د پوځیانو لپاره رامنځ ته کړې، د سربازانو په مقررولو کې یې بدلون راوست. (۸: ۹۰- ۹۱ مخون)

د دې لپاره چې د هېواد له چارو څخه پر وخت خبر شي او څارنه ترې وکړي د جاسوسۍ یو فعال سیستم یې رامنځ ته کړ او په دې موخه یې په ټولو ښارونو، ولایتونو او کلیو کې جاسوسان په کار وګمارل. ولایات او ښارونه چې د لویو لارو په وسیله له مرکز سره تړل شوي وو، د جاسوسۍ سازمان غړو په اسانۍ او چټکتیا سره د مشرانو د فعالیتونو په اړه لازم اطلاعات شېرشاه ته رسول. (۴: ۱۲۵مخ)

د شېرشاه د دولتدارۍ یوه بله غوره او مهمه برخه اقتصادي سیاست و. هغه د اقتصادي راکړې ورکړې، ودې او پرمختیا په موخه نوې سکه رواج کړه. دغه سکه له سوچه طلا څخه نه یوازې جوړه شوه، بلکې له عربي ژبې څخه یې په دري او یوناګري ژبو واړوله، تر څو مسلمانان او هندوان دواړه ورباندې پوه شي او په چلند کې کوم مشکل ونهویني. د شېرشاه د سکې سیستم نه یواځې د

مغلو په دوران کې عملي و، بلکې د انګریزانو پر مهال تر ۱۸۳۵م. پورې د چلند او ګټې وړ و. (۵: ۱۲۱- ۱۲۸مخونه)

شېرشاه د مالیې د تر لاسه کولو او د هېواد د ودانولو لپاره داسې یو قانون وضعه کړی و چې په هره پرګنه کې یو کوتوال، یو تن امین، یو فوته دار (خزانه دار) د دري او هندي ژبو دوه کاتبان په کارګمارل شوي وو. د شېرشاه حکم داو، چې ځمکې دې کال په کال جریب شي او د جریب له مخې دې مالیه ټوله کړي، څو مقدم او نور مامورین پر رعیت باندې زور زیاتی ونه کړي. دغه مامورین یې تر یوه یا دوه کاله وروسته بدلول او پر ځای یې نوي مامورین ټاکل. دغه راز شېرشاه په خپل ټول هېواد کې له سوداګرو څخه زکات اخیست، چې په دې کار سره هم د دولت خزانه ډکېده. (۷: ۳۳۱- ۳۴۰ مخونه.) په شېرشاهي تاریخ کې راغلي، چې په ټول هېواد کې له سوداګرو څخه په دوو ځایونو کې زکات اخیستل کېده، کوم سوداګر چې له بنګاله را تلل په تهري کې به یې زکات ورکاوه او چې د خراسان څخه به راتلل د خپل هېواد په کوم ځای کې یې زکات ترې اخیست. (۳: ۲۶۹ مخ)

د جریب وهلو په سیستم کې سروې او مساحت او د کروندګرو د ځمکو د ملکیت اندازې ساتل هم شامل و. د مختلفو سیمو ځمکې په دریو درجو وېشل کېدې، لکه ښې، منځنۍ او بدې ځمکې او د هغوی څرنګوالی به ثبت کړای شو او د ځمکو د دغو دریو درجو د حاصل متوسطه اندازه د هرې غلې لپاره و اټکل شوه او د متوسطې اندازې له ټول حاصل څخه یو په څلور برخه د دولت لپاره وټاکل شوه. (۱۰: ۱۱۱- ۱۱۳مخونه)

شېرشاه د مالیاتو او عوایدو په سیستم کې تر ټولو لومړی بدلون چې راوست، هغه دا و چې په بېلابېلو سیمو کې یې د ګمارل شویو مشرانو واک و استقلالیت محدود او د راغونډولو یوه واحد سیستم ته یې اړ ایستل او هم یې د دهقانانو سره د زور زیاتي او شکنجه کولو دود پای ته ورسوه، ځکه شېرشاه دهقانانو ته د امپراتورۍ د آبادۍ او سمسورتیا د غوره څواک په توګه کتل، هغه وخت د هند

اقتصاد پرکرنه ولاړ و، خو څمکه والو چې د خپلو محصولاتو مالیه یې نه ورکوله، د دولت له خوا په زور اړ ایستل کېدل. (۴: ۲۲۳- ۲۲۴ مخونه)

د افغان شېرشاه سوري په وخت کې د مالیاتو کار دومره منظم او مرتب و چې پخوایې چا مثال نه ولیدلی، تقریباً یو لک او دیارلس کلي د مالیې تر سیستم لاندې وو. دغه کار د ولس د اقتصادي حالت د ښه کېدو او د حکومت د مالي بنسټ د زیات ټینګېدلو سبب شوی و. (۵: ۱۲۱مخ)

د شېرشاه د دولتداری یو بل مهم کار داو، چې هغه په هېواد کې د اقتصادي پرمختیا، سوداګرۍ، د ډاډمن امنیت او له مرکز سره د بېلابېلو سیمو، کلیو او ښارونو د نښلولو په موخه ډېرې مهمې لویې لارې او سرکونه جوړ کړل. د بېلګې په توګه د بنګال له (سونارګاون) څخه تر (اباسین) پورې د سرک جوړول چې (۵۰۰) کروه اوږدوالی یې درلود. د اګرې څخه تر برهانپور او د اګرې څخه تر بیانه او چتوړ پورې، د لاهور نه تر ملتان پورې سرکونه د یادونې وړ دي. شېرشاه سوري د بنګال او اباسین ترمنځ سرک باندې ۲۵۰۰ سرایونه جوړ کړل، له هرې کروه څخه وروسته یو سرای آباد او هم د سرک پر دواړو غاړو مېوه لرونکې ونې اېښودل شوې وې چې مسافرو به د هغوی له سیوري او مېوو څخه ګټه اخیستله. حتی انګرېزانو د خپلې امپراتورۍ پر مهال د بنګال او اټک (اباسین) ترمنځ سرک چې ۱۵۰۰ کیلو متره اوږد و دوباره ترمیم او جوړ کړ او لارډ دلهوزی د هند ګورنر جنرال د خپل حکومت جرړې پرې ټینګې کړې. حتی دا هم ویل کېږي چې د شېرشاه افغان د مالیې، مخابراتو، پوځي نظام او امنیت سیستم په ډېر لږ توپیر سره د انګرېزانو د امپراتورۍ تر ړنګېدو پورې د استفادې وړ و او پر هغو عمل روان و. (۵: ۱۱۹، ۱۲۷ – ۱۲۸ مخونه)

د شېرشاه ددولتدارۍ یو بل نوښت د پوستې او خبرونو د راکړې ورکړې په برخه کې ډېر نوی او ګټور و. څکه د شېرشاه په زمانه کې برق، تیلیفون، مطبعه، راډیو، ریل، موټر او داسې نور د لېږد وسایل نه وو چې د هغوی په واسطه پوسته د یوه ځای څخه بل ځای ته ورسوي. د دولت د انتظام او ټینګتیا او د ښې

دولتدرۍ د پلي کولو لپاره د مرکز، ولايتونو او د ولسواليو ترمنځ د اړيکو ساتل يو ضروري او ګټور کار و. له همدې امله شېرشاه د لويو لارو پر سر په جوړو شويو سرايونو کې د پوستې او خبرونو د لېږد په موخه د ټاکليو ځايونو غوره بند وبست وکړ. هلته به دوه سواره تيار ولاړ وو. سربېره پر دې ۳۵۰۰ په اسونو سواره کسان يې د همدغه کار لپاره خاص ټاکلي وو. د دغو سوارو يوازينی کار همدا د پوستې او خبرونو رسول وو. د مسلمانانو پاچاهانو په لړ کې شېرشاه سوري لومړنی پاچا دی چې د سوارو په واسطه يې د پوستې او خبرونو د رسولو سلسله جاري کړه. (٦: ۷۷- ۷۸ مخونه)

شېرخان سوري د غلو، لارو وهونکو او قاتلينو د له منځه وړلو او د لارو د ساتنې او عمومي امنيت د تامينولو په موخه يو شمېر قوانين وضعه کړل او په دغو قوانينو کې حکم شوی و، که چېرې لوټماران او قاتلين په يوه سيمه، کلي او ښار کې غله او يا قتل وکړي او وتښتي، نو د هغوی پر ځای به د سيمې، کلي او ښار مشران نيول کېږي او د شريعت سره سمه جزا به ورکول کېږي. يا که کوم د کلي ملک غلو او لار وهونکو ته په خپل کلي کې ځای ورکړي او ويې ساتي او د حاکم نه يې پټ کړي؛ نو بايد هغه ملک ووژل شي، تر څو بيا غلو او لاره وهونکو ته ځوک ځای ورنه کړي. هماغه و چې د شېرخان د واکمنۍ پر مهال د هر ځای او سيمې ملکانو په دغه اړوند مسووليت احساس کړ او له خپلو حدودو څخه به يې څارنه کوله. په دې ډول د وژونکو او غلو د فعاليتونو مخه ونيول شوه او ډېر ژر په ټول هند کې عمومي امنيت تامين شو. (۷: ۳۳۸- ۳۳۹ مخونه)

د شېرشاه د واکمنۍ په دوره کې امنيت تر دې اندازې ټينګ و، چې د ځمکې پرمخ به د طلا ګاڼې پرتې وې چاپې د جګولو جرأت نه شو کولای، غوايي او زمرې په لاره يو ځای سفر کولای شو او له يوې منبع څخه يې اوبه څښلې. ده په خپل دربار کې شيدې له اوبو جلا کولې او په ډېرې پرهيزګارۍ، عدالت

او صميميت سره يې فرمان ورکاوه او د ده په وړاندې کمزوری او غښتلی يو شان و. (۴: ۱۲۲ مخ)

د شېرشاه سوري د دولتدارۍ فرهنګي اړخ هم ډېر عادلانه و. د ده په حکومت کې مسلمان او غير مسلمان يو ډول ګڼون او حقوق درلودل، قومي، ژبني او مذهبي تعصبونو پلوی نه و. همدا دليل و چې پر مسلمانانو او هندوانو يو شان ګران و. هندي ليکوال، عبدالرحيم ليکي: ((ده به هېڅکله د هندوانو په مذهبي مسايلو، دودونو او نورو حقوقو کې لاسوهنه نه کوله، د هندوستان د ټولو مذهبونو له عقيده مندو سره يې مساويانه راشه درشه کوله.)) (۱۰: ۸٦ مخ)

شېر شاه د شعر او شاعرۍ سره ډېره مينه درلوده، د ښه شاعر او شعر ډېره ستاينه به يې کوله. ډېر اخلاقي او غوره مطلب لرونکي اشعار يې په يادوو او د موقع په وخت کې به يې ويل. پوهانو او عالمانو ته يې له دولتي خزانې پيسې او تنخاوې هم ورکولې. (۱۰: ۸۵- ۸٦ مخونه)

د لويو لارو پر سر جوړ شويو سرايونو کې نه يواځې مسلمانانو او هندوانو ته يو شان خواړه او اوبه رسېدل، بلکې د مذهبي مراسمو لپاره امکانات هم برابر شوي وو. هندوانو به د هندوانو او مسلمانانو به د مسلمانانو خدمت کاوه. (۳: ۲٦۲ مخ) د شېرشاه د واکمنۍ پر مهال د پارسي، عربي او هندي ادبياتو د ودې او پرمختيا په لاره کې اوچت ګامونه واخيستل شول، د سوري افغانانو د واکمنۍ پر مهال په سيکو باندې په هندي او دري ژبو رسم الخط يو ځای ليکل شوی دی. (۱۰: ۱۵۸- ۱٦۰ مخونه) په ډهلي کې پورانا کلا او په دې کلا کې دننه هغه جومات چې شېرشاه ودان کړی و، د نقشې او ښکلا له پلوه د افغاني هنر يوه ډېره عالي نمونه ګڼل کېږي. (۱۰: ۱٦۷ مخ)

پښتون شېرشاه پرته له ژبني تعصب څخه ويل: ((پښتو ژبه زما ډېره خوښه ده)) او په پښتو ژبه يې له هغو پښتنو سره چې له افغانستان څخه هند ته ورتلل خبرې کولې، چا به چې په روانه پښتو ژبه ځواب ورکړ، بيا به يې ورته وويل: لينده

وباسه! که لینده به یې په ښه ډول و ایستله، نو هغه ته یې له ټولو زیات معاش ورکاوه. (۳: ۲۵۴ مخ) کارو لیکي، چې شېرشاه په دې ښه پوهېده چې ملي پښتو ژبه پر یووالي او پښونولۍ باندې څومره اغېزه کوي. (۱۳: ۲۲۴ مخ)

شېرشاه افغان په خپل پنځه کلن حکومت کې پر نورو ټولنیزو کارونو سربېره مدرسې او کتابتونونه هم جوړ کړل، علم دوست و په پښتو، دري، عربي او هندي ژبو پوهېده. د نارنول مدرسه او کتابتون د ده په لاس جوړ شول. حتی هندوان یې ښوونې او روزنې ته وهڅول، د دې کار لپاره یې اوقاف ورکړل او اختیار یې د دوی په لاس کې پرېښود. (۵: ۱۳۰- ۱۳۲ مخونه)

نهرو د شېرشاه سوري دولتدارۍ ستایي او لیکي: شېرشاه په خپله پنځه کلنه لنډه دوره کې وښودله، چې یو لایق شخص و او د زیاتې اداري وړتیا په لرلو سره یې یو فعال او اغېزمن دولت جوړ کړ. هغه په جګړو کې له زیاتو بوختیاوو سره سره وکولای شول، چې د ځمکو د مالیاتو یو نوی سیستم د بزګرانو لپاره جوړ او ټینګ کړي، هغه یو جدي او کلک سړی و، خو تر ټولو افغان او هندي واکمنانو څخه چې په هند کې یې حکومت کړی ښه و.)) (۱۲: ٦٥٢، ٦٥٦- ٦٥٧ مخونه)

شېرشاه په توره او مېړانه کې د مغولو سیال و، خو د خپلې نبوغ په پراخوالي کې له دوی څخه مخکې و. ده ډېر قابلیتونه لرل چې په هند کې یې څرګند کړل. په ډهلي کې د ده لرغونې کلا (پورانا کلا) او د هغې په شاوخوا د امنیت خندق او د هغې لپاره یې لویې لویې دروازې جوړول د ده د عظمت نښې دي. د شېرشاه جومات چې د نوموړې کلا په منځ کې جوړ شوی، د ده مینه له اسلام او محمدي دین سره ښیي او د مغولو تر ټولو جوماتونو زیاته لویي یې له ورایه ښکاري. شېرشاه سوري د پښتون قوم او ټولنې یوه داسې مهمه ټوټه ده چې ټولې ټوټې سره نښلوي. تر ده وروسته به دا قوم تل سترګې په لار وي چې د شېرشاه سوري غوندې لارښود یې په برخه شي چې دا ټوټې او پارچې قوم سره پیوند کړي او د پښتون قوم په تاریخ کې ځای ولري. (۱۳: ۲۲۸- ۲۲۹ مخونه)

**نتیجه:**

شېرشاه سوري د افغانستان او هند د تاریخ یو مشترک څېرکی او میراث دی. ده په هند کې یو متمرکز دولت رامنځ ته کړ، خو دغه دولت د هند د ټولو اوسیدونکو یو ګډ دولت و او پرته له تعصبه او تبعیضه د ټولو مسلمانو او غیر مسلمانو په چوپړ کې و. دولتداري یې پر عدالت او انصاف او خلکو ته د خدمت پر بنسټ ولاړه وه. د دولتدارۍ په بېلابېلو برخو کې یې غوره او نوي اصلاحات را وستل چې بې له شکه د هند د پرمختیا او سوکالۍ وړ وګرځېدل.

**ماخذونه:**


۱- ځدراڼ، محمد شریف، د مغولو- تیموریانو واکمني او پښتانه (۱۲۲۱-۱۵۰۷م، د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه، ۱۳۹۴ل.

۲- بیلیو، هانري والټر، د افغانستان د اتنوګرافۍ په باب پلټنه، د محمد انور نومیالي ژباړه، کندهار: د علامه رشاد خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰ل.

۳- سرواني، عباس، شېرشاهي تاریخ، دکتور دولت محمد ژباړه، پښتو ټولنه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۴ل.

۴- صدیقي، اقتدار حسین، سلطنت افغانها د رهند، د پوهاند حمیدالله امین ژباړه، پشاور: وفا، ۱۹۹۰م.

۵- خیبري، غوث، نومیالي افغانان یا د هند په تاریخ او مدنیت کې د افغانانو برخه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦۷ل.

٦- دهلوي، مظهر انصاري، پښتون شېرشاه، د سرمحقق عبدالرحیم ځدران ژباړه، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: آریانا مطبعه، ۱۳٦۹ل.

۷- عبدالله، داودي تاریخ، د عبدالطیف یاد طالبي ژباړه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۵ل.

۸- جلالي، علي احمد، مطالعه تاریخ افغانستان از نګاه عسکري، جلد دوم، مدیریت عمومي نشریات وزارت دفاع ملي، کابل: مطبعه وزارت دفاع، ۱۳۴۷ل.

۹- ظفر کاکاخېل، سید بهادرشاه، پښتانه د تاریخ په رڼاکې، پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي، ۲۰۱۲.
۱۰- ډاکټر محمدعبدالرحیم، په هندوستان کې د افغانانو تاریخ (۱۵۴۵-۱٦۳۱م.)، د پوهاند محمد حسن ضمیر صافي ژباړه، کابل پوهنتون، کابل: د لوړو تحصیلاتو وزارت مطبعه، ۱۳٦۳ل.
۱۱- خیبري، غوث، پښتانه د برهما، زردښت، بودا او اسلام په پېرونو کې، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۲م.
۱۲- نهرو، جواهر لعل، نگاهي بتاریخ جهان، لومړی ټوک، د محمود تفضلي ژباړه، د امیر کبیر مطبوعاتي موسسه، تهران: ۱۳۴۳.
۱۳- کارو، سراولف، پښتانه، د الحاج شېرمحمد کریمي ژباړه، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۸ل.
۱۴- سوبمن، نصرالله، پښتانه په هند کې، لاهور، ملت چاپخونه، ۱۳۸۰ل.

سرمحقق عبدالجبار عابد

# دیدگاه ابن خلدون دربارهٔ علم تاریخ ازمنظر معرفت شناسی

# Ibn Khaldoun's view on the science of history from the point of view of epistemology

***Senior Research Fellow Abdul Jabar Abid***

**Abstract**

Abdur Rahman Ibn Khaldun viewed the science of history from two perspectives: first, as a methodologist, and secondly, as an epistemologist. As a methodologist, with his brilliant insight, he criticized the traditional historiographical method and listed its shortcomings and inaccuracies.

However, in terms of epistemology, Ibn Khaldun gives history a rational and intellectual aspect. For the first time, he tried to enrich history from a philosophical perspective and view individual events in the framework of a philosophical macro-structure. By proposing a critical method in accepting historical news, Ibn Khaldun brings forward the same rational aspect of the philosophical perspective and thus establishes a medium between the two narrative and rational concepts of history and places history on the border between these two methods.

This Khaldun believes that historiography should be based on observation, rational analysis, and criticism. In

addition, he considers history to be a science for understanding the general laws governing societies. Therefore, Ibn Khaldun's epistemology in the science of history is based on a combination of rational, empirical, and critical approaches. By presenting a scientific methodology for the study of history, he transferred this knowledge from the level of mere narrative to the level of theoretical analysis and explanation, and became the founder of historical sociology.

**خلاصه**

عبدالرحمن ابن خلدون، علم تاریخ را از دو دیدگاه می نگریست نخست از دید روش شناس، ثانیاً به مثابهٔ یک معرفت شناس. او درجایگاه یک روش شناس، با بینش نبوغ آمیزش، از اسلوب تاریخ نگاری سنتی انتقاد کرد و کاستی‌ها و نادرستی‌های آن را برشمرد.

اما از لحاظ معرفت شناسی ابن خلدون تاریخ را جنبهٔ تعقلی و خردورزانه می دهد. او برای نخستین بار کوشید تاریخ را از نگرشی فلسفی بارور کند و رویدادهای جزئی را در قالب کلان فلسفی بنگرد. ابن خلدون با طرح روش انتقادی در پذیرش اخبار تاریخی، همان جنبهٔ تعقلی نگرش فلسفی را پیش می کشد و بدین سان میان دو مفهوم نقلی و عقلی تاریخ، وسیلهٔ را بنا می کند و تاریخ را در مرز میان این دو روش قرار می دهد.

این خلدون معتقد است که تاریخ نگاری باید مبتنی بر مشاهده، تحلیل عقلانی و نقد باشد گذشته از آن او تاریخ را دانشی برای فهم قوانین کلی حاکم بر جوامع می داند. پس معرفت شناسی ابن خلدون در علم تاریخ بر اساس ترکیبی از رویکرد عقلانی، تجربی و انتقادی استوار است و با ارائه روش شناسی علمی برای مطالعهٔ تاریخ، این دانش را از سطح روایت صرف به سطح تحلیل و تبیین نظری انتقال داد و پایه گذار جامعه شناسی تاریخی شد.

## مقدمه

عبدالرحمن ابن خلدون(۷۳۲ ـ ۷۸٤ ق / ۱۳۳۲ ـ ۱۳۸۲م) را می توان تاریخ نگار خوب، سیاستمدار، فیلسوف و دانشمندی با اندوخته های علمی عالی دانست. او تمام جوانب علم تاریخ را مطالعه و نظریات ژرف و بدیع و در نهایت بحث انگیزی را درین راستا مطرح نموده است. پژوهش های را که دانشمندان در شرایط فعلی در رابطه به اندیشه و خط فکری ابن خلدون انجام داده اند به این نتیجه رسیده اند که اندیشه و افکار ابن خلدون به عنوان یک مورخ، فیلسوف، تاریخ نگار و جامعه شناس ژرف نگر، در شرایط امروزی بخصوص با افکار بسیاری از دانشمندان در زیادی عرصه های از علوم مطابقت دارد. مقدمهٔ ابن خلدون کتابی است که می تواند هر پژوهشگر را در راستای تحقیق پیرامون نظریات و افکار این مورخ نامدار کمک نماید و زوایای ناگفتهُ او را مورد مطالعه و تحلیل قرار دهد.

یکی از موضوعات که می توان در این اثر نایاب این عالم دریافت همانا چگونگی ابعاد و پیوند فکری ابن خلدون با دانش تاریخ است. بیشترین آثاری را که ابن خلدون دربارهٔ تاریخ مورد مطالعه قرار داده، تنها به جهت های فلسفی این دیدگاه‌ها پرداخته و به فلسفهٔ تاریخ محدود بوده است.

در این مقاله سعی به عمل آمده تا معرفت شناسی ابن خلدون مطالعه و با تمرکز به آن، فلسفهٔ علم تاریخ مورد ارزیابی قرار گیرد که با یافتن نتیجه از آن می توان بخش دیگری از افکار این عالم و متفکر دنیای اسلام را به معرفی گرفت و خدمت علاقمندان مطالعه قرارداد.

## مبرمیت موضوع

ابن‌خلدون متفکری است که به عنوان یکی از بنیانگذاران فلسفه تاریخ و جامعه شناسی شناخته شده است. او به مثابهٔ یک فیلسوف اجتماعی فلسفه تاریخ را از منظر معرفت شناسی به بحث کشیده است. این که علم عمران چیست و چه پیوند با علم تاریخ دارد؟ ازدید معرفت شناسانه به این سوالات معلومات مفید

ارائه داشته است. بناءً بررسی همچو نظریات، مبرمیت موضوع را تشکیل می دهد.

**هدف موضوع**

هدف از موضوع، شناساندن این متفکر جهان اسلام و دیدگاه معرفت شناسانۀ او در جامعه است. گرچه زیادی از پژوهشگران در بعضی کشور ها از نظریات و داشته های علمی او استفاده اعظمی کرده و به مثابۀ عالم و متفکر اجتماعی به مقام علمی و دستاورد های او ارج می گذارند اما مردم ما با افق دید و نظریات ابن خلدون کمتر آشنایی دارند که امیدوارم مقالۀ حاضر در این راستا ممد واقع گردد.

**شیوهُ تحقیق**

تحقیق حاضر به روی شیوۀ تحلیلی، توصیفی وتشریحی استوار است.

**متن**

ابوزید عبدالرحمن بن محمد بن خلدون روز چهارشنبه اول ماه مبارک رمضان سال ۷۳۲ ق، در تونس چشم به جهان گشود. نسب او به وائل بن حجر حضرمی (یمنی) می رسد که از اصحاب پیامبر اسلام(صلی الله علیه وآله) بود.

۱۳- طنین، ظاهر. افغانستان در قرن بیستم، مؤسسه عرفان، تهران: ۱۳۸۳.

۱٤- فضائلی، محمد حسن. تأثیر نظامهای سیاسی و اجتماعی افغانستان بر ادبیات دری، چاپ مرکز مطالعات و تحقیقات راهبردی افغانستان، کابل: ۱۳۸۳.

۱۵- مژده، وحید. افغانستان و پنج سال سلطهٔ طالبان، انتشارات میوند، کابل: ۱۳۸۱.

څېړنوال محمد داود ناظم

# د ژورنالیزم ارزښتونه او له عامه ذهنیتونو سره يې د اړيکو څېړنه

# القيم الإعلامية وعلاقتها بالرأى العام

**الخلاصة**

القيم الإعلامية تعتبر معاييرا لإختيار الرسالة الإعلامية للبث عبر وسائل الإعلام المختلفة، لذلك علاقة القيم تتناسب مع الرأي العام، كما تتناسب علاقة عناوين الكتب والمقالات والندواة بمحتواها، والفرق بينهما في أن العنوان مكشوف على وجه الكتاب، لكن القيم مخفية ومعقدة وراء الرسائل الإعلامية.

قد يُحَثُ الرأيُ العامُ إزاء القيم العملية لوسائل الإعلام، ويرتبط بها في خط جوهري وثيق. فمن هنا قد توضح أهمية البحث على هذا الموضوع، من أجل تحقيق الأهداف العالية ورفاهية الفرد والمجتمع.

إن المعتقدات والآراء والرؤية والأهداف والصفات الفردية والإجتماعية مؤثرة و فعالة في تكوين القيم واستدامتها. قد تكون وراء هذه الظاهرة كثيرة من الرغبات والطموحات والأسئلة والحوائج والمؤامرات والوساوس التي تكشف من خلال هذا البحث.

وفي هذا البحث تم دراسة القيم الإعلامية وأنواعها وعلاقتها بالرأي العام، وتختتم البحث بالنتيجة والإقتراحات حول الموضوع.

**لنډيز**

په ژورنالیزم کې د پیغام د غوره کولو، جوړولو او خپرولو معیار ته ارزښت ویل کېږي چې له عامه ذهنیتونو سره داسې متناسبه اړیکه لري؛ لکه د کتاب، مقالې یا سیمینار د عنوان او منځپانګې تر منځ اړیکه؛ په دې توپیر چې عنوان، د کتاب په تندي ځرګند ښکاري، خو ارزښتونه د پیغامونو تر شا پټ او پېچلي وي.

عامه ذهنیتونه د ژورنالیزم د عملي ارزښتونو په لور ورهڅېږي او له ارزښتونو سره په باریکه ماهوي لیکه او اړیکه تړل کېږي. له همدې کبله په دې موضوع څېړنه مبرمیت لري، ترڅو له دې لارې د فرد او ټولنې لوړ اهداف او نېکمرغي ترلاسه شي.

د ارزښتونو په جوړښت او پایښت کې فردي او ټولنیز باورونه، لیدلوري، موخې او خصلتونه اغېزناک دي. بېلابېلې، هیلې، غوښتنې، پوښتنې، اړتیاوې، دسیسې، وسوسې، تلوسې، د دې ښکارندې تر شا شته چې د څېړنې په متن کې پرده ترې پورته کېږي.

په دې مقاله کې د ژورنالیزم ارزښتونه، د هغو ډولونه او له عامه ذهنیتونو سره یې اړیکې څېړل شوي او څېړنه په پایلې او وړاندیزونو پای ته رسول شوې ده.

**سریزه**

ارزښتونه په رسنیو او وګړو کې د کورنیو او بهرنیو همدارنګه د دروني او باندنیو ماهوي او شکلي عواملو له کبله را منځ ته کېږي او ورو ورو د منل شوو ارزښتونو ځای نیسي.

د ژورنالیزم په ډګر کې ارزښتونه په حقیقت کې د رسنیو او د هغو تر شا د افرادو، ډلو، ادارو، استخباراتو، هېوادونو او ټولنو له لیدلورو، باورونو، فرهنګونو، موخو، پلانونو او ارمانونو څخه رانښتېځل کېږي، منل کېږي، ټاکل کېږي چې د هغو پر بنسټ د رسنیو له لارې د خپرېدلو لپاره رسنیز پیغامونه

او فعالیتونه هم غوره کېږي. هغه برنامې او پیغامونه چې له هغو منل شوو ارزښتونو سره همغږي ولري د رسنیزو ورساتونکو(Gate Keepers) له خوا ورته د تېرېدو اجازه ورکول کېږي او هغه چې ورسره په ټکر کې وي په هر وره کې ورته خنډونه جوړېږي او د خپرېدو له بخته غورځول کېږي. د ټولنې له عامه ذهنیت سره د ژورنالیزم د ارزښتونو د اړیکو موندل او څېړل یو خورا اړین او ستونزمن کار دی، چې د ټولنې لوړ اهداف او لاسته راوړنې ورسره پیوند دي. همدارنگه د ارزښتونو د ټاکلو او په هغه لور د رسنیو په فعالیت کې د ټولنې د کړو وړو او وړاندې تگ د جهت یا لوري د ټاکلو ځواک شته.

**د خبرڼې مبرمیت**

په رسنیزو پیغامونو او برنامو کې د ارزښتونو پیدا کول یوه داسې غوټه ده چې د سترو اهداف، باورونو او نړیلیدونو په رڼا کې ټاکل کېدای شي چې د لوړو فکرونو، علمونو او تجربو خاوندان پرې پوهېدلی شي. د عامه ذهنیتونو او ارزښتونو تر منځ اړیکې هغه نامریي ماهوي اړیکې دي چې پېژندنه یې د ټولنې په بېلابېلو کچو او ابعادو کې ځانگړی مبرمیت او اهمیت لري. دا ځکه چې د ټولنې د افکارو او کړو وړو مسیر ورپورې تړلی دی، نو ځکه په هره ټولنه او هېواد کې د دولت او رعیت لپاره خورا لوړ مبرمیت او اهمیت گڼل شوی دی.

**د خبرڼې موخه**

د ژورنالیزم د ارزښتونو او ذهنیتونو تر منځ د متناسبو اړیکو موندل او د ټولنې د لوړو اهدافو، غوښتنو، پوښتنو او اړتیاوو د پوره کولو په لور د رسنیو او ذهنیتونو سوقول او پوهول.

په رسنیو کې د بداړخی، ماده پرستی او داسې نورو ناسمو ارزښتونو له زهرو څخه د ټولنې ژغورل او په رسنیو کې د گټورو ارزښتونو بنسټیز کول د دې خبرڼې مهمه موخه گڼل کېږي.

## د څېړنې سوالونه

د دې موضوع د څېړلو لپاره لاندې څو سوالونه مطرح کېږي چې لومړنی يې اصلي سوال او نور يې فرعي سوالونه ګڼل کېږي ترڅو د بحث په ترڅ کې ورته ځوابونه وپلټل شي.

۱. د ژورناليزم ارزښتونه او عامه ذهنيتونه څه اړيکې سره لري؟

۲. د ژورناليزم ارزښتونه او د هغو اغېزې څه دي؟

۳. په رسنيو کې د ناسمو ارزښتونو د شتون بنسټونه، انګېزې او تر شا يې موخې او دسيسې څه دي؟

۴. څه ډول کولای شو چې د هېواد رسنۍ مو په لوړو او ګټورو ارزښتونو پياوړې او اغېزناکې کړو؟

## د څېړنې فرضيه

د کومو باورونو، عواملو، موخو، غوښتنو او آرمانونو تر اغېز لاندې چې د ژورناليزم او رسنيو ارزښتونه ټاکل شوي وي کولای شي چې عامه ذهنيتونه په عين هغو کې له ځان سره روان او د عامه ذهنيت او هغو تر منځ د اړيکو ټينګښت تثبيت کړي.

## د څېړنې مېتود

دغه څېړنه په توصيفي-تحليلي مېتود ترسره شوې ده.

## ۱- د ژورناليزم ارزښتونه او د هغو ډولونه

ارزښتونه د ژورناليزم په ډګر کې يوه پېچلې موضوع ده چې د هر چا او حتی هر تازه کار ژورناليست ذهن پرې ژر نه خلاصيږي. په رسنيز پيغام کې د ارزښتونو پيدا کول يوه داسې غوټه ده چې ستر اهداف او نړۍ ليدونه هغه ټاکلی او د لوړو فکرونو خاوندان يې پېژندلی شي، له عام ذهنيت څخه د پيغامونو تر شا ارزښتونه پټ او پېچلي وي، ډېر وخت رسنۍ هم نه غواړي چې په ارزښتونو يې څوک وپوهېږي، بلکې په ناګاهانه توګه غواړي چې عامه ذهنيت د هغو ارزښتونو په لور بوزي کوم چې د رسنيو مسؤولينو ته مطلوب

وي. رسنۍ هغه وخت نه غواړي چې په ارزښتونو يې مخاطبين وپوهېږي چې ارزښتونه يې د عامه ذهنيت او باورونو برخلاف يا مخالف مسير ولري. په داسې حالت کې که خلک په باطله لاره روان وي نو رسنۍ يو سم تاکتيک د ټولنې د اصلاح لپاره کاروي، خو که خلک برحق او رسنۍ په باطله روانې وي، نو دلته رسنۍ خطرناک او عدواني رول لوبوي او د ټولنې عامه ذهنيت ناسم مسير ته بيايي. له دې کبله د ژورناليزم د ارزښتونو او عامه ذهنيتونو تر منځ د اړيکو څېړل يو اړين کار او په ژورناليزم کې لوړ مبرميت لري.

**۱-۱- د ژورناليزم د ارزښتونو پېژندنه**

هر تخصص، حرفه او مسلک ځان ته ځانګړي اخلاق، اصول، معيارونه يا ارزښتونه(value) لري چې د همغو ارزښتونو پر بنسټ ولاړ وي او اهل د تخصص د هغو پر اساس له خپل مسلک، هم مسلکانو او ټولنې سره خپلې اړيکې ساتي او لا يې پياوړې کوي، او په خپل کار کې په هېڅ صورت بايد له هغو ارزښتونو تېر نه شي، «د رسنيو له اخلاقو څخه هدف يوه مجموعه د قواعدو ده، چې د رسنيو کار کوونکي بايد هغه د خپل وجدان او فطرت د آواز پر اساس د خپل تخصص په ډګر کې عملي کړي، بې له دې چې کوم بېرونی الزام ولري او د تخلف په صورت کې له قانوني مجازاتو سره مخامخ شي.»(۲:ص.۴۹) د ژورناليزم په ډګر کې د بېلابېلو پوهانو او استادانو له خوا د هغوی له نظرياتو او د ټولنو له غوښتنو سره سم ارزښتونه منل شوي او په بېلابېلو هېوادونو کې د ژوناليزم او رسنيو لپاره په څه ناڅه توپير سره ارزښتونه وضع شوي دي، د بېلګې په توګه حجت الله عباسي د رسنيو مهم معيارونه درې ګڼلي او ليکي:«د رسنيو د سياليو مهم معيارونه صحت، دقت او سرعت دي چې د خبري سرچينو باور په دغو دريو برخو اندازه کېدای شي»(۱۰:ص.۱۱۰)، خو جاوېده احمدي د ژورناليزم ځانګړي اخلاق: صداقت، انصاف، صراحت، وفا په عهد او خصوصي حريم ته درناوی بولي.(۲:ص.۴۹)

د یادولو وړ ده چې د ژورنالیزم او رسنیو ارزښتونه یا معیارونه له خبري ارزښتونو څخه څه توپیرونه او څه مشابهتونه لري؛ خبري ارزښتونه ځانګړي دي او د خبر د اهمیت، ټاکلو او خپرولو معیارونه ګڼل کېږي، خو د ژورنالیزم ارزښتونه عام دي او د دې علم، مسلک او رسنیو لپاره بنسټونه جوړوي، چې د هغو په مراعات رسنۍ د مخاطبینو په منځ کې خپل باور او اعتماد ساتلی، خپل عمر اوږدولی او د ټولنې غوښتنې پوره کولای شي، چې د همغې ټولنې له فرهنګ او آدابو سره سمون ولري، خو د «اسلامي فرهنګ هغه دیني ارزښتونه دي چې له بشري فطرت سره سم د هرې ټولنې او د هر فرد غوښتنې پوره کولای شي.»(٦:ص.١٠١)

له شک پرته چې اسلامي فرهنګ د هرې ټولنې او هر فرد مشروع او منطقي غوښتنې پوره کولای شي، خو غیر مشروع او غیر منطقي غوښتنې نه یواځې دا چې نه پوره کوي، بلکې پر وړاندې یې مناسب مخالفت هم کوي او له واقعي انساني ارزښتونو څخه د حمایت لپاره ټینګه مبارزه کوي؛ ډاکټر محمد وسیم اکرم شیخ د فساد پر وړاندې د منبر مبارزه او د خیر او ښېګڼو په لور یې هڅونې ابلاغ ګڼي: «اسلام چې د ابلاغ کومه نظریه وړاندې کړې ده، هغه له تاریخي، اخلاقي، او له علمي پلوه ډېر غښتلي بنسټونه لري»(٣:ص.٥٩) چې دغه بنسټونه یا معیارونه یې داسې بیان کړي:«اسلام...د انسانیت احترام سپارښتنه، د خبر په رسولو کې ریښتینولي، له درواغو ځان ساتنه، د شخصي ژوند خوندیتوب، د نېکو کارونو خپرول، د بدو کارونو مخنیوی او د بیان د آزادۍ یې نه یواځې ضمانت ورکړی بلکې دا یې د هر چا دنده ګرځولې ده.»(٣:ص.٥٩) خو د بیان آزادي د خیر ښېګڼو او نېکیو د خپرولو لپاره ده نه د فساد، بد اخلاقیو او لغړتوب د خپرولو لپاره.

د پلخشتي د مسجد خطیب عنایت الله بلیغ په دې منبري معیارونو تأکید کوي:«د پیغام په رسولو کې مخاطب پېژندنه، وضعیت پېژندنه او

حکمت ځانګړي معیارونه دي چې منبري شخصیتونه باید هغه په دقت سره پام کې وساتي.»(۴:مرکه)

## ۱-۲- د ژورنالیزم د ارزښتونو ډولونه

ځینې ژورنالیستیک ارزښتونه په بېلابېلو ټولنو کې سره توپیر لري، دا ځکه چې موخې(اهداف)، عقاید، ګټې، تاوانونه، نړۍلیدونه او داسې نور ظاهري او باطني وجوهات او ماهیتونه یې سره توپیر لري؛ دې ټولو ته په کتو سره د یوې ټولنې رسنۍ د ځان لپاره ارزښتونه او د هغو په معیار سره خبرونه او نور رسنیز پیغامونه د خپراوي په موخه غوره کوي. کله داسې هم کېدای شي چې یوه رسنۍ د کورنیو خپرونو لپاره ځانګړي ارزښتونه ولري، خو د بهرنیو خپرونو لپاره د بل ډول ارزښتونو پر بنسټ خپرونې وکړي.

که له تیوریکي او عملي دریځو څخه د ارزښتونو بحث ته وردننه شو نو ترلاسه کوو چې له دې لحاظه ژورنالیزم دوه ډوله ارزښتونه لري لومړی علمي یا تیوریکي ارزښتونه او دوهم عملي ارزښتونه.

### ۱-۲-۱- علمي یا تیوریکي ارزښتونه

هغه دي چې د ژورنالیزم د علم او متخصصینو او د ژورنالستانو د ټولنو او نړیوالو کنوانسیونونو له لوري منل شوي وي په هغو یې سره توافق راغلی وي او په علمي ډګر کې یې هم تدریسېږي او یوه رسنۍ هم په ظاهري توګه د خپل جواز د اخیستلو یا اعلان په وخت کې د هغو په رعایتولو او تطبیق باندې له اړوندو مراجعو او مخاطبینو سره ژمنه کوي.

په تیوریکي ارزښتونو کې ډېرې رسنۍ سره ورته والی اظهاروي او ځانونه د ژورنالیزم عمومي ارزښتونو ته ژمنې بولي. د ژورنالیزم تیوریکي ارزښتونه لکه «صداقت (Truth)، دقت (Precision)، سرعت (speed)، مصالح عامه (Public Interest)، مسؤولیت (Responsibility)، امانت داری (Trusteeship)؛ عدالت، توازن، انصاف(Justice)؛ آزادي(freedom)، احترام به حریم خصوصی مردم(Respect Private Domain)، اخلاص(Sincerity)،

وفا به عهد(fidelity).»(۱٤:ص.۸۹-۹۱). دغه ارزښتونه په تیوریکي برخه کې د ژورنالیزم عمومي ارزښتونه گڼل کېږي چې له هغو سره سم د رسنیو ژمنتیا په ټولنه کې د هغوی د باور د پیاوړتیا او د خپرونو د دوام سبب کېږي، په داسې حالت کې چې د یادو ارزښتونو پرخلاف رسنیز فعالیتونه ترسره کول معکوسې پایلې زېږوي او په ډېرو حالتونو کې د رسنیزو جرمونو د ارتکاب سبب هم کېږي.

**۱-۲-۲- عملي ارزښتونه**

د ژورنالیزم او رسنیو هغه ډول ارزښتونه دي چې د رسنیو له لوري په عملي او واقعي بڼه د خپلو پیغامونو د را ټولولو او خپرولو لپاره وضع شوي وي. عملي ارزښتونه په مثبتو او منفي ارزښتونو وېشلی شو.

په عملي توگه کېدای شي چې یوه رسنۍ بل ډول ارزښتونه هم ولري، یا په بل عبارت د منل شوو او اعلان شوو ارزښتونو پرخلاف د نورو ارزښتونو پر معیار خپل پیغامونه غوره او خپاره کړي، «خبري سازمانونه هڅه کوي چې ځانگړي اصول او معیارونه ولري او له خپلو خبریالانو دا غواړي چې هغه پلي کړي.»(۵:ص.۱۲۰) کېدای شي چې په خپل رسنیز فعالیت کې ځانگړي بڼه عملي ارزښتونه هم ولري او کېدای شي چې بد ارزښتونه هم غوره کړي، د بېلگې په توگه ممکن ځینو رسنیو ته بد اړخي(منفی گرایی، Negativism) یو ارزښت وي، قدرت ورته یو ارزښت وي، همدارنگه شهرت، یواځې اقتصادي منافع، نفاق، دښمني، ناهیلي، د دوو قومونو یا هېوادونو په جنگ اچول، تعصب، د فحشاء او بداخلاقیو خپرول او داسې نور خصلتونه او اعمال ورته ارزښتونه وي او د هغو پر بنسټ د خپلو رسنیو لپاره پیغامونه او برنامې وټاکي او په پراخه کچه یې خپرې کړي. دا موضوع الله متعال په ځومره لوړ حکمت روښانوي او خپرونکې سرچینې د ناسمو معیارونو او بداخلاقیو له خپرولو څخه منع کوي: «**إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ**»(النور:۱۹)-

بېشکه هغه کسان، چې غواړي په مؤمنانو کې بې حیایي خپره کړي، هغوی لره په دنیا او آخرت کې درد ناک عذاب دی، او الله ښه پوهېږي(په حقیقت د مسایلو او ضرر د هغې خپرې شوې فحشاء) او تاسو نه پوهېږئ.

په ټوله کې کولای شو چې د رسنیو ارزښتونه په خدای باوره ټولنو کې په دوو عمده برخو ووېشو چې یو یې الهي ارزښتونه دي چې له شریعت سره برابر وي او د الله تعالی د خوښۍ سبب کېږي او دوهم یې شیطاني ارزښتونه دي چې د شیطان د خوښۍ سبب کېږي. په دې وېشنه کې د مثبتو او منفي ارزښتونو تفکیک ښه کېدلای شي، ځکه هر څه په کې څرګند او عیان دي، ټول مثبت او ښه خصلتونه او ارزښتونه د الله تعالی د رضاء حاصلولو په لاره کې مخې ته راځي او د شیطان لاره په ټولو بداړخو خصلتونو او ارزښتونو هواره شوې ده، خو په خدای نا باوره ټولنو کې له ناچارۍ دا وېشنه په مثبتو او منفي ښودلی شو چې بشر د هغو تفکیک په اسانه نه شي کولی او د دې دوو متضادو مفاهیمو تر منځ پولې ترې ماتېږي.

د رسنیزو پیغامونو د غوره کولو او خپرولو منفي ارزښتونه د رسنیو له لوري غالباً پټ او مخفي ساتل کېږي او مثبت ارزښتونه یې غالباً ښکارول کېږي پر هغو باندې د جواز اخیستلو په وخت کې ژمنه او تأکید هم کېږي او حتی امکان لري علني یې هم کړي، خو په ځینو هغو حالاتو کې چې په ټولنه کې د مخاطبینو ارزښتونه منفي وي، نو رسنۍ خپل مثبت ارزښتونه هم پټوي او د یو پټ حکمت او راز په توګه د ټولنې د اصلاح لپاره پر هغو معیارونو ولاړې خپرونې کوي، نو شرایطو او حالاتو ته په کتو سره رسنۍ خپل ارزښتونه پټ یا ښکاره کوي، خو د رسنیو د کار حکمت او اغېزناکي د ارزښتونو په پټوالي کې دی، چې د اړتیا له مخې یې ښکاره کولی هم شي. د دې توضیح په پایله کې د رسنیو ارزښتونه په پټو او ښکاره ارزښتونو هم وېشلی شو.

## ۲- د رسنيو ارزښتونه

د رسنيو له لارې د خپراوي لپاره د پيغام د غوره کولو معيار ته ارزښت وايي. يو ايراني محقق يې لنډ تعريف «معيار گزينش رويداد» گڼي.(۹:ص.۹۰)

رسنۍ معمولاً په خپلو شعارونو، مرامنامو او ليکل شوو اسنادو کې د رسنيو او ژورناليزم منل شوو ارزښتونو ته ځان ژمن څرگندوي، خو په عمل کې ډېرې رسنۍ د خپلو شخصي ليدلورو، باورونو، گټو، موخو او آرمانونو سره سم ځان ته ځانگړي ارزښتونه ټاکي او له هغو سره سم خپلې رسنيزې چارې تر سره کوي. ځينې رسنۍ د اقتصادي گټو په موخه ټولو هغو پيغامونو ته ارزښت ورکوي چې د هغوی اقتصادي گټې په کې خوندي وي چې دا ډول رسنۍ اکثراً د تجارتي کمپنيو او شرکتونو وي. ځينې رسنۍ د سياسي، قومي، مذهبي، ژبني، سمتي ارزښتونو په اساس له تعصبونو ډک پيغامونه ټاکي او خپروي؛ د اسلام د مبارک دين د مذاهبو په اړه دا سپيناوی اړين دی چې مذاهب د ټولنې د ستونزو د حلولو او لارښوونې په موخه ايجاد شوي، نه د ستونزو او نفاق د خپرولو لپاره، هغوی چې مذهب د نفاق د سرچينې په توگه کاروي، نه يې د دين خوند څکلی او نه د مذهب په موخو او خدمتونو پوهېدلي. ځينې اختصاصي رسنۍ ځان ته اختصاصي ارزښتونه هم لري چې د هغو پر اساس د خپلو رسنيو لپاره پيغامونه د خپرېدو لپاره غوره کوي، چې د خپلو ځانگړو ارزښتونو سره سره عمومي ارزښتونو ته هم ژمنتيا لري او دا د قدر وړ کار دی. خو ځينې بيا بداړخې رسنۍ وي چې د منفي موخو، دسيسو او بحرانونو جوړولو او نفاق لپاره کار کوي او ځانگړي هبوادونه، ملتونه او وگړي تر هدف لاندې راولي؛ دغسې بداړخې رسنۍ د خپلو خپرونو لپاره منفي ارزښتونه غوره کوي او د هغو پر بنسټ پيغامونه خپروي. دغه موضوع ډېرې څېړنې ته اړتيا لري چې په راتلونکو عنوانونو کې به لږ نوره هم را وسپړودل شي.

## ۳- د اسلامي رسنیو ارزښتونه

برسېره په یادو شوو مشترکو نړیوالو ارزښتونو اسلامي رسنۍ ځینې نور ارزښتونه هم لري چې نه پرېږدي رسنۍ په باطلو روانې شي، نه پرېږدي چې د مخاطبینو وخت د فساد، فحشاء او بې ګټو برنامو ښکار شي او نه پرېږدي چې د علمي، فرهنګي، تربیتي او د ټولنې داسې نورو ګټورو موضوعاتو په لاره کې خنډ او ځنډ رامنځ ته شي؛ بلکې تل د عامه ګټو، عامه پوهاوي، ښوونې، روزنې، روغتیا، اقتصاد، پوهنې او داسې نورو پرمختګونو بله ډیوه اوسي. ډاکټر محمد وسیم اکرم شیخ د یوې اسلامي رسنۍ لپاره ۱۵ ارزښتونه ټاکلي دي، نوموړی په خپل کتاب(اسلام او رسنۍ) کې لیکي: «اسلامي نظریه ابلاغ، چې یوه جامع، بشپړه نظریه ابلاغ ده او مهمې نکتې یې په لاندې ډول دي:

۱- امر بالمعروف، نهی عن المنکر یانې نېکیو ته رابلل او له بدیو ژغورل
۲- انسان ته په درنه سترګه کتل.
۳- د خپلواکۍ، ذمه واري تصور.
۴- خپلواکي یواځې د نېکیو د خپرولو لپاره ده نه د بدیو د خپرولو لپاره.
۵- د لغړتوب او بدلمنۍ مخنیوی کول.
٦- حق بیانول.
۷- د روغتیا په اړه د معلوماتو ارزښت.
۸- د نصیحت ارزښت.
۹- د خپل خیال په څرګندونه کې ښکلا.
۱۰- د لاسوهنې مخنیوی.
۱۱- د زړونو له آزارولو ډډه کول.
۱۲- د ګواهۍ د پټولو مخنیوی.
۱۳- په شخصي معاملو کې له څارګرۍ نه ډډه کول.
۱۴- د ښځو په اړه له ډېر احتیاط نه کار اخیستل.
۱۵- د مسلمانانو د یووالي هلې ځلې.»(۳:ص.٦٤)

پورتني ارزښتونه په رښتیا چې د یوې رسنۍ لپاره ډېر مهم، واقعي او په زړه پورې ارزښتونه وضع شوي دي، چې نه پرېږدي یوه رسنۍ په باطلو روانه شي.

تقوی، اخلاص، وفا په عهد، د ژبې او کلام عفت، پت عزت او ایمانداري هم د یوې اسلامي رسنۍ او مسلمان ژورنالیست لپاره د قدر وړ ارزښتونه او د لا بریو او نېکمرغیو اغېزناک لاملونه جوړېدای شي، چې د نورو ټولو ارزښتونو لپاره غوره لاره او بستر جوړوي هر بل مثبت ارزښت لا تقویه کوي، د سرچینې یا منبع عزم او اراده لوړوي، په الله پاک توکل او په ځان اعتماد زیاتوي، هر تخصصي او مسلکي ارزښت، وینا او عمل یوائې او یوائې د الله ج د خوښې د غوښتلو په نیت په خورا مینه، شوق او ذوق انجاموي؛ نه په ټولنه باندې د احسان بارولو او د شان او شوکت غوښتلو په نیت؛ چې همدا نکته د مخاطبینو په زړونو کې د منبع مینه او اعتماد ځلوي او د پیاوړو اغېزو لپاره وړین وربښمین او شیرین بستر غوړوي او د رسنیو د نورو ارزښتونو د لا تجلا او ښه تطبیق تومنه په کې لیدل کېږي.

**۴- د خبرونو ارزښتونه**

د ژورنالیزم ارزښتونه عام دي، خو د خبرونو ارزښتونه خاص دي چې داسې یې تعریفولی شو: د خبرونو د ټاکلو او خپرولو معیارونو ته د خبرونو ارزښتونه وایي. خبرونه د ژورنالیزم او رسنیو د عمومي او منل شویو علمی ارزښتونو تر څنګ خپل ځانګړي ارزښتونه هم لري، ترڅو خبر خلکو ته جالب او په زړه پورې کړي، لکه: نوی والی، په زړه پورې والی، تعداد، شهرت، کشمکش، احتواء، حیرانتیا، نږدېوالی، بوختیا، فرهنګي نږدې والی.(۹:ص.۱۲-۱۹) او داسې نور قبول شوي ارزښتونه شته چې د خبر په ټاکلو او خپرولو کې رو ل لري چې ځینې رسنۍ په دې برخه کې هم منفي ارزښتونه کاروي، لکه تعصب، بداړخي، نفاق، بې اعتمادي، شایعات، توهین، د منکراتو خپرول او داسې نور شته چې یو ځانګړي تفصیلي بحث ته اړتیا لري.

**۵- د ژورنالیزم د ارزښتونو او اخلاقیاتو تر منځ توپیرونه او مشابهتونه**

د ژورنالیزم اخلاقیات ټول مثبت او په تیوریکي او علمي برخو کې ورسره د ژورنالیزم او رسنیو د ډگر فعالان څرگند مخالفت نه شي اظهارولی، په خپلو مرامنامو او بیانیو کې یې په ویاړ سره لیکي او بیانوي او ځانونه ورته ژمن گڼي، د سموالي او گټورتوب لپاره یې نقلي او عقلي دلایل راوړي، خو دا چې په عمل کې تر کوم حده پورې یوه رسنۍ دغه اخلاقیات قبلوي او هغه ورته په ارزښتونو بدلېږي دا یو پټ او پېچلی راز دی چې ډېر زیرک متخصصین پرې پوهېدلای شي او د هغوی له پیغامونو څخه هغه پټ ارزښتونه معلوموي کوم چې د هغو پر بنسټ خپل رسنیز فعالیتونه تر سره کوي.

یوه امریکایۍ ورځپاڼه لیکونکې او د نیوز لب د مرکز مدیره دبورا پاتر هم په دې نظر ده چې «ځینې خبري دفترونه کله کله د خبریالانو ځینې اصول تر پښو لاندې کوي.»(۵:ص.۱۲۱)

د ژورنالیزم د اخلاقیاتو او ارزښتونو تر منځ اړیکه داسې ده لکه قیمتي فلزات چې په ټولنه کې د یوې پانگې او اقتصادي پشتیبانۍ په توگه منل شوي دي، خو یو هېواد د خپلو گټو پر بنسټ یو قیمتي فلز را اخلي او په هغې باندې د خپل هېواد سکه نقد کوي چې د دې هېواد د پولي ارزښت بڼه خپلوي او د همدې ارزښت پر بنسټ په هېواد کې راکړه ورکړه تر سره کېږي؛ دغسې اخلاقیات هم په ټولنه کې منل شوې پانگې دي، خو هغه اخلاقیات چې د یوې رسنۍ له خوا په ارزښت منل کېږي او په عمل کې د هغو پر بنسټ د خبرونو یا پیغامونو راټولول، غوره کول او خپرول صورت نیسي هغه په حقیقت کې د همغې رسنۍ لپاره ارزښتونه دي او نور یې تش په نوم د اخلاقیاتو په لست کې پاتې کېږي.

د ژورنالیزم اخلاقیات د فرد او ټولنې لپاره گټور تمامېږي، د رسنیو او ژورنالستانو کړنلاره روښانوي او په سختو حالاتو کې د غوره تصمیم نیولو په برخه کې ورسره مرسته کوي. د ژورنالیزم اخلاقیات په دیني نصوصو پیاوړتیا

مومي او په اسلام کېورباندې تأکيد شوی، انجامول يې وجداني او مسلکي آرامتيا او پرمختيا لري او د انسان د ظاهر او باطن د رشد سبب کېږي. د ژورناليزم د اخلاقو اعلان د مخاطبينو د اعتماد د جذبېدو سبب کېږي او منبع کوښښ کوي چې د دې اخلاقياتو په مراعاتولو سره د خپلو مخاطبينو زړونه لاس ته راوړي.

د ژورناليزم ارزښتونه په علمي يا تيوريکي برخه کې له هغو منل شويو اخلاقياتو څخه دي کوم چې د دې برخې د دکتورينو له خوا د ژورناليستيکو فعاليتونو لپاره د معيار په توګه ټاکل شوي وي او ډېر وخت يې ځينې رسنۍ په خپلو مرامنامو او پېژندپاڼو کې په وياړ سره ليکي؛ په داسې حال کې چې د ژورناليزم په عملي ډګر کې د رسنيو ارزښتونه سره توپير لري او ټول يې مثبت نه، بلکې ځينې يې منفي هم وي، لکه بداړخي(منفيګرايي) چې ځينو رسنيو ته يو ارزښت دی. همدارنګه ځينو رسنيو ته د يو فرد، قوم، سمت، ملت يا هېواد توهينول هم يو ارزښت وي او د هغو پر بنسټ خپل ټول پيغامونه له سرچينو څخه راټولوي، غوره کوي او په پراخه کچه يې خپروي، خو دا کار د رسنيو له اخلاقياتو څخه نه ګڼل کېږي، نو دې نتيجې ته رسېږو چې د رسنيو هغه عملي ارزښتونه چې د هغو په معيار باندې عملاً خپل پيغامونه غوره کوي او خپروي، ښايي مثبت او منفي وي، خو اخلاقيات يې منفي نه شي کېدلی. د رسنيو اخلاقيات هغه وخت په ارزښت بدلېږي چې رسنۍ د هغو پر معيار د پيغامونو راکړه ورکړه، ټاکل او خپرول ترسره کړي، نو په دې صورت کې بيا ويل کېدای شي چې دغې رسنۍ د ژورناليزم اخلاقيات د خپلو پيغامونو او خپرونو د معيار په توګه منلي او د هغو پر بنسټ عملا رسنيز فعاليتونه ترسره کوي، نو دا يې د خپلو فعاليتونو د ارزښتونو په توګه ومنل.

په يو بل تعبير کې د ژورناليزم اخلاقيات د رسنيو او ژورناليستانو تر منځ ډېرو جزئياتو او خپلمنځي اړيکو او تعاملاتو ته هم ارتوالی لري چې له دې

اخلاقیاتو څخه په ګټه اخیستنه وکولای شي د یوې اعتمادي رسنۍ او باشخصیته ژورنالست په توګه ځان په ټولنه کې تثبیت کړي.

## ٦- د ژورنالیزم د ارزښتونو د ټاکلو لوري، بنسټونه، انګېزې، موخې او پلي کوونکي

په ژورنالیزم او رسنیو کې د ارزښتونو ټاکل فردي او ټولنیز، شکلي او ماهوي عوامل لري چې د فرهنګي، سیاسي، نظامي او اقتصادي یرغل او د انساني دروني ایماني وجداني، نفساني خواهشاتو او شیطانی وسوسو زېږنده دي چې د هر هغو تر اغېز لاندې ارزښتونه ټاکل شوي وي عامه ذهنیت په هماغه لور سوقوي.

### ٦-١- د ارزښتونو د ټاکلو لوري

هغه لوري یا جهتونه چې د هغوی له خوا ارزښتونه ټاکل کېږي یا په بل عبارت د ارزښتونو په ټاکلو کې اغېزناک رول لري، هغه په دې ډول په ګوته کېږي: امپراتورۍ، هېوادونه، کادرونه، متخصصین، د رسنیو تمویلوونکي، د رسنیو مسؤولین، با نفوذه شخصیتونه، علماء، د ژورنالستانو ټولنې.

یو بهرنی څېړونکی هم په دې نظر دی چې «ورځپاڼه لیکونکي تل د ادارې د مالکانو، مدیرانو یا د عامه افکارو تر اغېز او فشار لاندې دي. ډېر کله داسې هم کېږي چې د تبلیغاتو تر اغېز لاندې راشي.»(٥:ص.١١٣)

### ٦-٢- د ژورنالیزم د ارزښتونو د ټاکلو بنسټونه

هغه مباني یا بنسټونه چې د ژورنالیزم د ارزښتونو د رامنځته کېدلو د بنسټ په توګه په ګوته کېږي په دې ډول دي: باورونه، ګټې، تاوانونه، اړتیاوې، غوښتنې، اهداف، آرمانونه او ویاړونه.

### ٦-٣- د ژورنالیزم د ارزښتونو د ټاکلو انګېزې

هغه انګېزې چې د ژورنالیزم د ارزښتونو د منځته راتګ او ټاکلو ته یې د دې برخې متخصصین او کارکوونکي هڅولي دي هغه په دې ډول په ګوته کېږي:

عقیدوي انګېزې، سیاسي انګېزې، علمي، اطلاعاتي، اقتصادي، فکري، فرهنګي او نفساني انګېزې.

### ۶-۴- د ژورنالیزم د ارزښتونو موخې

اغېز هغه مهمه موخه ده چې هره رسنۍ د همدې اغېز د تحقق لپاره اړیکه نیسي او پیغامونه خپلو مخاطبینو ته لېږدوي تر څو د هغې په ترڅ کې خپلو سترو موخو او آرمانونو ته د عامه ذهنیت د سوقولو له لارې ورسېږي. د اغېز په اړه یو بهرنی څېړونکی لیکي: «که چېرې قدرت پر نورو اغېز کولو ته وایي، نو رسنۍ په دې توګه د نړۍ تر ټولو پیاوړې وسیله ده»(۵:ص.۱۱۱)

د ژورنالیزم د ارزښتونو د ټاکلو موخې دا دي چې د ټولنې عامه ذهنیت په هغه لور بوځي کوم چې د ژورنالیزم علم او رسنیو ته مطلوب او له پخوا ټاکل شوی وي. له بلې خوا غواړي خپل کار معیاري او د هغو پر بنسټ روښانه تګلاره جوړه کړي. د ارزښتونو له ټاکلو څخه مهمې موخې په دې ډول را ټولېږي:

د رسنیزو فعالیتونو معیاري کول، د سالمې عقیدې او باورونو خپرول، ښوونیزې او روزنیزې برياوې، همدارنګه سیاسي، پوځي او اقتصادي برياوې او په ټولنه کې د سالم فکر او فرهنګ خپرول، بله مهمه موخه یې د شیطاني او نامشروع نفساني افکارو، بد اخلاقیو، جرمونو او مفاسدو په وړاندې مبارزه ده.

### ۶-۵- د ژورنالیزم د ارزښتونو پلي کوونکي

هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې د ژورنالیزم ارزښتونه پلي کوي په دې ډول په ګوته کېږي: خبري آژانسونه، د رسنیو مسؤول مدیران، د کتنې پلاوی، د رسنیو کارکوونکي، ژورنالستان او ادیتوران.

### ۷- د ارزښتونو د تضاد عوامل

د ژورنالیزم او رسنیو ځینې ارزښتونه په بېلابېلو ټولنو کې د هغوی د حالاتو، شرایطو او مفکورو... په تناسب سره توپیر لري، دا ځکه چې په بېلابېلو ټولنو، هېوادونو او ځینې رسنیو کې د هغوی موخې(اهداف)، عقاید، ګټې، تاوانونه،

اړتیاوې، نړۍ‌لیدونه، ویاړونه، ستراتیژۍ او داسې نور ظاهري او باطني وجوهات او ماهیتونه یې سره توپیر لري؛ دې ټولو ته په کتو سره د یوې ټولنې رسنۍ د ځان لپاره ارزښتونه او د هغو په معیار سره خبرونه او نور رسنیز پیغامونه د خپراوي په موخه غوره کوي. له همدې کبله د هغوی ارزښتونه هم سره متفاوت او په ځینې حالاتو کې یو د بل متضاد هم وي. په رسنیو کې د ارزښتونو د تضاد د خطر په اړه محمد تقي سبحاني هم لیکي: «نن ورځ زموږ په رسنیو کې اصلي ستونزه د ارزښتونو نشتوالی نه؛ بلکې د ارزښتونو تضاد دی او همدا ځورنګي ده چې ډېرو اخلاقي ستونزو ته لاره پرانیزي او له خلکو څخه د غوره انتخاب فرصت اخلي.»(۸:ص.۱۳)

کله داسې هم کېدای شي چې یوه رسنۍ د کورنیو خپرونو لپاره ځانګړي ارزښتونه ولري خو د بهرنیو خپرونو لپاره د بل ډول ارزښتونو پر بنسټ خپرونې وکړي.

ځینې وخت داسې هم کېدای شي چې یوه رسنۍ په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د پردیو په واک کې وي او د خپلو وګړو او هېواد په وړاندې د هغوی د منفي ارزښتونو ښکار شي.

داسې هم کېږي چې یوه رسنۍ یواځې د خپلو اقتصادي، سیاسي یا پوځي ګټو یا نفساني خواهشاتو په دام کې ښکېل وي او د پیغامونو د خپرولو ارزښتونه یې په همدې اساساتو منفي او شوم ټاکلي وي. د دې وجوهاتو له امله په بېلابېلو هېوادونو یا رسنیو کې د ارزښتونو اختلاف او ځینې وخت تضاد را منځته کېږي. له دې امله ځینې رسنۍ د منفي ارزښتونو په معیار سره مخاطبینو ته زیان رسوونکي پیغامونه او پروګرامونه خپروي، له همدې کبله د رسنیو ارزښتونه په مثبت او منفي یا په متضادو ارزښتونو سره وېشل کېږي. ډېر وخت د رسنیو د ارزښتونو دغه تضادونه تر مجادلو، جګړو او سترو ناورینونو هم رسېږي. دا چې په رسنیو کې دغه منفي ارزښتونه کوم دي او ولې را منځته کېږي؟ په لاندې عنوان کې به یې وڅېړو.

**۸- په رسنیو کې منفي ارزښتونه، د هغو د شتون عوامل، انگېزې او تر شا يې موخې يا دسيسې**

که څه هم مخکې د ارزښتونو د ډولونو په پېژندلو کې منفي ارزښتونه څه ناڅه روښانه شول، خو په دې خاطر چې منفي ارزښتونه ښه وڅېړل شي، د هغو عوامل، انگېزې او تر شا يې موخې، دسيسې او اغېزې ښې پسې را وسپړول شي ترڅو زموږ رسنۍ او ژورنالستان په آگاهانه او مسلکي توگه ځان او ټولنه ترې وژغورلی شي اړینه ده چې په دې عنوان کې ورباندې ښه ورځیر شو.

**۸-۱- په رسنیو کې د منفي ارزښتونو پېژندنه**

په رسنیو کې منفي یا ناسم ارزښتونه هغه دي چې د شومو اهدافو د پلي کولو په نیت د پیغامونو د غوره کولو او خپرولو لپاره ټاکل کېږي.

«یو له هغو زیان رسوونکو ارزښتونو څخه چې ټولنه زیانمنوي او په خلکو کې جرمونه او ناهیلۍ خپروي هغه بد اړخي (منفی گرایی، Negativism) ده»(۱۵:ص.۸۴) په شومو اهدافو ولاړو مفاهیمو پر بنسټ رسنیز فعالیت ته بداړخي (منفیگرایي، Negativism) ویل کېږي.

د بداړخۍ «په دې استعماري خبري ارزښت کې تر ټولو بد خبر تر ټولو ښه خبر گڼل کېږي او د ټولو رسنیو پام ورته تر داسې حده را اړول کېږي چې د خبرونو په پیل کې ځای ونیسي او څو څو ځله تکرار شي لکه: د وژنو، غلا، غصب، تجاوزونو، کودتاوو او د دریمې نړۍ داسې نور جرمونه پراخ انعکاس مومي، خو د هغوی مثبتو کارنامو او لاس ته راوړنو ته په کمه سترگه کتل کېږي»(۱۵:ص.۸۴-۸۵)

که د رسنیو ارزښتونه منفي یا ناسم وي، نو عامه ذهنیتونه هم هماغسې له ځان سره منفي لور ته سوقوي او له اوربشو غنم نه حاصلېږي. په داسې حالت کې اړینه ده چې خلک د رسنیو په شومو اهدافو او منفي ارزښتونو وپوهېږي او د هغو په وړاندې مناسبه او صابرانه مبارزه وکړي.

د یوې رسنۍ ارزښتونه موږ د هغوی له کلمو، جملو، منځپانګې، سرمقالو، تبصرو، تحلیلونو، مېلمنو، عنوانونو، خبرونو، ګزارشونو، لیډونو، سریزو، پروګرامونو او لیدلورو څخه په لوړ فکر، درایت، پوهې او تجربې پېژندلای شو چې هغه رسنۍ د کومو ارزښتونو پر بنسټ د کومو موخو او آرمانونو لپاره کار کوي.

منفیګرایي یا بداړخي په ځینو وګړو، رسنیو، ډلو، ادارو او مجلسونو کې یو دود ګرځېدلی چې د دوام په صورت کې یې په اعتیاد بدلېږي. منفي ګرایي د مخالفو او رقیبو وګړو، ډلو او هېوادونو له لوري د مطلوبو وګړو، قومونو، هېوادونو او سیمو په وړاندې کارول کېږي، چې عمده وسایل یې رسنۍ، جواسیس، استخبارات او لاسپوڅي ګڼل کېږي او عمده مسایل یې غمونکي خبرونه، ناهیله کوونکي افکار، بې باوري، وېره خورول، د نورو کم راوستل او د ځان لوړ ښوول دي. د منفي ګرایۍ د ستونزې د مخنیوي او حل عمده وسایل د مثبتو ارزښتونو لرونکې رسنۍ، مخلص انسانان، امر بالمعروف او نهی عن المنکر، واقعي او باحکمته دعوتګران، په دین او وطن مین خلک دي او عمده مسایل یې خوښوونکي خبرونه، هیله بښوونکي افکار، ښه باورونه او اعتماد رامنځ‌ته کول، د شخصیتونو روزل، په ټولنه کې د مینې، تقوا او پېرزوینې فضا خورول ګڼل کېږي.

منفیګرایان په دوه ډوله دي لومړی آګاه منفي ګرایان او دوهم نا آګاه منفي ګرایان، چې آګاه (باخبره) منفي ګرایان په حقیقت کې جاسوسان، لاسپوڅي، مسخره کوونکي او دښمنان دي، دوی غالباً برجسته رجال، پوهان او د لوړ ذکاوت خاوندان وي، خو کله کمعقلان، مداحان او دلقکان هم په ځینو مواردو کې کارول کېدای شي. دوهم ډول یې نا آګاه (ناخبره) منفي ګرایان دي چې دوی په حقیقت کې کمعقله او ناپوه انسانان یا رسنۍ دي چې د لومړي ډول منفیګرایانو له خوا په پیسو او یا د تبلیغاتو او فریبونو په دسیسو استخدامېږي. ناخبره بداړخي انسانان یا رسنۍ له ځانه پردۍ شوي وي،

ذهنيتونه يې وينځل شوي، دوی که څه هم په ظاهره پوهان او د ښکلو جامو او ژوندونو خاوندان وي، خو په حقيقت کې ډېر بد مغزه کمعقلان دي چې د دښمن د دسيسو ښکار شوي وي او خپلې ريښې لاسونه او پښې پخپلې تېشې وهي.

منفيگرايي يا بداړخي په رسنيو او وګړو کې د کورنيو او بهرنيو همدارنګه د دروني او باندنيو عواملو له کبله را منځ ته کېږي او ورو ورو د اعتياد حد ته رسېدلای شي. د بداړخۍ معتادين د نشه يي توکو له معتادينو څخه ټولنې ته ډېر خطرناک دي، ځکه دوی په ښکلو جامو، نېکټايانو، پګړيو او شملو کې د ټولنې ذهنيت بد لور ته بيايي او خلک يې هم د ظاهري شخصيت او مکانت له لحاظه په ويناوو غولېږي. د منفيگرايۍ(بداړخۍ) او د رسنيو د ټولو منفي ارزښتونو تر شا ډېر بد شوم او عدواني اهداف شتون لري چې د ټولنې عامه ذهنيت له ځانه پردی کوي او منفي لور ته يې بيايي.

زموږ د ټولنې يو زيات شمېر وګړي او په ځانګړې توګه ځينې ځوانان او ماشومان له بداړخۍ څخه ډېر زيانمن شوي او د ټولنې فرهنګ، ذهنيت، وحدت او نورو برخو ته يې سخت زيان رسولی، چې له دې کبله يې په اړه دغسې بحث او څېړنه اړينه ده. له ځانه پرديتوب، پردي پالنې او بهرنيو هېوادونو ته د بې کچې کډه کېدلو او همدارنګه د مغزونو او پانګو د تېښتې يو مهم لامل د افرادو، رسنيو او هېوادونو بد اړخي او د منفي ارزښتونو پر بنسټ پيغام خپرونه ده، چې زموږ ټولنه په بېلابېلو وختونو کې سخته ترې کړېدلې ده.

**۸-۲- په رسنيو کې د منفي يا ناسمو ارزښتونو بنسټونه او عوامل**

دا چې ولې رسنۍ منفي يا ناسم ارزښتونه کاروي؟ په ځواب کې يې ويلای شو چې په رسنيو کې د ناسمو ارزښتونو کارول ځانګړي بنسټونه يا مباني لري چې د رسنيو د مسؤولينو او با نفوذه افرادو او هېوادونو په ذهنيت کې جوړښت مومي، هغه مباني په دې ډول په ګوته کېږي: ناسم او باطل باورونه، د ګټو

ناسمه پېژندنه او د هغو ناسم تعبیر، د زیانونو او د هغو د اصلي سرچینو ناسمه پېژندنه، د اړتیاوو او غوښتنو ناسمه پېژندنه، بریاوو ته د لاسرسي د لارو او اسبابو ناسمه ټاکنه، باطل اهداف، ناسم آرمانونه، د ویاړونو انحصار او فاسد ویاړونه.

کله داسې هم کېږي چې د ځینو رسنیو ارزښتونه نه یوازې د ټولنې د باورونو او عامه گټو پر خلاف وي، بلکې د پردیو سیاسي یا استخباراتي کړیو په لمسون او ترون هم ټاکل شوي وي، چې په دې حالت کې یې خطرناکي او زیانونه لا څو چنده زیاتېږي او د رسنۍ او هغې پتې کړۍ تر منځ ټاکل شوي ارزښتونه له مهمو اسرارو څخه گڼل کېږي چې په هېڅ صورت یې افشا کول نه شي منلی، دا ځکه چې افشا کېدل یې په حیرانوونکې بڼه عامه ذهنیت د هغوی د خوښې په مقابل مسیر تحریکوي او زیاتره وخت په پاڅونونو او سترو بدلونونو منجر کېږي.

یوهان گالتونگ او مری روگ د ارزښتونو په برخه کې دوو پېژندل شوو څېړونکو په غربي رسنیو باندې د یوې گډې څېړنې په ترڅ کې دا پتېیلې چې غربي رسنۍ د دریمې نړۍ لپاره د پیغامونو په غوره کولو او خپرولو کې یوازې او یوازې د منفي پېښو او عواملو په لټه کې وي، لکه د تاوتریخوالي، بحرانونو، ناورینونو، کودتاوو، اعدامونو، جگړو، ترهگرۍ، فساد، بداخلاقیو او داسې نورو ستونزو او منفي پېښو اړوند خبرونو په خپرولو او پراخ پوښښ کې ډېر کوښښ کوي، په داسې حال کې چې د دریمې نړۍ د پرمختگ او ترقۍ په اړه مثبت خبرونه د غرب په خبري محفلونو کې ځای نه مومي.(۹:ص.۱۵-۲۲)

## ۸-۳- په رسنیو کې د منفي ارزښتونو انگېزې

په رسنیو کې د منفي یا ناسمو ارزښتونو منځته راتلل او عملاً په رسنیزو فعالیتونو کې د هغو معیار گڼل ځانگړې انگېزې لرلی شي چې د رسنیو د مسؤولینو او با نفوذه افرادو او هېوادونو په ذهنیت کې یې خطور محسوسېږي، دغسې انگېزې په دې ډول په گوته کېږي: له شیطاني وسوسو او دسیسو

څخه را نښتېځل شوې انګېزې، ناسمې سیاسي انګېزې، جهل او ناپوهي، تشویش، تشویه، إغواء، ناسمې اقتصادي، فکري، فرهنګي او نفساني انګېزې. همدارنګه د استعماري هېوادونو او استخباراتي کړیو ناسمې اخیستنې یا برداشتونه او د هغو په اساس رسنیز فعالیتونه پلي کول او د خلکو، ملتونو او هېوادونو په نفاق کې د خپلو ګټو لټولو لیدلوری؛ دغه ټول هغه هڅوونکي عوامل دي چې په رسنیو کې د منفي یا ناسمو ارزښتونو انګېزې راپاروي او په پایله کې رسنۍ، د هغو مسؤولین او د هغوی دپاسه حاکمیتونه او امپراطورۍ دې ته هڅېږي چې د خپلو رسنیزو پیغامونو د غوره کولو، جوړولو او خپرولو لپاره د معیار په توګه منفي ارزښتونه وټاکي.

د رسنیو د ارزښتونو په برخه کې یو نروجی ټولنپوه او د سولې او شخړو د مطالعاتو اکاډمیکې څانګې بنسټ اینښودونکی «یوهان ګالټونګ» په دې باور دی چې: رسنۍ په یو ډول منفي ګرایۍ روږدې شوې دي او خپلو مخاطبانو ته یو تیاره او منفي تصویر وړاندې کوي.»(۷:ص.۴۰)

**۸-۴- په رسنیو کې د منفي ارزښتونو تر شا دسیسې**

په رسنیو کې د منفي یا ناسمو ارزښتونو منځته راتللو او د هغو پر معیار د رسنیزو فعالیتونو تر شا د استعمارګرو هېوادونو، استخباراتي کړیو، خطاوتلو سیاسیونو او متعصبو کړیو لاس وي. دغه شیطاني لاسونه د امتونو، ملتونو، هېوادونو، قومونو، سیمو، نظامونو، ادارو او ځینو افرادو د تخریب، د هغوی تر منځ د نفاق، نړولو او د خپل ځان د حاکمولو په موخه خطرناکې او پېچلې دسیسې او تدابیر کاروي، چې عوامو او ډېر وخت حتی نړۍ ته پرې دوکه ورکوي. دوی په همدې پلمو او دسیسو کې خپل ځان ته کاذب او مؤقت مشروعیت او پر نړۍ باندې د خپل باطل حاکمیت اوږدول لټوي.

حفیظ الله لشکري چې د غرب د دسیسو په اړه یې تفصیلي څېړنه کړې په خپل کتاب کې لیکي چې: غرب د مسلمانانو پر وړاندې عقیدتي جګړه پیل

کړې ده او استعمارګرانو د خپلو موخو د پلي کولو لپاره غوره وسیله فکري جګړه او د اسلامي فکر تسخیر په نښه کړی دی.

نوموړی زیاتوي چې: غرب او امریکا تل په دې فکر کې دي چې مسلمانان په خپله د مسلمانانو په واسطه له منځه یوسي او د هغوی تر منځ رنګارنګ مذهبي، قومي، ژبني، سمتي، حزبي او داسې نورو اختلافاتو ته لمن ووهي. غرب تل په دې نکتې ډېر کوښښ کوي چې د مسلمانانو تر منځ همغږي نه وي او تل یو د بل په مقابل کې خپل قوت له لاسه ورکړي. ښاغلی لښکري په دې نظر دی چې: غرب کوښښ کوي داسې کسان صحنې ته راولي چې د الله متعال په دین کې نه یواځې افراط او تفریط وکړي، بلکې په جاهلانه توګه ورڅخه دفاع هم وکړي، دغسې اشخاص تل د الله متعال له رښتینو دعوتګرانو سره په تضاد کې وي او کوښښ کوي چې په یو نوم او بل نوم هغوی بدنامه هم کړي.(۱۳:ص.۱۹۱-۱۹۲)

دغسې استعمارګر جهتونه د خپلو دسیسو د پلي کولو لپاره په پراخه کچه بېلابېلې رسنۍ، رسنیز فعالان، د کمزورو هېوادونو سیاسي چارواکي، شرکتونه مؤسسې او ځینې متخصصین او عام وګړي په پټه او ښکاره په مستقیمه او غیرمستقیمه بڼه په آګاهانه او ناګاهانه توګه استخداموي. د منفي ارزښتونو د پلي کوونکو مهمې دسیسې په لاندې ډول په ګوته کېږي.

- په مطلوبو مخاطبینو کې د ناهیلیو او له ځانه پردیوالي احساس خپرول.
- له مطلوبو مخاطبینو څخه د بشري او مادي پانګو جذبول.
- مطلوب مخاطبین په مادي او علمي برخو کې کمزوري او محتاجول.
- د منفي باورونو، فرهنګونو، قوانینو او اعمالو تحمیلول.
- په نامشروع لارو د سیاسي حاکمیت ترلاسه کول.
- په نامشروع لارو د اقتصادي ګټو حاصلول.
- د خلکو، ملتونو او هېوادونو په نفاق کې خپلې ګټې لټول.

- د نورو تر منځ د مخالفتونو، جګړو او ستونزو جوړول.
- په مطلوبو سیمو کې د نا امنۍ، قتلونو، سرقتونو، اختطافونو، بداخلاقیو او داسې نورو غموونکو پېښو خپرول او د هغو لپاره مشخص افراد او ډلې روزل او د هغو استخدامول. له داسې پېښو وروسته هغو ته په پراخه توګه پوښښ ورکول او عامه اذهان پرې مغشوشول.
- له ځانه پرته نور په کرکجنه، ترهګره، بې قانونه، ناپوهه او بده څېره کې معرفي کول.
- ځان ټولې نړۍ ته غوره او بېلګه ښودل.
- په پایله کې په نورو باندې د خپل استعمار او استثمار ته لاره هوارول.
- ټوله نړۍ خپلو باطلو بنسټونو، منفي ارزښتونو، بدو کړنو او شومو موخو ته وربلل او هغه په بېلابېلو طریقو پر هغوی باندې ور تحمیلول. دغه جهتونه کله نا کله ځینې ښې کړنې، ممدوح خصلتونه او ظاهري سموالی هم د خپلو شومو اهدافو د تحقق لپاره د دسیسو په توګه کاروي، ترڅو خلک پرې خطاباسي.
- خپلو دسیسو او ناروا ظلمونو او ناسمو کړنو ته یو بل پوښ ور اغوستل او هغه پرې توجیه کول.

### ۸-۵- په رسنیو کې د منفي ارزښتونو موخې

که چېرته د منفي ارزښتونو د ټاکلو او پلي کولو یوه ستره موخه په لنډیز سره اعلام کړو نو ویلی شو چې د هغوی ستره موخه: د باطل او پوچ نړیوال قیادت په نړۍ باندې حاکمول دي، خو که یې لږ څه تفصیل ته ورشو، نو بیا ویلی شو چې په رسنیو کې د منفي ارزښتونو عمده موخې په لاندې ډول په ګوته کېږي.

- منفي سیاسي موخې،
- باطلي عقیدوي، فکري او فرهنګي موخې،

- نامشروع او مشروع اقتصادي موخې،
- سليقوي ټولنيزې موخې،
- ظالمانه پوځي موخې،
- فاسدې نفساني او شيطاني موخې.

## ۸-٦- د منفي ارزښتونو په وړاندې د مبارزې لارې چارې

اوس چې د ارزښتونو ډولونه وپېژندل شول او د منفي ارزښتونو له خطرناکو او باطلو بنسټونو، انګېزو، تر شا يې دسيسو او موخو څخه پرده پورته شوه؛ اړينه ده چې په هغو لارو چارو هم په لنډيز سره غور وشي کومې چې د منفي ارزښتونو له زيانونو څخه د مخنيوي او د سمو ارزښتونو د بنسټيز کېدلو سبب کېږي، چې عمده لارې چارې يې په لاندې توګه په ګوته کېږي.

- د مثبتو ارزښتونو بنسټيز کول او په علمي او عملي ډګر کې ورته بنسټيز کار کول.
- په سمه توګه د ژورنالستانو روزل او د ارزښتونو په ماهيت، فلسفې او اغېزو يې ښه پوهول او په دې اړه وخت په وخت د رسنيزو فعالانو او علمي کادرونو او با تجربه متخصصينو تر منځ د علمي-څېړنيزو سيمينارونو، کنفرانسونو او ځانګړو پروګرامونو جوړول.
- د ژورناليزم مثبت ارزښتونه د ايماني او مسلکي مسؤوليت په توګه په سمه توګه پېژندل او پلي کول.
- په ټولنه کې په خورا حکمت او لوړ بصيرت سره د امر بالمعروف او نهی عن المنكر عملي کول.
- د رسنيو، خلکو او نظام تر منځ د سالم او اصلاحي نقد دروازه پرانستې پرېښودل.
- په سالمه او مشروع اډانه کې د بيان آزادي او د بېلابېلو رسنيو فعاليت ته لاره هوارول.

### ۹- د ارتباط په عناصرو کې د ارزښتونو رول

د ارتباط له شپږګونو عناصرو څخه په هر عنصر کې ارزښتونه خپل رول، اغېزې او اغېزمنتیاوې لري، یو له بل سره متفاعله او دوامداره اړیکه لري، د ګډو ارزښتونو په معیار یو له بل سره محاسبه کوي، د بېلګې په توګه یوه سرچینه د هغو ارزښتونو پر معیار پیغام برابروي، وسیله هماغه پیغام د خپلو معیارونو په اعتبار د خپرولو لپاره ټاکي او مقابل لوري ته یې لېږدوي، مخاطبین هغه پیغام د خپلو ارزښتونو پر معیار تلي او د هغوی له قضاوت سره سم وربانديې مثبت یا منفي تأثیر کوي او د هغه پیغام په اړه خپل غبرګون ښیي او بېرته یې مصدر ته استوي. په دې توګه جوتېږي چې همدا ارزښتونه دي چې د ارتباط په ټوله دوامداره پروسه کې خپل رول ژوندی او اغېزناک ځرګندوي.




د ارتباط عناصر

## ۱۰- د عامه ذهنیتونو او ارزښتونو تر منځ اړیکې او د هغو د سمون لارې چارې

د عامه ذهنیتونو او ارزښتونو تر منځ د اړیکو څېړل او د هغو د سمون لارې چارې موندل د ټولنې لپاره د ارتباطاتو د طوفان په عصر کې یو ډېر اړین کار دی، تر څو د دې طوفان په تېزو بادونو کې د نجات بېړۍ د مطلوب په لور سوق او اداره شي او که دغه مدیریت د علم، تحقیق او تجربو په رڼا کې ترسره نه شي، نو د ارتباطاتو په طوفاني څپو کې به د بشریت د عامه ذهنیتونو بېړۍ په همدې پېړۍ کې خدای مکړه ډوبه شي، له همدې کبله په دې موضوع باندې څېړنیزه رڼا وراچول کېږي، تر څو له دې طوفان څخه ښه ګټه پورته شي.

### ۱۰-۱- د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو تر منځ اړیکې

دا ثابته ده چې رسنۍ د عامه ذهنیت له لارې په ټولنه پیاوړې اغېزې لري علي اصغر کیا لیکي چې: «برخی را عقیده بر این است که وسایل ارتباط جمعی(تبلیغی) دارای چنان قدرتی اند که می توانند نسلی تازه را برای نخستین بار در تاریخ انسان پدید آورند...به گمان بعضی ها قدرت تبلیغی رادیو را می توان با قدرت بمب اتم مقایسه کرد»(۲:ص.۳۷) دغسې تلویزیون او ټولنیزې رسنۍ هم تر راډیو پیاوړې اغېز لري او چاپي رسنۍ هم خپلې اغېزناکې ځانګړنې لري، خو اوس دا حقیقت را برسېره کول په کار دی چې د رسنیو د دومره پیاوړي اغېز ریښه په کوم ځای کې ده؟ په ځواب کې ویلی شو چې د اغېزو ریښه په ارزښتونو کې نغښتې ده او ارزښتونه ځان ته خپل خپل ځایونه، حالتونه او یو له بل سره مناسبتونه او تړاوونه لري چې د هغو په رڼا او تیارو کې خپلې انګېزې او اغېزې ثابتوي او خپروي.

د پورتنیو ویناوو د تحلیل او توضیح لپاره اړینه ده چې دا موضوع لوستونکو ته په جزئیاتو سره روښانه شي او د متني عبارت په څنګ کې د یو جدول یا شکل په وسیله هم د مودیلونو په بڼو وښودل شي، چې په عامه توګه ټول

لوستونکي او په ځانګړې توګه رسنۍ او چارواکي ورته په دقت سره پاملرنه وکړي او د مثبتو اغېزو لپاره د مثبتو ارزښتونو په ځغاستلارې(رن وې) باندې ټولنې ته په مثبت مسیر د پرمختګ او نېکمرغۍ په لور پرواز ورکړي.

د ټولنې او رسنیو تر منځ په مثبت مسیر کې د ارزښتونو وحدت، د رسنیو کثرت او د بیان آزادي د ټولنې په عامه ذهنیت پیاوړې اغېزې کوي او د چټکې پرمختیا سبب کېږي -د یادولو وړ ده چې دا د رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د مثبتو ارزښتونو د تړاو له امله تر ټولو غوره او د پیاوړو مثمرو اغېزو لرونکی حالت دی- خو د ارزښتونو وحدت او د رسنیو انحصار په عامه ذهنیت کمزوری او له شک ځخه ډک اغېز کوي. په داسې حال کې چې د ارزښتونو اختلاف د رسنیو په کثرت کې حیرانوونکی او شکمن اغېز کوي یعنې خلک په ځو لارو کې حیرانوي او په شک کې یې اچوي، خو د رسنیو په انحصار کې متضاد اغېز لري. علي اصغر کیا هم دې ته ورته نظر لري او لیکي: «اگر تعداد ارزش ها در گروه های کوچک اجتماعی به نحوی از انحا تبلیغ شود، ولی تبلیغ انحصاری در جامعه اتفاق افتد، رشد اجتماعی آن اجتماع قطعاً با مشکل مواجه خواهد بود و در نهایت گروه ها و اجتماع برای مقابله با این وضع، تأثیری کمتر از تبلیغات خواهند داشت.»(۱۲:ص۳۸) او که په منفي جهت کې د رسنیو او خلکو ارزښتونه وحدت ولري دا ډېر خطرناک او مهلک حالت دی چې د داسې حالت خطرناکي د رسنیو په کثرت او د بیان د آزادي په شتون کې لا ډېره دوامداره او هلاکونکې وي، مګر د بیان آزادي د خطرناکۍ په څنګ کې بیا هم یوه پټه احتمالي مثبته هیله په خپل ځان کې لرلی شي، خو د رسنیو په انحصار او د بیان د آزادۍ په نه شتون کې یې دوام او خطرناکي لا نوره هم زیاتېدلی شي.

لاندې شکلونه مې د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو په برخه کې د دې څېړنې او د رسنیو په برخه کې د خپلو مطالعاتو او تجاربو په ترځ کې ترلاسه کړي دي چې په لاندې اتو موديلونو کې ښودل شوي. دغه

مودیلونه د ارزښتونو، رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو تناسب ښه روښانوي او یو نظام او رسنیو ته د خپلو هر اړخیزو شرایطو په نظر کې نیولو سره د ګټور او اغېزناک مودیل په غوراوي کې مرسته کولی شي.

| د ارزښتونو، رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو ښودلو لومړی مودیل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت | | د رسنیو تعداد | د بیان د آزادۍ حالت | پایله یا اغېز (د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو ترمنځ اړیکه) |
| | د رسنیو ارزښتونه | د خلکو ارزښتونه | | | |
| ۱ | مثبت ارزښتونه | مثبت ارزښتونه | د رسنیو زیاتوالی | د بیان د آزادۍ شتون | دا د ارزښتونو او عامه ذهنیت تر منځ تر ټولو غوره اومثمره اړیکه ده چې مثبته او پیاوړې اغېزه لري. په دې موډیل کې په رسنیو د اعتماد کچه لوړه وي، عدالت تأمینېږي، په اړیکو او د معلوماتو په خپرولو کې چټکتیا او روڼتیا رامنځ ته کېږي، د خلکو او چارواکو ترمنځ د ارتباط پول تقویه کېږي او د ښو فعالیتونو په ترڅ کې یې یو له بل څخه د رضایت کچه لوړېږي، علمي او اطلاعاتي کچه هم پراختیا مومي په ټولنه کې څلورمه قوه هم په فعالیت راځي، د ټولنې په اصلاح او روزنه کې اغېزناک رول لوبول کېږي، د جرمونو او هر ډول ناخوالو په مخنیوي کې مرسته کوي، چې بالآخره د ژوند په هر ډګر کې چټکې پرمختیا او پرمختګ ته لاره هوارېږي او د دنیا او آخرت نېکمرغي حاصلېږي. |

| د ارزښتونو، رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو ښودلو دوهم مودیل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت | | د رسنیو تعداد | د بیان د آزادۍ حالت | پایله یا اغېز (د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو ترمنځ اړیکه) |
| | د رسنیو ارزښتونه | د خلکو ارزښتونه | | | |
| ۲ | مثبت ارزښتونه | مثبت ارزښتونه | د رسنیو محدودیت | د بیان د آزادۍ نشتوالی | اغېز یې مثبت وي، خو خلک څه ناڅه شکمن وي، ډېرو ښو موضوعاتو ته هم لومړی د شک په سترګه ګوري، اړیکې محدودې وي، ځینې وخت ظلمونه پوښل کېږي او د عدالت له تأمین څخه بشپړ ډاډ نه وي. د رسنیو د اعتماد کچه هم له لومړي حالت څخه راټيټه وي، د معلوماتو د انتقال چټکتیا هم محدوده وي، خو د دقت عنصر په کې پیاوړی وي دا ځکه چې رقیبې رسنۍ د خبري سبقت لپاره نه وي او په پوره ډاډ د مسایلو له وروستیو او دقیقو معلوماتو څخه اقتباس کوي اوله هغې وروسته یې خپروي. په داسې ټولنو کې د خلکو رضایت په متوسط حد کې وي او په کمه اندازه د انقلابونو او کودتاګانو امکانات هم شتون لري. |

| د ارزښتونو، رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو ښودلو دریم مودیل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت: د رسنیو ارزښتونه | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت: د خلکو ارزښتونه | د رسنیو تعداد | د بیان د آزادۍ حالت | پایله یا اغېز (د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو ترمنځ اړیکه) |
| ۳ | مثبت ارزښتونه | منفي ارزښتونه | د رسنیو زیاتوالی | د بیان د آزادۍ شتون | حیرانوونکي اغېزه لري، یعنې خلک د خپلو منفي کړو وړو په اړه په شک او تردید کې اچوي او د حقیقت په لور یې له بېلابېلو چینلونو او سرچینو له لارې په تبلیغاتي مهارت رهنمایي کوي چې له همدې کبله یې اغېز نسبتا لوړه وي، په داسې حالت کې رسنۍ په سمه او خلک په ناسمه لاره روان وي چې رسنۍ په مسلکي مهارت او اصلاحي حکمت خلک د حیرانتیا او ګمراهۍ له کندې څخه په تدریج او احتیاط سره د حقیقتونو په لور سوقولای شي، لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم منبري خپرونې چې د همدې ځانګړنو په ښه کارولو سره یې بلآخره اسلامي شریعت په ټولنه کې خپور کړ او خلک یې د شرک، بد اخلاقیو او ناخوالو له آفتونو څخه را وژغورل. خو که په دې مبارزه کې له مهارت، حکمت، احتیاط او تدریج څخه کار وا نه اخیستل شي نو متضاد اغېز کوي او ټولنه له ستونزو، مظاهرو او لا زیاتو بدبختیو او انقلابونو سره مخامخ کېږي. |

| د ارزښتونو، رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو ښودلو څلورم موديل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت | | د رسنیو تعداد | د بیان د آزادۍ حالت | پایله یا اغېز<br>(د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو ترمنځ اړیکه) |
| | د رسنیو ارزښتونه | د خلکو ارزښتونه | | | |
| ٤ | مثبت ارزښتونه | منفي ارزښتونه | د رسنیو محدودیت | د بیان د آزادۍ نشتوالی | په دې حالت کې د اغېز او اعتماد کچه نسبت پورتني موديل ته را ټيټه وي، معلومات له محدودو چینلونو او سرچینو څخه خپرېږي او خلک په مشکله ورباندې اعتماد کوي، خو بیا هم د خلکو د اصلاح او پرمختیا هېلې وي، مگر ډېر لوړ مهارت، حکمت او د تبلیغاتو پیاوړتیا غواړي. |

| د ارزښتونو، رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو ښودلو پنځم موډیل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت: د رسنیو ارزښتونه | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت: د خلکو ارزښتونه | د رسنیو تعداد | د بیان د آزادۍ حالت | پایله یا اغېز (د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو ترمنځ اړیکه) |
| ۵ | منفي ارزښتونه | مثبت ارزښتونه | د رسنیو زیاتوالی | د بیان د آزادۍ شتون | داسې حالت د ټولنې لپاره خطرناک او د سختې مبارزې حالت لري، په داسې حالت کې د رسنیو زیاتوالی او د بیان آزادي لا په زیان تمامېږي او ډېر د دې امکان وي چې عام خلک یې په منفي او اغوا کوونکو تبلیغاتو باور وکړي او ټولنه د گمراهۍ او تباهۍ کندې ته ولوېږي. یوه ټولنه د استعمار په درشل یا جریان کې له دغسې ناوړه حالت سره مخامخ کېږي او همدغسې یو موډیل په ټولنه کې په فعالیت پیل کوي، د رسنیو تمویل او بیا د هغوی لپاره د منفي ارزښتونو ټاکل د بهرنیو هېوادونو، استعمارونو، استخباراتو او فاسدو کړیو لاس ته لوېږي، چې د رسنیو زیاتوالي او د بیان آزادۍ ته په لوړه کچه کمپاین کوي او هر څه په خپله خوښه او گټه له دې لارې څخه خپروي. داسې حالت د کمزورو هېوادونو لپاره یو ډېر خطرناک دام دی؛ که ملت ښه ډېر ویښ، مبارز، صبور او ثابت قدمه وي ورسره مبارزه کولی شي او که نه د استعمارونو او فاسدو کړیو په جال کې ورښکېلېږي. په داسې وضعیت کې د استعمار او فاسدو کړیو د تبلیغاتو له ښامار څخه د یو ملت عقیدوي، ملي، فرهنگي(معنوي) ارزښتونه تر ټولو پیاوړې سلاح او د مبارزې ابزار جوړوي چې باید هر ملت یې د داسې سختې ورځې لپاره د ښه حفاظت کوښښ وکړي. |

**د ارزښتونو، رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو ښودلو شپږم موډیل**

| شماره | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت | | د رسنیو تعداد | د بیان د آزادۍ حالت | پایله یا اغېز (د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو ترمنځ اړیکه) |
|---|---|---|---|---|---|
| | د رسنیو ارزښتونه | د خلکو ارزښتونه | | | |
| ٦ | منفي ارزښتونه | مثبت ارزښتونه | د رسنیو محدودیت | د بیان د آزادۍ نشتوالی | په دې حالت کې وضعیت پورتني حالت ته تر ډېره ورته وي، په دې توپیر چې د رسنیو د تبلیغاتو کچه له محدودو چینلونو څخه وي، ملت یې په منفي تبلیغاتو په اسانه نه اغوا کېږي د هغوی په پیغامونو د ملت د اعتماد کچه ټیټه وي او ژر یې په شومو اهدافو پوهېدلی شي او په مقابل کې یې د راپورته کېدو او مبارزو امکانات لوړ وي. |

| د ارزښتونو، رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ د اړیکو ښودلو اووم مودیل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د خلکو او رسنیو ترمنځ د ارزښتونو حالت | | د رسنیو تعداد | د بیان د آزادۍ حالت | پایله یا اغېز (د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو ترمنځ اړیکه) |
| | د رسنیو ارزښتونه | د خلکو ارزښتونه | | | |
| ۷ | منفي ارزښتونه | منفي ارزښتونه | د رسنیو زیاتوالی | د بیان د آزادۍ شتون | دا د رسنیو او ټولنې لپاره ډېر بد او گمراه حالت دی، ټول سره د هلاکت په کنده کې اوسېږي، د ښو ویناوو، مثبتو تبلیغاتو او اصلاح غوښتونکو سرچینو څرک نه لگېږي او امکان شته چې پېړۍ پېړۍ په داسې بدمرغیو کې و اوسي ترڅو یا له دې بد ژوند څخه ستړي ستومانه شي او یا کوم اصلاحي جریان په کار پیل وکړي یا کومه رسنۍ د حقیقت لاره پیدا کړي او په پایله کې یې کوم بدلون رامنځ ته شي.<br>په داسې ټولنو کې د رسنیو زیاتوالی او د بیان د ازادۍ شتون د دې لامل کېدلی شي چې د اصلاح او حقیقت په لور کوم بنسټ یا رسنۍ په خپلو ارزښتونو له سره کتنه وکړي، د خپلو خپرونو مسیر مثبت لور ته واړوي او د بیان آزادي سبب شي چې څوک یې مخه هم و نه نیسي او بالآخره ټولنه د سعادت لاره پیدا کړي. |

| د ارزښتونو، رسنيو او عامه ذهنيتونو تر منځ د اړيکو ښودلو اتم موديل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د خلکو او رسنيو ترمنځ د ارزښتونو حالت | | د رسنيو تعداد | د بيان د آزادۍ حالت | پايله يا اغېز (د ارزښتونو او عامه ذهنيتونو ترمنځ اړيکه) |
| | د رسنيو ارزښتونه | د خلکو ارزښتونه | | | |
| ۸ | منفي ارزښتونه | منفي ارزښتونه | د رسنيو محدوديت | د بيان د آزادۍ نشتوالی | دا د رسنيو او ټولنې لپاره تر ټولو ډېر بد او گمراه حالت دی، چې ډېرې اوږدې زمانې په دې هلاکت کې اوسېدلی شي، په دې حالت کې د کومې رسنۍ يا سرچينې له خوا هم د هدايت څرک نه تر سترگو کېږي او نه په خلکو کې د ښو ارزښتونو وجدان او هيلې وي، فرضاً که پيدا هم شي د خپرولو لپاره يې د بيان آزادي نه لري، له دې کبله دا تر ټولو ډېره بدمرغه ټولنه ده، چې زياتره په خدای نا باوره استبدادي او معنويت نه پېژندونکو ټولنو کې داسې حالت حاکم وي.<br>په داسې ټولنو کې د بېروني بدلون او لارموندنې لارې بندې وي او تر هغه په دې حالت کې اوسېږي تر څو چې له داسې حالت څخه خپله سترې ستومانه شي، عقل او وجدان يې په هوش راشي او له درون څخه خپله بدلون ومومي او بالآخره د دې منفي ارزښتونو او مهلک حالت په وړاندې مبارزه پيل کړي. |

په پورتنيو موديلونو کې خلک او دولتونه يا حاکميتونه د رسنيو د مخاطبينو په جمله کې يو ځای گڼل شوي، خو په هغه صورت کې چې دا درې واړه سره

بېل د مثلث ضلعې فرض کړو نو بیا دولت یا حاکمیت د مثلث د قاعدې ځای نیسي راسته ضلعه یې رسنۍ او چپه ضلعه یې خلک ګڼل کېږي چې د سیاسي حاکمیت مثبت یا منفي ارزښتونه په دواړو (رسنیو او خلکو) خپل پیاوړی اغېز لري، که د حاکمیت ارزښتونه مثبت وو اغېز یې هم مثبت وي او که د حاکمیت ارزښتونه منفي وو اغېز یې هم منفي وي د مثبت موافقت په حالت کې چټک پرمختګ، همغږی، بري او نېکمرغی ته رسېږي او د منفي موافقت په حالت کې دواړه د هلاکت کندو ته ورلوېږي او تر اوږد مهاله په کې کړېږي، خو د ارزښتونو د تضاد په حالت کې کشمکش، مبارزې او جګړې رامنځ ته کېږي چې زیاتره په اوږد مهال کې ولسونه میدان وړي او سیاسي حاکمیتونه بدلون مومي، خو په دې حالت کې به نېکمرغه ټولنه هغه وي چې د مثبتو ارزښتونو لوری بریالی شي. خپله مثبت ارزښتونه هم په بري کې خپل پیاوړی رول لري او اکثراً مثبت لوری بریالی کېږي. په دې مثلث کې د مثلث هره ظلعه په دې مکلفه ده چې په مثبتو ارزښتونو کې سره متحد شي که یوه له دې ظلعو څخه خپل ارزښتونه منفي لور ته اړوي نورې ضلعې دا مسؤولیت لري چې هغه بېرته سمو ارزښتونو ته سیده کړي او ټول په مثبتو ارزښتونو کې سره متحد او پیاوړي اوسي.

**۱۰-۲- د ارزښتونو او عامه ذهنیتونو تر منځ د سمون لارې چارې**

۱۰-۲-۱-د ژورنالیزم هغو ارزښتونو ته مسلکي او ایماني ژمنتیا کوم چې د مسلک او اسلام له لحاظه منل شوي او ممدوح دي، هغه په خپلو رسنیزو فعالیتونو کې په ربښتیا سره د مسلک او ثواب په نیت پلي کول، چې دا کار په حقیقت کې د عمل په لور دوه هڅوونکي خوځوونکي ځواکونه (محرکې قوې) جوړوي یا په بل عبارت د صعود او عروج په لور لکه الوتکې ته دوه وزرونه ورکوي او د هدف په لور یې چټک او سوکاله رسوي، په دې بڼه کې ارزښتونه د ژورنالیست وجدان ته نفوذ کوي او په اعمالو کې یې تمثیلېږي؛ په دې توګه

رسنۍ په عامه ذهنيت باندې څوچنده پياوړې اغېزې کوي او له ظاهر او باطن څخه ذهنيتونه په خپله ولکه کې راولي او د مطلوب په لور يې سوقوي.

۱۰-۲-۲- د باورونو او ليد لورو يووالى: د خلکو، رسنيو او حاکميتونو ارزښتونه هغه وخت سره سمون مومي چې باورونه او ليد لوري يې سره يو شي او دا ارزښتونه هغه وخت مثبت کېدلى شي چې دغه باورونه او ليد لوري يې سم او مستحکم وي، چې دا کار د بشر له توانه لوړ دى، نو د ټولو خالق ته بايد مراجعه وشي تر څو يې باورونه او ليدلورى سم او مستحکم شي، له تضاد د ارزښتونو څخه نجات ومومي او يووالي ته ورسېږي، چې الله تعالى يې په اړه داسې لارښوونه کوي:«**إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَلِحَات أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا؛ وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا**»(الإسراء:۹-۱۰) - په تحقيق سره دغه قرآن کريم سمې صافې ښې برابرې لارې ته لارښوونه کوي. او هغو مؤمنانو ته کوم چې نېک اعمال ترسره کوي د ډېر لوى اجر (جنت) زېرى ورکوي. او په تحقيق سره هغه کسان چې د آخرت په ورځ ايمان نه راوړي؛ هغوى ته مو دردناک عذاب تيار کړى دى.

۱۰-۲-۳- د باورونو او ليدلورو له سمولو څخه وروسته اړينه ده چې رسنۍ او رسنيز فعالان يو له بل سره په ښېګڼو کې مرسته وکړي، له بديو څخه يې وژغوري او د خپلو مخاطبينو ذهنيتونه هم همداسې جوړ کړي، چې په اړه يې الله متعال څه ښه فرمايلي دي:«**وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ**»(المائدة:۲). ژباړه: او مرسته کوئ يو تر بله په نېک کار او تقوى کې او مه کوئ تاسې مرستې يو تر بله پر ګناه او پر عدوان (ظلم او تجاوز) کې.

۱۰-۲-۴- ورپسې په مثبتو افکارو او کړو وړو يا ښېګڼو امر او له منفي هغو څخه يو د بل منعه کول غوره اقدام دى چې الله تعالى يې په اړه په قرآن کريم کې فرمايلي دي:«**وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ**

**وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**»(آل‌عمران:۱۰۴) ژباړه: او وي دې (تل) له تاسو څخه يوه ډله چې (خلک) په طرف د خير (اسلام) رابولي او خلکو ته په نېکيو امر کوي او له بديو څخه يې را منع کوي او همدغه کسان په مراد رسېدلي کامیابان دي.

۱۰-۲-۵- د مثبتو او سمو باورونو او ارزښتونو له موندلو څخه وروسته پر هغو ثابت پاتې کېدل او بېرته نه ګرځېدل چې الله تعالی يې په اړه امر کوي چې «**وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ**»(آل‌عمران:۱۰۵) ژباړه: او تاسو په شان د هغو کسانو مه کېږئ چې د دين په اصولو کې سره جلا شول او اختلاف (جګړې) يې وکړې، وروسته له دې چې دوی ته (د اسلام د حقيقت) ښکاره دلايل راغلي وو. او دې اختلاف کوونکو ته ډېر لوی عذاب (جهنم مقرر کړی شوی) دی.

۱۰-۲-٦- په واحدو ارزښتونو او باورونو کې پاتې کېدل او پر هغو دوام «**وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ**»(آل‌عمران:۱۰۳) ژباړه: او تاسو ټول (مؤمنان) د الله تعالی په رسۍ (قرآن کريم) باندې منګولې ولګوئ او مه سره مختلف کېږئ (وروسته له اسلامه) او ياد کړئ (اې مؤمنانو) هغه نعمت (احسان) د الله متعال پر تاسې کله چې تاسې سره دښمنان وئ نو مينه يې پيدا کړه په منځ د زړونو د تاسو کې نو وګرځېدئ تاسو په نعمت (رحمت) د الله سره ورونه. او تاسو (په سبب د ګمراهۍ او کفر) د کندې له اوره (دوزخ) په غاړه وئ نو تاسو يې وژغورلئ له هغه (اوره په اسلام سره). همدغسې (لکه چې د اتفاق مفاد او د نفاق ضرر يې بيان کړل) بيانوي الله تاسې ته دلايل (د قدرت) خپل له پاره د دې چې تاسې په سمه صافه لاره ثبات او دوام ومومئ.

۱۰-۲-۷- د استعمار د دسیسو د مخنیوي او په عامه ذهنیت کې د غوره ارزښتونو د خپراوي په اړه حفیظ الله لشکري هم دغه ټکي د حل لارو په توګه وړاندې کړي چې مهم هغه یې دا دي: په اسلامي ټولنه کې په سمه توګه ښوونه او روزنه، د اسلامي هېوادونو د مشرانو تر منځ د اعتماد فضا را منځته کېدل، د استعمار پر وړاندې د اسلامي فکر پیاوړي کول، د اسلام مبارک دین ته د کفري نړۍ را بلل، د نفس پر وړاندې جهاد، په کورنۍ باندې د الله متعال د اوامرو پلي کول، په ټولنه کې د اسلامي قوانینو ترویجول، د ساینس او تکنالوژۍ په ډګر کې د روڼ آندو ځوانانو هڅول، د اسلام مبارک دین ته بلنه او په سمه توګه یې نورو ته رسول، د یهودو او نصاراوو د باورونو په اړه د عامه ذهنیتونو خبرول او د رسنیو له لارې د اسلام د سترو شخصیتونو او اتلانو معرفي کول او د عامه ذهنیتونو روښانول.(۱۳:ص.۲۰۱)

**پایله:**




- ارزښتونه د باورونو او اهدافو تر منځ خپل ماهیت ثابتوي.
- که باورونه او اهداف جوړ شي، نو ارزښتونه په خپله مثبت حالت غوره کوي او عامه ذهنیتونه د هغو په رڼا کې په سم مسیر روانېږي.

- د رسنیو او عامه ذهنیتونو تر منځ اړیکه متناسبه ده که ارزښتونه مثبت وو په عامه ذهنیت به یې اغېز هم غالباً مثبت وي او که ارزښتونه منفي وو نو اغېز یې هم منفي وي؛ لکه څنګه چې له وربشو غنم نه حاصلېږي دغسې له منفي ارزښتونو هم مثبت اغېز لاس ته نه شي راتللی. له همدې دریځې مو د څېړنې د پیل فرضیه هم ثابتېږي.

- د ژورنالیزم منل شویو ارزښتونو ته مسلکي او ایماني ژمنتیا او هغه د مسلک او ثواب په نیت پلي کول، د ارزښتونو مثبت لور ته د تمایل او د پیاوړو اغېزو لامل کېږي.

- مثبت ارزښتونه عامه ذهنیت مثبت لور ته سوقوي او د رسنیو، خلکو او حکومتونو لپاره د پرمختګ او نېکمرغۍ تومنه جوړوي.

- منفي ارزښتونه او د ارزښتونو تضادونه عامه ذهنیت منفي لور ته سوقوي، جنګ جګړې او مبارزې رامنځ ته کوي، همدارنګه د رسنیو، خلکو او حکومتونو لپاره د فساد او شرارتونو په لور د چټکتیا او بدمرغۍ تومنه جوړوي.

- د مثبتو ارزښتونو سرچینې سالم فطرت، انساني وجدان، سلیم عقل، الهي ادیان او پر هغو پیاوړی ایمان وي.

- د منفي ارزښتونو سرچینې مجرمانه خصلتونه، ناسم برداشتونه او باطل باورونه وي.

**وړاندیزونه**

۱- رسنۍ دې هڅه وکړي چې د مثبتو اغېزو په موخه خپل ارزښتونه مثبت وټاکي.

۲ - هغه ټولنې چې د پرمختګ او نېکمرغۍ هوډ لري او غواړي چې د ځان لپاره مثبت ارزښتونه وټاکي، نو له هرڅه وړاندې دې د خپلو ارزښتونو بنسټونه او خپلې موخې سمې، برحقې او په حقیقي باورونو ولاړې غوره کړي.

۳ - د رسنیو، خلکو او سیاسي حاکمیت مثلث دې ټول په یو لاس د باورونو، موخو او وسایلو د سم او برحق ټاکلو په لاره کې دوامداره هڅه وکړي، چې د

ارزښتونو او عامه ذهنیت د مثبت مسیر او یو پر بل یې د پیاوړو مثبتو اغېزو ډاډ حاصل او ټولنه د پرمختګ او نېکمرغۍ په لور یون شي.

۴ ـ حاکمیت دې د رسنیو په اړه د لومړي مودیل په رڼا کې خپله پالسي غوره کړي چې هغه تر ټولو پیاوړی او د ټولنې د نېکمرغۍ مودیل ګڼل کېږي.

**مأخذونه**


۱- القرآن الکریم

۲- احمدی، جاویده. اصول اخلاق رسانه یی، انتشارات عازم: کابل، ۱۳۹۰هـ ش.

۳- اکرم، محمد وسیم. اسلام او رسنۍ، ژباړن: فرید احمد هلال، مومند خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۹هـ ش=۲۰۰۱م.

۴- بلیغ، عنایت الله. د پل خشتي د جامع مسجد خطیب او د پوهنتون استاد، «په اسلامي ټولنو کې د منبر ارزښت او اغېزې»، محمد داود ناظم، کابل، د ماسپښین ۲:۳۰ بجې د جمعې ورځ، ۱۳۹٦/۲/۸هـ ش.

۵- پاتر، دبورا. ورځپاڼه لیکل، ژباړن: شفیق الله امیرزی، اکسوس کتابپلورنځی: کابل، ۱۳۹۵هـ ل=۲۰۱٦م.

٦- حامد، عبدالرحمن. «د اسلامي فرهنګ په خورولو کې د انسان رسالت»، مبانی رسالت انسان در پرتو قرآن کریم- مجموعۀ مقالات سیمینار علمی تحقیقی، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل-افغانستان، ۱۳۹۱هـ ل.

۷- حکیمي، عزیز. د سولې ژورنالیزم، پښتو ژباړه: عنایت الله زیارمل، د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه (AJSC).

۸- سبحانی، محمد تقی. «موانع حضور اخلاق در صحنۀ مطبوعات»، مجموعۀ مقالات سیمینار رویکرد اخلاق در رسانه ها، مرکز مطالعات و تحقیقات رسانه ها: تهران، ۱۳۷۵هـ ش.

۹- شکرخواه، یونس. خبر، چاپ نهم، دفتر مطالعات و توسعۀ رسانه ها: تهران، سال ۱۳۷۷ هـ ش.

۱۰- عباسی، حجت الله. د خبریالۍ آرونه، ژباړن: ببرک میاخېل، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۱هـ ل=۲۰۱۲م.

۱۱- عبدالفتاح، الأميرة سماح فرح؛ باقر النجار؛ حارث القرعاوي. «الإعلام و تشكيل الرأي العام و صناعة القيم»، التحرير والتقديم: عبدالإله بلقزيز، مركز الدراسات الوحدة العربية: سلسلة الكتب المستقبل العربي(٦٩).

۱۲- کیا، علی اصغر؛ رحمان سعیدی. مبانی ارتباط، تبلیغ و اقناع، چاپ دوم، مؤسسهٔ انتشاراتی روزنامهٔ ایران: تهران، ۱۳۸۳هـ ش.

۱۳- لشکری، حفیظ الله. دسایس غرب در برابر کشورهای اسلامی، مرکز نشراتی بشارت و مرکز نشراتی عابد: کابل، ۱۳۹۰هـ ش.

۱۴- ناظم، محمد داود. جرایم رسانه یی در حقوق جزای افغانستان، جامعة المصطفى العالمية: چاپ حامد رسالت، کابل، ۱۳۹٦هـ ش.

۱۵- ناظم، محمد داود. د جرمونو په زیاتوالي او کموالي کې د رسنیو رول، د افغانستان د علومو اکاډمي: ناچاپ اثر، کابل، ۱۴۰۱هـ ل.

١٦-
https://www.amazon.in/%E%٨٠%٢AB%D%٨A%٧D%٨٤%٩D%٨A%٥D%٨B%٩D%٨٤%٩D%٨A%٧D٨٥%٩-%D%٨٨%٩D%٨AA%D%٨B%٤D%٨٣%٩D٨%٩A%D٨٤%٩-%D%٨A%٧D%٨٤%٩D%٨B%١-D%٨A%٣D٨%٩A-%D%٨٨%٩D%٨B%٥D%٨٦%٩D%٨A%٧D%٨B%٩D%٨A٩-Arabic-ebook/dp/B٠٧٧S٧VJKL#reader_B٠٧٧S٧VJKL

بيروت، تاريخ النشر: نومبر ٢٠١٣م، [المراجعه: ١٣٩٨/١٠/٢٩هـ ش.].

څېړندوی وجیه الله ظهیر

# د احمدشاه بابا پوځي سیاست

# Military Policy of Ahmad Shah Baba

***Researcher Wajihullah Zaheer***

**Abstract**

Ahmad Shah Baba was son of Zaman Khan, the ruler of Herat and was born in Herat in 1722. After facing many challenges and problems in his youth, he was entrusted with the power of Afghanistan at the age of 25 by Sabir Shah Kabuli (Malang) and the members of jirga (Assembly) at Sher Surkh area through elections.

After taking the charge, along with activities as (social, political, economic and cultural), he also started military measures and laid the foundation of his military policy with an Islamic and national spirit. As he has been a brave warrior, strong fighter and an experienced soldier himself, he always appreciated his national forces and soldiers in terms of military policy and considered their contribution in all his honors.

Ahmad Shah Baba was thinking that every state conquer and victory is achieved by the sacrifices of the Afghan national forces and he will never forget their sacrifices.

Ahmad Shah Baba's military policy was based on the establishment and consolidation of a great and united Afghanistan (Ariana's time), independence, defending boundaries, defending the oppressed and standing against the oppressors with full courage and integrity.

He considered these principles and objectives as his human, religious and national duty, for which he lived, fought and suffered a lot.

The same issues and discussions are what have been given place in this scientific-research article and ended with the preface, conclusion and best recommendations.

**لنډیز**

احمدشاه بابا د هرات د حکمران(زمان خان) زوی دی او په ۱۷۲۲ز.کال په هرات کې زېږېدلی او په ځوانۍ کې له ډېرو ستړیاو او ستونزو ګاللو وروسته، د شېرسرخ په لویه جرګه کې د صابر شاه کابلي(ملنګ) او جرګې د غړو له لوري په ۲۵ کلنۍ کې د افغانستان د واک د چارو د ترسره کولو لپاره وټاکل شو.

واک ته په رسېدلو سره یې د نورو هر اړخیزو( سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي) فعالیتونو ترڅنګ پر نظامي اقداماتو هم لاس پورې کړ او د خپل پوځي سیاست بنسټ یې په یوې اسلامي او ملي روحیې سره کېښود. دا چې نوموړی خپله یو سرښندونکی مجاهد، غښتلی مبارز او مجرب عسکر پاتې شوی و، نو د پوځي سیاست له مخې به یې تل د خپلو ملي ځواکونو او سرتېرو قدر کاوه او خپلو ټولو ویاړونو کې به یې دوی سهیم ګڼل. احمدشاه بابا په دې فکر و، چې هره سوبه او فتحه د افغان ملي ځواکونو په قربانیو منځته راځي، نو ځکه یې سرښندنو ته د قدر په سترګه کتل.

د احمدشاه بابا پوځي سیاست د لوی او متحد افغانستان په تحکیم، خپلواکۍ، دخپلو پولو(د لرغونې آریانا سرحدات) په ساتلو، مظلوم څخه په دفاع او د ظالمانو پر وړاندې په پوره جرات او متانت سره په درېدلو ولاړ و او دغه اصلونه او موخې یې خپله انساني، دیني او ملي وجیبه ګڼله. هغه اصلونه، د کومو لپاره چې یې ژوند او مبارزه وکړه او ډېرکړاونه یې وګالل. همدغسې مسایل او موضوعات هغه څه دي چې په دې علمي -څېړنیزې مقالې کې ځای ورکړل شوی او په سریزې، پایلې اویو لړ وړاندیزونو پای ته رسېدلې.

**سریزه**

د اتلسمې پېړۍ دلومړۍ نیمايي نږدې د پای کلونه د افغانستان په تاریخ کې هغه د ویاړ او افتخار څخه ډکه دوره ده، په کومه کې چې د یو معاصر او خپلواک افغانستان د بنسټ ډبره کېښودل شوه او افغان ملت د خپل ویاړلي او مېړني بچي(احمدشاه بابا) د توري له برکته د خپل برخلیک واگې په لاس کې واخیستلې.

دې کې هېڅ شک نه شته چې نوموړی یو وتلی پوځي قوماندان، مدبر او مجرب مشر او ستر فاتح و. له ټولو سوبو او پوځي کړو وړو څخه یې ځرگندېږي چې کله هم یو چپاولگر، لوټمار، ستمگر، غاصب او مظلوم آزاره فاتح نه و. نوموړي خپله پوځي سیاسي پالیسي او په ټوله کې خپل هر اړخیز سیاست د یو ځواکمن، پیاوړي، باثباته او خپلواک افغانستان د جوړېدو پر بنسټ تنظیم کړې و. هغه عقیده لرله چې له هر څه وړاندې د افغانستان خاوره یو موټی کړي او افغان ملت د ټاکل شویو حدودو(کوم چې د لرغوني آریایانو وو) په چوکاټ کې د نفوذ، اقتدار، یووالي او د یو ځواکمن اداري نظام خاوند کړي. نو، همدغه سبب و چې خپله لومړۍ موخه یې د افغانستان ساتنه ټاکلې وه.

نوموړي د خپلې پوځي پالیسۍ له مخې تل هڅه کوله چې د خپل ملي ځواک مرکز غښتلی کړي او پرې نه ږدي چې د نورو شاهي کورنیو( خلجیان، سوریان او لودیان ) په څېر د په هند په سیمه کې هلاک او ورک شي او د بابر په څېر په خپل وطن کې بې وطنه شي.

دغه راز احمدشاه بابا نه غوښتل چې خپل پاک دیني خدمت او د حق په لاره کې جهاد او مبارزه د دې نړۍ په متاع، جاه او جلال سره بې رنگه او بې خونده کړي. ده به تل کوښښ کاوه چې یوه ستونزه لومړی د سولې له لارې حل کړي، د نه امکان په صورت کې به یې بیا توري ته لاس غځوه.

دغه نوميالي مجاهد په کم وخت کې وکولای شول چې خپلو ټولو دښمنانو او رقيبانو ته خپل حقانيت ثابت کړي، د دوی پر خلاف ودرېږي او شوم پلانونه يې د تورې په زور خنثي کړي او په هر ډګر کې ورته ماتې ورکړي.

په دغې علمي – څېړنيزه مقاله کې چې له غوره او معتبرو منابعو څخه په کې ګټه اخيستل شوې، دا او دې ته په نورو ورته مسايلو چې د احمدشاه بابا پوځي سياست په بر کې نيسي، پرې بحث شوی.

**د څېړنې مبرميت**

دا چې احمدشاه بابا د هېواد د معاصر تاريخ بنسټګر، نوميالی مبارز، مدبر مشر، مجاهد، سپېڅلی مسلمان، غيرتي پښتون، عادل پاچا او د ښو شاعرانو په ليکه کې راځي، نو اړتيا وه چې په ټولنيز شخصيت او پوځي سياست يې هر اړخيز بحث وشي، ترڅو راتلونکی نسل يې له خدمتونو، سترياوو او هلو ځلو څخه په پوره معنا خبر شي.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنيزې - علمي مقالې بنسټيزه موخه دا ده چې د احمدشاه بابا په ټولنيز شخصيت، نظامي فعاليتونو او پوځي سياست په اړه د وس مطابق هر اړخيزه څېړنه د ګټې اخيستنې لپاره ترسره شي.

**د څېړنې مېتود**

په دې علمي – څېړنيزه مقاله کې د څېړنې له تحليلي او توصيفي مېتودونو څخه ګټه پورته شوې او هڅه شوې چې په څېړنه کې د څېړنې ټول اصول په ښه ډول رعايت شي.

**د څېړنې پوښتنې**

د افغانستان بنسټګر(احمدشاه بابا) د خپل ژوند په دوران کې يې خپل پوځي سياست د کومو اصولو او قوانينو له مخې تر سره کړ؟

## ۱ - د احمدشاه بابا شخصیت او واک ته رسېدل

احمد خان چې وروسته په احمدشاه بابا ملقب شو، د زمان خان زوی، د دولت خان لمسی، د سرمست خان کړوسی، د شېرخان کودی و. شېرخان بیا د خضر خان زوی او د سدو لمسی و. مور یې چې یوه غیرتي او تقوی داره مېرمن وه، د (زرغونه انا) په نوم یادېدله او ذوالفقار یې مشر ورور و، چاته چې احمدخان د پلار له مړینې وروسته د روزنې او پالنې لپاره پاتې شو.(۱۵ : ٦٦ مخ)

احمد خان ابدالي چې په خټه ابدالي سدوزيي و، په (۱۷۲۲ ز – ۱۱۳۵ هـ ق) کال د زرغونې انا له بطنه چې په خټه الکوزۍ وه، په هرات کې زېږېدلی.(۴: ۲۸۱ مخ)

تاریخ پوهانو د احمدخان د بڼې په اړه څه نه دي لیکلي او د هغه خپل انځور چې غوڅ لاسوند(سند) وګڼل شي، په لاس کې نه شته. خو بیا هم کوم انځورونه چې په پنجاب کې موندل شوي، د هغې له مخې احمدخان غوښن مخ، غټې سترګې، جګه پوزه، ورین تندی، توره ږیره او د شونډو د پاسه بیاتي شوې منځني بریت لرل.(۹: ۲۵ مخ)

احمد خان فطرتي ډېر زړور او پیاوړی و. په ټوله معنا یې یوه افغاني څېره درلوده. د وخت مروجه علومو د زده کړې ترڅنګ به یې د وخت مروج ساده کالي اغوستل. نوموړی به ډېر لږ پر تخت کېناسته. ساده خواړه یې خوښول او له غیر ضروري خوراکونو څخه به یې پرهېز کاوه. دغه راز نوموړی د ښې روغتیا خاوند و. یو باسواده او په ملي ژبو پوه شخص و. شعر به یې وایه او ډېر پوخ به یې لیکه. د مدرسو په درسونو کې به حاضرېده. عالمانو، روحانینو، شاعرانو، مشرانو او په ټوله کې به یې هر انسان ته درناوی کاوه.(۱۴: ۲۷ – ۲۸ مخونه)

دا چې نوموړی په هرات او یا که په ملتان کې زېږېدلی؟، په دې اړه د مؤرخینو ترمنځ اختلاف دی(خو راجح قول زما په اند د هرات دی). په هر حال؛ احمد خان خپل کمیکیتوب په هرات کې تېر کړی او د پلار له مړینې وروسته یې پالنه او روزنه د خپلې مور او مشر ورور په غاړه شوه. بیا یې کورنۍ پر هرات

د نادر افشار د یرغل له وېرې د کندهار پر لورې وخوځېدله او هلته دواړه ورونه، د شاه حسین هوتکي له لوري د شپږو کلونو لپاره په بند محکوم شول. وروسته چې کله نادر افشار هرات تصرف کړ او په ۱۷۳۸ ز.کال یې په کندهار برید وکړ، دواړه ورونه له زندان څخه خوشې کړای شول او د نادر افشار له لوري د ایران (مازندران) سیمې ته واستول شول.(۱: ۱۲۰ مخ)

دغه مهال احمدخان شل کلن و او د ځینو مؤرخینو په قول د څه وخت تېرېدلو وروسته یې مشر ورور (ذوالفقار خان) د صفوي دولت له لوري مسموم کړای شو. نادر افشار چې د افغانانو زړورتوب او مېړانه د بخارا او هندوستان په جګړو کې لېدلې وه، کله چې د بخارا او هندوستان له فتوحاتو را وګرځېد، نو احمدخان یې د خپلو افغاني لښکرو په ډله کې شامل کړ.(۱۵: ٦۷ مخ)

دا چې احمد خان ځانګړې ذکاوت او پوهه درلوده، ویې کولای شول چې په لنډه موده کې د زیات شهرت خاوند شي او د نادر افشار د باور وړ وګرځي. نادر دی لومړی د خپلو افغاني لښکرو په ډله کې شامل کړ، وروسته چې یې د ده نېک اخلاق، درایت او کفایت ولید، بیا یې د ابدالي او د ازبکو د ټولیو د قومندان په توګه غوره کړ او په پای کې یې د خپلو ټولو خدمتونو او اقداماتو له مخې د خپلو ځانګړو ساتونکو( د کومو چې تعداد څلورو زرو ته رسېده) د قومندان په توګه غوره کړ چې نوموړی بیا د نادر تر مرګ پورې په یاده دنده مؤظف و.(۱٦: ۴۳ مخ)

د نادر افشار دربار په رښتیني ډول د احمد خان لپاره د یوې مشهورې مدرسې حیثیت درلود. دی هلته په ټوله معنا ولوبېد. سړې تودې یې ولیدې. په فکر او پوهه کې یې زیاتوالی رامنځته شو. مجرب شخصیت شو او همدارنګه په یاد دربار کې یې د هندوستان، فارس او د افغانستان په اړه هر اړخیز معلومات ترلاسه کړل.(۱۵: ٦۷ مخ)

نادر، د عمر په وروستۍ برخه کې په عصبي ناروغۍ ککړ شو او خپلو نږدې افرادو سره به یې بد برخورد کاوه. هغوی سره به یې له وحشت او بدې رویې کار

اخيست، تر دې چې آن د هغوي په وژلو يې لاس پورې کاوه. هماغه و چې په اړه يې نږدې صاحب منصبانو او افرادو خپلو کې تړون وکړ او د خبوشان په سيمه کې يې د يوې دسيسې په پايله کې په ۱۷۴۷ز.کال له منځه يوړ.(٦: ۲۲ مخ)

د نوموړي له وژلو وروسته احمد خان ابدالي او نورمحمد خان مير افغان د افغان او ازبکو سرتېرو(سپاهيانو) په مرسته د نادر حرم د ياغي لښکرو له چور او چپاو څخه وژغوره او مېرمن او د کورنۍ نور غړي يې ورته په سالم ډول تهران ته واستول، چې د د غه خدمت په بدل کې ورته وروسته د نادر دکورنۍ(مېرمنې) له خوا بيا د کوه نور مشهور الماس او يوه اندازه نغدې پيسې هم ورکړل شول.(۴: ۲۸۰ مخ)

د گنډاسنگهـ(هندي څېړونکی) په وينا د نادر افشار د مړينې پر مهال افغاني ځواکونو ځانونه له هر لوري د پارسي مخالفينو په منځ کې وليدل. پارسيانو پرې بريد وکړ، خو د احمد خان په مشرۍ يې له ياد بريد څخه ځانونه وژغورل. دغه مهال دوی ته يواځينی لاره دا پاتې وه چې خپل مورني هېواد ته راستانه شي او د پرديو له واک او منگولو څخه خپله خاوره په خپلو متو وژغوري.(۱۲ : ٦٦ مخ)

همدغه سبب و چې احمد خان، نورمحمد خان غلجايي او نورو افغاني افسرانو چې د نادر په پوځ کې شامل وو، له ايران څخه د خپل هېواد په لورې حرکت وکړ. کله چې د هرات له لارې کندهار ته راورسېدل؛ د شېر سرخ په سيمه کې يې لويه جرگه را وغوښتله. دغې جرگې (۹) ورځې دوام وکړ. په دې موده کې د جرگې غړي په دې متفق نه شول چې يو تن د پادشاه په توگه وټاکي. پای کې پرېکړه په يوه حکم وشوه چې هغه هر تن مناسب وباله، نو هغه به په گډه ټول مني. صابر شاه کابلی چې يو ملنگ او صوفي انسان و، د جرگې له لوري د حکم په توگه وټاکل شو او هغه داسې يو تن چې مشرۍ ته کانديد هم نه و، د افغانستان د راتلونکي زعيم په توگه وټاکه چې هغه ځوان احمدخان

ابدالي و او د جرگې غړو هم د نوموړي یاد نظر په اکثریت سره تائید کړ.(۱۵: ٦۹ مخ)

په دې توگه د جرگې ټولو غړو په یوه نوښتگر (۲۵) کلن ځوان(احمد خان) چې قبیله یې هم د نورو په نسبت کوچنۍ وه او هم یې سن کم و، پرې توافق وکړ او د افغانستان د واکمن په توگه یې غوره کړ.(۱۱: ۸ مخ)

دا چې د شېرسرخ په جرگه کې د قبیلو لویو مشرانو پر یوه پنځه ویشت کلن ځوان اعتبار وکړ او د افغانستان د اقتدار چارې یې ور وسپارلې، دا کومه تصادفي پېښه نه وه، بلکې د احمد خان شخصیت او د هغه مهال شرایطو ده ته د دې زمینه مساعده کړه چې ولس پرې باور وکړي او د مشرانو له لوري اختیارات ورکړل شي. په اصل کې یو سبب دا هم و چې له یو لوري د احمد خان قوم(سدوزیي) په اصطلاح لږکی و، خانانو ته یې تشویش نه پیداکوه او له بل لوري یې له ځان سره د فارس(اوسنی ایران) نه ډېرې پیسې راوړې وې، خو په جرگه کې د ده د بریالیتوب اصلي راز د ده شخصي درایت، پوهه، ذکاوت او بل د قومي خانۍ بنسټونه وو.(۸: ۱۴ مخ)

د سید قاسم رښتیا په قول، که چېرې صابر شاه فقیر، د اوربشو وږی د احمدخان په پگړۍ کې نه وای ټومبلی نو امکان د دې و چې د جرگې د استازو له لوري حاجي جمال خان چې د بارکزیو د قوم یو قدرمن او معزز مشر و او د عامو خلکو په زړونو کې یې درنښت درلود، ټاکل شوی وای، خو کله چې جرگې، احمد خان دمشر په توگه وټاکه، هغه لومړنی تن و چې بیعت یې ورسره وکړ او مبارکي یې ورکړه.(۵: ۳ مخ)

احمد خان واک ته په رسېدلو سره له هېواد څخه د پردیو د واکمنۍ ټغر ټول کړ او د یو خپلواک دولت او امپراتورۍ بنسټ یې کېښود چې همدغه ستر بدلون بیا د معاصرې پېړۍ د تاریخ پیل وگرځېد.

## ۲ – د احمدشاه بابا د پوځ جوړښت

لکه څنګه چې مخکې ذکر شول، احمد شاه بابا واک ته په رسېدلو سره د روانو حالاتو او شرايطو څخه د خپل سياست او ځيرکتيا له مخې په مدبرانه ډول ګټه پورته کړه. ده د يوې افغاني امپراتورۍ نقشه طرحه کړه او د هغې د ټينګښت لپاره يې په خپل شپږويشت کلن(۲٦) سلطنت کې په پرلپسې ډول داسې فعاليتونه ترسره کړل چې پاتې عمر يې د جګړو په ډګر او د آس پر شا تېر کړ او سوبې يې وګټلې.(۸: ۲٦ مخونه)

دا چې احمدشاه بابا له کمکيوالي څخه ذاتاً يو سپاهي،کلک پښتون او انسان دوست شخص و، نو د واک له پيل څخه يې ډېره پاملرنه خپل ملي پوځ ته وکړه. نوموړي به د خپل پوځ او سرتېرو درناوی کاوه او هغوی به يې په خپل سترتوب او وياړ کې شريک بلل. تل به يې ويل، زه هم د دوی له ډلې يم، زه شخصاً د دوی په توره او دريځ دغه مقام او ځای ته رسېدلی يم.(۷: ۸ مخ)

د احمدشاه ابدالي له واکمنۍ څخه مخکې افغانستان اداري نظام نه درلود. همدغه سبب و چې ده د خپل سياست پر مټ د يو نوي تشکيلاتي نظام د جوړېدو هڅه وکړه. د نظام په جوړښت کې يې د ايران صفوي ، د هند مغولي دولتونو او د افغاني ټولنې قبيلوي عرف او عنعنات د دولت د عناصرو په توګه شامل کړل. ياد اداري نظام په سر کې په دوو(ملکي او نظامي) برخو وېشل شوي و. وروسته ملکي اداره هم په دوو برخو ووېشل شوه چې يوه برخه يې امنيت او دويمه برخه يې د عامه خدمتونو وه. د دغې ملکي ادارې په سر کې صدراعظم(اشرف الوزراء) قرار درلود، چا چې د پاچا د مشاور حيثيت درلود او د هغه په امر به يې چارې ترسره کولې.(۱۴: ۲۹ مخ)

د دغه نوي خپلواک نظام او ادارې مهمه برخه نظامي څانګه وه. د دغې برخې عمده مسؤوليت د هېواد دفاع، ساتنه او د نويو سيمو فتحه کول وو. احمد شاه بابا واک ته په رسېدو سره د نورو مهمو چارو ترڅنګ يوه مهمه بله توره د خپل سياست له مخې دا وکړه چې د منظمې او مجهزې اردو بنسټ يې کېښود.

دغه اردو(پوځ) د شاهي غلامانو(غلام خانه) په نوم يادېده، چې تعداد يې شاوخوا (۱۸۰۰۰) اتلس زرو ته رسېده. دغه لښکر به په سفر او حضر کې له پاچا سره ملګرى و او مياشتنۍ معاش(تنخواه) به يې معلوم و. دغه پوځ به په عسکري چوڼيو کې ژوند کاوه. خوراک او پوښاک يې د دولت په غاړه و او په درېيو ځانګو وېشل شوى و. دغه برخې له سپرو، پياده و او توپچي څخه عبارت وې. دغه راز دغه ملي پوځ دويمه برخه هم لرله چې غير منظم يا د قبيلوي پوځ په نامه يادېدله. دې لښکر معلومه مياشتنۍ تنخواه نه درلوده. په پوځي چوڼيو کې يې ژوند نه کاوه، يواځې د اړتيا پر مهال به له ولايتونو څخه مرکز ته راټولېدل، له دندې سرته رسولو څخه به وروسته خپلو سيمو ته ستنېدل او وسلې به يې حکومت ته سپارلې. دغو سرتېرو به اکثراً د دولتي محصولاتو په بدل کې دولت ته خدمت کاوه.(۱۵: ۷۲ مخ)

د افغانستان د نظامي تاريخ د ليکوال په قول، د دراني امپراتورۍ نظامي ځواک د هېواد له سياسي جوړښت سره په مطابقت کې جوړ شوى و. ملي پوځ په تدريج سره پراخېده، چې يوه برخه يې منظم مسلکي پوځونه وو، کوم چې (پوځ نظام) بلل کېدل او نوره زياته برخه يې غير منظمې قومي ملېشې وې چې د قومي مشرانو له خوا د نغدي تنخواه پر وړاندې راټولېدې او(فوج ګشاده) يې بللې. منظمه پوځ په غونډونو وېشل شوى و، چا چې به تل د پاچاهۍ محافظت کاوه او ځانګړي قطعات په کې شامل وو. دغه قطعات په بېلا بېلو نومونو لکه(غلام صف شکن)،(رساله شاهي)، (غلام خانه) او (غلام شاه) يادېدل. د منځنيو پېړيو په څېر دغه «غلام» ټولګى له غير قبايلي خلکو جوړ شوى و او دوى له پاچا پرته په بل هېڅ رهبر او قومي مشر پورې تړلي نه وو. دغه راز احمدشاهي پوځ لوړ دسپلين درلود. په کنډکونو وېشل شوي وو، چې هر کنډک يې زر تنه سپاره درلودل. دغه رنګ هر کنډک به بېل رنګ خولۍ درلودې. د يوې قبيلې د مشر تر امر لاندې به وو او هر مشر به پرته له کومې وقفې په ورځ کې دوه ځلې احمدشاه بابا ته راپور ورکاوه.(۲: ۹۲ مخ)

په ټوله کې ویلای شو چې احمدشاه بابا وروسته له دې چې د واک پر ګدۍ کېناست، غوښتل یې چې د افغانستان پولې(سرحدات) خپل پخواني او لومړني(د لرغونو آریایانو) حالت ته ورسوي، لکه څنګه چې په خپلې دغې موخه کې بریالی هم شو او د یوې سترې امپراتورۍ بنسټ یې د خپل سیاسي بصیرت له مخې کېښود. د دغو موخو په ترلاسه کولو کې یې له شک پرته د خپل منظم پوځ او اردو لاس و. دغه پوځ چې په دوو برخو وېشل شوي و، د پردیو مجهزو پوځونو په مقابل کې یې د هېواد پالنې اوخپلواکۍ عالي روحیه او درس لیدلی و او د بریالیتوب بل عمده دلیل او راز یې دا و چې مشر(احمد شاه ابدالي) یې په جنګونو کې له پوځي سیاست او نظامي مهارتونو(تکتیکونو) څخه ګټه اخیستله او هم یې دوی په یوې پاکې عقیدې روزلي وو.( ۱۷: ۱۸۵ مخ)

د علامه حبیبي په وینا، احمد شاه بابا په ټوله کې په منځنۍ کچه یو لک عسکر ساتل او له پنجاب، کشمیر او سند څخه نیولې د آمو تر سیند، مشهد او د عربو بحیرې پورې د ده د هېواد ټول عایدات (۳۱) میلیونو روپیو ته رسېدل، خو جنګي ولجې(غنایم) چې د هند په جګړو کې لاس ته ورتلل له دغه حساب او شمېر څخه جلا دي.(۴: ۲۸۲ مخ)

نو ویلای شو چې احمد شاه بابا د خپل پوځي سیاست له مخې د یوې منظمې او روزل شوې اردو او پوځ په مرسته وکولای شول چې د افغانستان لپاره خپل لوړ فکر وپالي، ستراتیژي وټاکي، پوځي سفرونه وکړي، نوې سیمې فتحه کړي او په ټوله کې د افغانانو هغه نیمګړې آرمانونه پوره کړي.

**۳ – د احمد شاه بابا جنګي ستراتیژي او پوځي سفرونه**

مخکې له دې چې د یاد بحث څېړلو ته راشم، پیل کې لازمه ګڼم چې نظامي یا پوځي سیاست پر تعریف یوه رڼا واچوم، د نړیوالو اړیکو د ماهرینو او متخصصینو په نظر نظامي یا پوځي سیاست د یو هېواد د بهرنۍ پالیسۍ هغه برخه ده چې د پوځي ځواک د کارونې، ګواښ او یا د پوځي همکاریو له لارې د خپلو ملي ګټو د خوندیتوب او پرمختګ لپاره هڅې کوي.

نو په همدې سبب ویلای شم چې احمدشاه بابا ذاتاً یو وتلی پوځي او نومیالی سپاهي و. د ځوانۍ له مهاله د نادر افشار په پوځ کې شامل او هلته یې د هند، ایران او افغانستان په اړه لازم معلومات ترلاسه کړل. د نادر په دربارکې سیاسي پوختګۍ ته ورسېد، که څه هم عمر یې کم و. نو کله چې د افغانستان زعامت ور له غاړې شو، نو په ټوله معنا د سیمې او د خپل هېواد له قلمرو څخه پوره خبر و. په همدې سبب یې د خپل سیاست او بصیرت له مخې د یوې لویې امپراتورۍ نقشه طرحه کړه او ویې کولای شول چې د ځان لپاره د خپل پوځي سیاست له مخې داسې ستراتیژي چې د افغانستان په ګټه وي او غلیم یې له خاورې تمبولی وي، جوړه کړي.

نو، کله چې واک ته ورسېد؛ د دولت د چارو د پرمخ بیولو او د ملي پوځ د تنظیم په برخه کې له مالي ستونزو سره مخامخ و. دا مهال د ملتان، پنجاب او ختیځ افغانستان د څو کلونو د مالیاتو کاروان، کوم کې چې یو میلیون او درې سوه اوه شپېته زره سره، نقدې پیسې او اجناس شامل وو، د نادر افشار لپاره د بولان د درې له لارې کندهار ته را ورسول شول چې بیا د احمدشاه بابا د موخو په ترسراوي کې پر ځای مصرف شوې.(۱۰: ۴۲۲ مخ)

د احمدشاه بابا د پوځي سیاست او ستراتیژۍ په اړه ویلی شو چې نوموړي د امپراتورۍ له بنسټ اېښودلو وروسته د ګاونډیو هېوادونو پر سیمو باندې د نفوذ خپرولو او د افغانستان د اصلي پولو(لرغوني آریانا) د ترلاسه کولو لپاره په پیل کې بریالي ګامونه پورته کړل او د ترکستان، هندوستان او فارس(اوسنی ایران) په نږدې سیمو باندې یې خپل واک او نفوذ خپور کړ چې دا کړنه په خپل ذات کې د احمدشاه بابا د پوځي ستراتیژۍ ډېره پېچلې برخه جوړوي.

دغ راز زیات شمېر افغاني مؤرخین په دې خبرې باندې متفق دي چې د احمدشاه بابا پوځي سیاست او تاکتیک دا و چې خپل هېواد د بهرنیو یرغلګرو له ضربې او ګوزارونو څخه وساتي او له مفتوحه سیمو نه د نورو د تېریو پر وړاندې

د ډال او سپر په توګه کار واخلي او هم يې کوښښ داو چې جنګ د خپل تاريخي او مورني وطن له طبيعي او تاريخي پولو څخه لرې وساتي.(۷: ۱۳ مخ)

همدغو سترو موخو ته د رسېدلو لپاره احمدشاه بابا تر هر څه لومړی د خپل پوځي سياست له مخې د يو ملي او خپلواک پوځ بنسټ کېښود او د همدغو لښکرو پر مرسته يې وکولای شول چې شمال، ختيځ او لوېديځ لوريو ته پوځي سفرونه وکړي. دا چې نوموړي چېرته او څنګه پوځي سفرونه کړي، غواړم دلته پرې په لنډ ډول بحث وکړم.

تر هر څه وړاندې احمدشاه بابا په لويديځ کې خراسان، په ختيځ کې کورګاني هند او په شمال کې د ازبکو جنيدي دولت په هغو قالبونو کې ځای کړل چې ده ورته ټاکلي وو او د نده يې د افغاني امپراتورۍ د ټينګښت او پايښت لپاره خدمت و.

ده په ۱۷۴۷ ز.کال کې تر لومړنيو کارونو وروسته په ۱۷۴۸ز.کال له کندهار څخه حرکت وکړ. غزني، کابل او پېښور يې د آباسين تر غاړو پورې د خپل دولت په قلمرو کې شامل کړل او بيا کندهار ته را وګرځېد. په دويم قدم کې په ۱۷۴۹ ز.کال له کندهاره د هرات په لور وخوځېد، هلته يې يو لښکر د اشرف الوزراء(شاه ولي خان) په مشرۍ شمالي ولايتونو ته واستوه. هغه پرته له کومې جګړې د شمال ټول حکمرانان احمدشاهي دولت ته تابع کړل او په خپله احمدشاه بابا د يو بل لښکر په مشرۍ په ۱۷۵۰ز.کال تر مشهده ولاړه او هلته يې ټول ياغي ځواکونه وټکول. شاه رخ ميرزا يې د هغې سيمې د پاچا په توګه وټاکه او نورمحمد خان مير افغان يې ورته سپه سالار کړ.(۸: ۲۷ مخ)

بيا په ۱۷۵۱ز.کال د يادو بغاوتونو له ټکولو وروسته د هرات له له لارې کندهار ته راغی او د دې څلورو کلونو په موده کې وکولای شول چې د افغانستان سياسي يووالی له آمو څخه تر سند درياب پورې او له هغه ځايه د فارس تر دښتو پورې بشپړ کړي.

همدارنګه د پنجاب حکمران(میرمنو) احمدشاهي دولت ته مالیه نه رالېږله، احمد شاه بابا په ۱۷۵۲ز.کال د هند پر لوري ولاړ او میرمنو ته یې ماتې ورکړه، خو بېرته یې د ځینو مصلحتونو پر سبب پر واک پرېښود. په دې ډول سره یې کشمیر هم ونیوه او په لاهور کې یې دوه ملیونه مالیه ترلاسه کړه. پنجاب او ملتان یې د افغانستان برخه کړل او هم یې سند د احمدشاهي دولت په قلمرو کې شامل کړ.(۱۴: ۱۹ مخ)

یو کال وروسته(۱۷۵۳) ز.کال د پنجاب حکمران(میرمنو) مړ شو. احمد شاه د هغه زوی(میر مومن) د لاهور د حکمران په توګه غوره کړ. دا چې نوموړی کوچنی و، نو د خپلې مور(مغلانې بېګم) په لارښوونه یې حکومت کاوه. همدغه وخت د یادې مېرمنې له خپلو امیرانو سره اختلاف رامنځته شو چې پایله کې د نواب عبدالصمد خان زوی(خواجه عبدالله خان) له لوري بندي شوه او نوموړي بیا له احمدشاهي دولت څخه د لاهور د حکمراني مقام وغوښت. احمد شابابا د چارو دسمون په موخه امان الله خان پوپلزی لاهور ته واستوه، خو هغه څه ونه شو کړای او پر ۱۷۵٦ز.کال آدینه بیګ(عماد الملک غازی الدین قومندان) د ډهلي د لښکر پر مرسته لاهور ونیوه او دېرش لکه روپۍ یې د ډهلي دولت(احمدشاه کورګاني) ته ورکولې.(۴: ۲۸۵ مخ)

د یادې پېښې ترڅنګ په دغه دوران کې یو لړ نور بد تغییرات هم رامنځته شول، هغه داسې چې د ډهلي امپراتور احمدشاه کورګاني(محمد شاه رنګیلا زوی) د خپل صدراعظم(عماد الملک غازي الدین) له لوري خلع او بیا یې ووژه او پر ځای یې دوهم عالمګیر واک ته ورسوه. همدارنګه په کشمیر کې یې مستوفي سکجیون د کشمیر افغاني حاکم(خواجه کوچک) یې مړ کړ او یاده خاوره یې ډهلي پورې وتړله. له بل لوري (آدینه بېګ) پنجاب هم ونیوه او په هند پورې یې وتړه.(۸: ۲۷ مخ)

د همدغو پېښو پر سبب احمد شاه بابا په ۱۷۵٦ز.کال کې له کندهار څخه د بلوچستان له لارې پنجاب ته روان شو. لاهور ته رسېدو سره سم آدینه بیګ

وتښتېد او د نورالدین خان په مشرۍ د احمدشاه بابا لېږل شوي لښکر کشمیر ونیو او سکجیون یې بندي کړ.(۱۴: ۲۰ مخ)

دې پسې دوهم عالمګیر د افغان نجیب الدوله په قوماندانۍ یو لښکر د احمدشاه بابا مقابلې ته را واستوه، خو نوموړی پرته له جنګه تسلیم شو او احمدشاه فاتح ډهلي ته ننوت. نوموړي هلته افغاني مشران پر دندو مقرر کړل، مالیې راټولې کړې او دوهم عالمګیر خپله وربره د احمدشاه بابا زوی(شهزاده تیمور) ته ورکړه.(۸: ۲۷ مخ)

احمدشاه بابا د ډهلي د شاوخوا تر نیولو او د هغه ځای د یاغیانو تر ټکولو وروسته عبدالصمد خان اشنغری د سرهند حاکم، سرفراز خان یې د دوآبه ستلج حاکم، شجاع خان ابدالي یې د ملتان حاکم او شهزاده تیمور یې له سند پورې د لاهور حاکم وټاکه. سپه سالار جهان خان یې د سکانو مخنیوي ته وګماره، بلند خان سدوزایي ته یې د کشمیر حکومت وسپاره او د ۱۷۵٦ ز.کال په پای کې کندهار ته را وګرځېد.(۴: ۲۸۵ مخ)

یوکال وروسته په ۱۷۵۸ز.کال په پنجاب کې د افغاني حکمرانانو فشار سکان منسجم کړل او غازی الدین جسان راجپوتان پر ډهلي راوستل، چې سردار جان خان او شهزاده تیمور دغه مهال تر خطر لاندې راغلل.(۸: ۲۷ مخ)

له بل لوري د هېواد په داخل کې نصیرخان بلوچ د مرکزي دولت پر ضد بغاوت وکړ. پیل کې احمد شاه بابا، وزیر شاه ولي خان بلوچستان ته ور ولېږه او وروسته ورپسې خپله ورغی. پایله کې بلوچ ماتې وخوړه او د جګړې له ډګر څخه وتښتېد او بیا یې ترمنځ سوله وشوه. دا چې په یاد وخت کې د ستونزو ګراف کچه لوړه وه، د حالاتو د ښه والي او د مصلحت پر سبب احمدشاه بابا د بیا ځل لپاره نصیر خان بلوچ د بلوچستان د حکومت حاکم په توګه وټاکه او په خپله کندهار ته را وګرځېد.(۱۴: ۲۱ مخ)

نصیر خان بلوچ سره سوله کول او بیا ځل ورته واک سپارل د احمدشاهي دولت هغه مصلحت و چې هم مهاله په هند کې یو لړ تغییرات رامنځته شول.

هغه داسې چې هلته يو لړ محلي ځواکونه(مرهټيان) د احمدشاهي دولت پر ضد راپورته شول، ترڅو په ډهلي او پنجاب کې افغاني دولت را وپرځوي. پايله کې جټان او راجپوتان هم د مرهټيانو سره يو ځای شول. د مرهټيانو مشر(راگونات) د پنجاب او ډهلي تر نيولو او په اسلامي حاکمانو باندې له برياليتوب وروسته ډېر غره، مغرور او ډاډه شوی و. نو کله چې احمدشاه بابا د بلوچستان قضيه يو طرفه کړه، کندهار ته له رسېدو وروسته يې دېرش زره پوځونو سره د بولان د درې له لارې سند ته ورسېد. بيا پېښور ته ولاړ او هلته ورسره شهزاده تيمور او په اټک کې جهان خان ملگری شو. کله چې دغه ټول پوځونه د احمدشاه بابا په مشرۍ پنجاب ته ورسېدل، د آدينه پر ځای د مرهټيانو ټاکل شوی قومندان وتښتېد او پر وړاندې يې سکانو ځانونه غلي کړل او هېڅ جگړه ونه شوه.(۱۰: ۴۲۸ مخ)

له دې وروسته احمدشاه بابا ډهلي پورې پر لاره دېر باغي ځواکونه وټکول او بيا په هند کې د پښتنو ځينې مشران لکه سپه سالار نجيب الدوله، سعدالله خان روهيله، حافظ الملک رحمت خان او د هغه زوی عنايت خان، دوندي خان او قطب خان له لس زرو تنو لښکرو سره د احمدشاه بابا حضور ته راغلل چې دا وخت د نومړي ټول لښکر چې په هغه کې د کندهار، پېښور، بلوڅو او د هند افغان غازيان را غونډ شوي وو، شپېتو زرو پليو او سپرو ته رسېدل، کومو سره چې توپخانه هم وه.(۴: ۲۸٦ مخ)

افغان ملي پوځونو له هندوانو او سيکانو سره ډېرې جگړې وکړې او دېرې سوبې يې ترلاسه کړې، خو پای کې د پانې پت په ډگر کې له درې لکه هندوانو(مرهټيانو، راجپوتانو او جټانو) سره مخامخ شول. دا چې احمدشاهي پوځونه(٦۰۰۰۰) د پوره نظم او دسپلين څخه برخمن وو، همدا سبب و چې په دغه سخت جنگ کې پر هندوانو غالب شول او سوبه(فتحه) يې وکړه. (۱۴: ۲۱ مخ)

په دغې جگړه کې افغان ملي ځواکونو شاوخوا دوه لکه هندوان له تېغه تېر کړل او د ۱۷۶۰ز.کال چې د ۱۱۷۴هـ ق کال د جمادی الاخری د میاشتې شپږمې نېټې سره سمون خوري، لویه سوبه یې د احمدشاه بابا تر مدبرانه مشرۍ لاندې په خپل نوم کړه. د دغې جگړې په پای کې احمدشاه بابا ۲۲ زره هندوان اسیران کړل، ۵۰۰ پیلان، ۵۰ زره آسونه، دوه لکه غواوې او څو زره اوښان یې غنیمت ونیول. (۴: ۲۸۶مخ)

وروسته یې د هند پاچاهي د مغولو د خاندان د دوهم عالمگیر زوی، شهزاده علي گوهر(ملقب په شاه عالم ثاني)ته ور وسپارله او میرزا جوان بخت(زوی) یې ورته مرستیال کړ. همدارنگه نواب شجاع الدوله یې د فرزند خان او رستم هند په لقب وزیر اعظم او پښتون نواب نجیب الدوله یې سپه سالار وټاکه او ترڅنگ یې د پنجاب حکومت زین خان مومند ته وسپاره او خپله کندهار ته راغی او د هرات چارې یې شهزاده تیمور ته په لاس ورکړې.(۴: ۲۸۷ مخ)

د دغې جگړې په اړه محمود الحسیني داسې لیکي:«از روی تاریخ معتبر بعد از بعثت حضرت پیغمبر آخر الزمان تا این زمان هیچ یک از سلاطین نامدار اسلام چنین جنگ را با کفار تیره انجام نکرده و در قلع وقمع ارباب ظلام اینقدر سعی وکوشش بظهور نیاورده، خصوصاً پادشاهان ذی شلوت هندوستان مثل جلال الدین اکبر، جهانگیر، شاه جهان اورنگ زیب عالمگیر با قشون بیشمار نتوانسته اند که این طایفه(مرهته) را مغلوب ومخذول سازند».(۱۳: ۴۱۰ مخ)

د پاني پت د جگړې بریا د څه وخت لپاره سیاسي اوضاع او فضا کنترول ساتلې وه، خو په ۱۷۶۳ ز.کال په پیل سره یو ځل بیا سیکانو بغاوت پیل کړ. دا ځل بیا احمدشاه بابا له کندهاره ورغی او ۷۰۰۰۰زره لښکر یې ورته تار او مار کړ. وروسته یې د پټیالي او تر هند پورې حکومت یو سېک(امیر سنگ) ته وسپاره او خپله کندهار ته راغی. د وخت په تېرېدلو سره په ۱۷۶۹ز.کال یو ځل بیا د خراسان اوضاع خرابه شوه، خو احمدشاه بابا سره له دې چې ناروغه و، د

وروستي سفر په لړ کې یې ځان ور ورساوه او د هغه ځای یاغیان یې وټکول او د بیا ځل لپاره یې ړوند شاهرخ په یادې سیمه کې پاچا کړ.(۸: ۲۸ مخ)

**۴ – د احمدشاه بابا د پوځي عملیاتو ځرنګوالی**

دې کې شک نشته چې احمدشاه بابا ذاتاً او فطرتاً یو وتلی پوځي قومندان او ستر فاتح و. له ټولو سوبو او پوځي کړو وړو څخه یې ځرګندیږي چې کله هم یو چپاولګر، لوټمار، ستمګر، غاصب او مظلوم آزاره فاتح نه و. کوم کار چې به یې د سولې له لارې ترسره کولای شو، نو هېڅکله یې هغه وخت بیا تورې ته لاس نه غځوه.

کله چې د واک پر ګدۍ کېناست، په هېواد کې یې د پراخه اداري، مالی او مدني تشکیلاتو ترڅنګ پوځي ادارات هم رامنځته کړل چې د هغو له ډلې څخه یو هم دکابل د جنګي بالاحصار ترمیم یادولی شو. لکه څنګه چې احمدشاه بابا خپله د هېواد یو وتلی غښتلی سرباز و، همدغه رنګ یې خپلو ملي پوځونو ته د درناوي په سترګه کتل. نوموړی په دې پوهېده چې همدغه ملي پوځونه د هېواد ساتونکي او مدافعین دي، نو په همدې بنسټ یې په اسلامي او ملي روحیې روزل.(۱۷: ۳٦٦ مخ)

احمد شاه بابا نه مخکې پوځي تکتیکي قواعد، هغو قواعدو ته ورته وو، چې هغه مهال یو زیات شمېر ختیځو هېوادونو کې باب وو، خو د کمین نیولو فن او د ناڅاپي بریدونو ترسره کول د احمدشاه بابا ځانګړنه وه. نوموړي به د جنګ له پیل نه مخکې د تاکتیکي حرکاتو سیمه کشفوله او د هغې له مخې به یې نظامي پلانونه ترتیبول. په عمومي توګه د ځواکونو جنګي نظام د اسلامي تاکتیکي قواعدو سره سم جوړېده او د تاکتیکي قواعدو له مهمو موضوعاتو څخه یو هم پر سنګرونو یرغل و. د معمول مطابق به احمدشاه بابا د دښمن هدفي سیمه کلابنده کړه، د اړیکې او اکمال کرښې به یې پرې کړې او په دې ډول به یې د محاصره شوو افرادو اراده د اقتصادي فشار او زور اچونې په وسیله کمزورې کړه.

د عملیاتو پر مهال د پوځ جوړښت په ښي او کیڼ لوري، مرکز یا زړه، مخکنۍ او وروستنۍ برخو باندې وېشل کېده. د پوځ مرکزي برخه د پلي او توپچیانو په وسیله پیاوړې کېدله. له درنو وسلو(توپونو) څخه به یې د اړتیا پر مهال په بېلا بېلو سیمو کې ګټه اخیستله. د مدافعې په دوران کې به یې د پلیو او سپرو ټوپک لرونکو څخه کار اخیست او د باروتو په مرسته به یې د دښمن یرغلیز بریدونه تر ډزو لاندې نیول.(۷: ۲۵ مخ)

جنګ به د لرې واټن وسلې(توپ) په ډزو سره پیل کېده او زیات وخت د لاس او ګرېوان، د تورې او خنجر په جګړې سره پای ته رسېده. احمدشاهي پوځ به په ډېرې چټکۍ سره د اسلامي او خپلواکۍ د احساس له مخې د تورو او نورو وسلو په استعمالولو سره بریدونه کول. د شاهي ارګ سرتېرو چې غورچاڼ شوي سپاره عسکر وو، د غوره او پرېکړه کوونکې پایلې په ځای کې د وروستي احتیاط په توګه استعمالېدل او کله ناکله به یې د شاه په قومانده په خپلواکو او ستونزمنو فعالیتونو کې برخه درلوده.

له سیندونو او دریابونو څخه د تېرېدلو په حالت کې به له پلونو څخه کار اخیستل کېده او هم به د پوځي عملیاتو زیات محرمیت ساتل کېده. کله ناکله به یې له جګړې مخکې د دفاع لپاره د پوځ شاوخوا ژور خندقونه وېستل کېدل اوجګړه ییز سوقیات به یې دبېلا بېلو سیاسي، جغرافیایي، اقتصادي، روحي، ټولنیز، جیوپولیتیکي، ستراتیژیکي، اوپراتیفي او تاکتیکی حالاتو په پام کې نیولو سره ترسره کول. (۳: ۳۱۱ مخ)

پای کې ویلای شو چې په افغانستان کې احمدشاهي امپراتورۍ له پوځي پلوه یوه کلاسیکه دوره وه. په دغه دوره کې د افغانانو سیمه ییزې او عنعنوي وړتیاوې، د عسکري ښوونې او روزنې له کلاسیکو مېتودونو سره و اغړل شوې او تشکیلات پر ټاکلو پرنسیپونو او بنسټونو باندې استوار کړای شول.(۷: ۲۶مخ)

### ۵ – د احمدشاه بابا د پوځي سفرونو موخې

مخکې له دې چې د احمدشاه بابا د پوځي سفرونو پر موخو رڼا واچوو، دغه بحث د احمدشاهي دولت پیل او د احمدشاه بابا ټاکنې ته ور ګرځي. په ټوله کې ویلای شو چې مخکې له دې چې احمدشاه بابا واک ته ورسېږي، د اوسني افغانستان په نامه کومې خاورې شتون نه درلود او همدغه احمدشاه بابا و چې د اوسني افغانستان بنسټ یې کېښود او د خپل لوړ سیاسي فکر او بصیرت له مخې یې د یوې سترې امپراتورۍ نقشه طرحه کړه. وروسته له دې چې نوموړې نقشه طرحه شوه او بیا احمدشاه بابا د یاد فکر، طرحې او خپلو موخو لپاره کوم فعالیتونه او اقدامات ترسره کړل، په دې اړه مؤرخین بېلا بېل نظریات لري.

د ابراهیم عطایي په قول احمدشاه بابا د خپل پوځي سیاست، جګړو او ډېرو سختو سفرونو له مخې وکولای شول چې خپلې سترې هیلې او موخې ته چې د یوې سترې او غښتلې امپراتورۍ جوړول و، ور ورسېږي. د کومې امپراتورۍ حدود چې بیا له خراسان څخه د پنجاب تر وروستیو څنډو او د آمو له حوزې څخه د عربو تر سمندرګي پورې رسېدل.(۸: ۲۸ مخ)

د همدغې موخې لپاره نوموړي په خپل سیاسي فکر، پوځي تدبیر او ځیرکتیاسره په دې وتوانېد چې د ګاونډیو هېوادونو له اختلافاتو او کورنیو شخړو څخه د خپل دولت او خلکو لپاره ګټه واخلي او د خپل غښتلي پوځ پر مټ د لرغونې آریانا اصلي خاوره د دویم ځل لپاره تصرف کړي او درېیو لوریو(ختیځ، لویدیځ او شمال) ته پوځي سفرونه او بریدونه وکړي او د افغانستان کلتوري حدودوکې یوه داسې اداره قایمه کړي چې له مخې یې آن خراسان، کورګاني هند او بخارا د خپل نفوذ او نظر لاندې وساتي.(۱۵: ۷۴ مخ)

دغه راز د دې بحث په اړه په ټوله کې ویلای شو چې احمدشاه بابا په خپلو ټولو فتوحاتو کې دغه مهم ټکي چې د پوځي سفرونو موخې او انګېزې یې هم ګڼلی شو، په پام کې نیول:

۱ – د لوی او متحد افغانستان د رامنځته کولو لپاره د ټولو هغو افغاني سيمو نيول چې د احمدشاهي دولت د تشکيل څخه دمخه بېلې کړای شوې وې.

۲ – د اسلامي هېوادونو د پاچاهانو، علماوو، روحانينو او مشرانو بلنو او غوښتنو ته لبيک ويل، پر وخت ځان ور رسول او د اسلام د مقدس دين د ساتلو او غښتلي کولو لپاره د زړه له کومې مبارزه کول او په دې لاره کې هرې قرباني ته د ځان تيارول. په دې معنا که چېرې د وخت د ستر ولي( شاه ولی الله دهلوي) او په هند کې د مېشت مسلمان افغان نجيب الدوله پرلپسې ليکونو ته وکتل شي ارو مرو به دا څرګنده شي چې د احمدشاه بابا لښکرکشۍ د هغه ځای د خلکو په غوښتنه او په هند کې د هندوانو او سکانو د ظلم او تيري نه د هغه ځای د مېشتو مسلمانانو د ژغورنې لپاره ترسره شوې وې.

۳ – د لوی افغانستان د تحکيم او د پولو(د لرغونوآريايانو د وخت) دساتلو لپاره ګاوندي هېوادونه خپل تاثير او نفوذ لاندې نيول او د دومينون(اتحاديو) په ډول د هغوی راوستل. (۱۷: ٦٥ – مخ)

۴ – تر ټولو مهمه خبره دا ده چې هغه مهال په هند کې د انګريزي ښکېلاکګرو نيالګيو پراخه وده کړې وه او د دکن د ارتې سيمې مرهټيان د يوه بربري او نا اېل کېدونکي ځواک په ډول راپورته شوي وو. دوی نه يواځې د هند د مغولي دولت د ټغر د ټولېدو پرېکړه کړې وه، بلکې په خپله خيالي امپراتورۍ کې يې د افغاني ملکونو رانغاړلو ته هم مټې را بډوهلې وې. همدغه سبب و چې احمدشاه بابا يې پر وړاندې پېش قدمي وکړه او مخکې له دې چې د وينو ويالې وبهېږي، هغوی يې د غفلت په حالت کې راګير کړل چې دا کړنه په خپل ذات کې د يو هوښيار او ځيرک مشر د فکر څرګندويي کوي.(۱۷: ۲٦۷ مخ)

دا چې دی ديو افغان امپراتور په څېر څو ځلې هندوستان ته ولاړ، غزاګانې او جګړې يې وکړې، دېرې سيمې يې فتحه کړې او بيا خپل هېواد ته را وګرځېد، دا خپله د دې څرګند ثبوت دی چې دی عالمګير نه و او نه يې د نورو د هېوادونو د نيولو فکر په خيال کې درلود.

بل سبب د دې خبرې دا دی چې نوموړي له افغانستان سره له زړه مينه درلوده او کله يې هم نه غوښتل چې د افغانستان تخت د ډهلي پر تخت ورکړي او افغانستان په هندوستان پورې وتړي، لکه څنګه چې يې خپله هم ويلي:

د ډهلي تخت هېرومه چې ر ا ياد کړم

زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه(۱۷: ٦٦مخ)

نو، ويلای شو چې دا خبره په ټوله کې سمه نه ده چې ځينې پردېپال او ناخبره ليکونکي پرې شخوند وهي چې ګواکې احمدشاه بابا د نورو هېوادونه غصبول، د ډهلي واکمنۍ ته يې سترې کوونکي سفرونه کول او په پای کې يې په اصطلاح سوبه شوې سيمې بېرته هندي راجه ګانو ته ورکولې، هغه هم په داسې حال کې چې په دغو جګړو کې د ډېرو افغانانو وينې بهېدلې او په شهادت رسېدل. نوموړي دا د خپلو انساني اخلاقو، اسلامي فرايضو، افغاني عنعنې او پښتونولۍ څخه لرې خبره بلله چې د نورو وطنونه ونيسي او د جهانګيرۍ او عالمګيرۍ پوچه هيله او آرزو دې وپالي.

**٦ ـ د احمدشاه بابا مړينه**

احمدشاه بابا د خپلې ۲٦ کلنې واکمنۍ په دوران کې ګڼ شمېر کړاوونو، سفرونو او پوځي ژوند ډېر سترې او ستومانه کړ، چې بالاخره په پايله کې يې دغه ستومانتيا(کومه چې د ډېر سفرونو او اوږدو لارو په لړ کې ورته پيدا شوې وه) په ناروغۍ بدله شوه. که څه هم نوموړی د خپل ژوند په وروستيو شپږو کلونو په جريان کې هېواد څخه بهر ونه خوځېد، خو بيا يې هم خپله پخوانۍ روغتيا ونه مونده.(۹: ۱۵۱ مخ)

احمدشاه ابدالي پيل کې د يوې ښې روغتيا خاوند و. يواځې په ۴۷ کلنۍ کې د خپلو اوږدو، سترو او ناکراره اقداماتو اغېزې يې حس کړې او د شکر مزمنې ناروغۍ يې په پرلپسې ډول انرژي کمه کړه. د ده دغه مزمنه(سخته) ناروغي پر پزه باندې له ټپ(دانې) څخه عبارت وه، کومې چې يې ښکلی مخ د ژوند په وروستيو کې تخريب کړ.(۱۴: ۲۸ مخ)

احمدشاه بابا د یو خپلواک امپراتور په توګه په خپله بې سارې دوره کې باتدبیره، غښتلي او جنګي قومندانان او اداري کادرونه وروزل او همدغه سبب و چې د امپراتورۍ په پراخه سیمه کې یې سکون او امنیت و، خو له ده وروسته بدبختانه چې لمسیانو یې لکه څنګه چې لازمه وه دغهستره امپراتورۍ ونه شوای ساتلی. نوموړی په ۱۷۷۲ز.کال سخت ناروغ شو، د ناروغۍ پر مهال یې د ملکي او نظامي لوړ پوړو افسرانو په حضور کې خپل زوی شهزاده تیمور(چاچې کفایت او درایت درلود) د نایب په توګه مقرر کړ او خپله د هوا د بدلولو په موخه د توبي غره(کوم چې کندهار کې موقعیت لري) پر لور وخوځېد.(۱۵: ۷۸ مخ)

هلته یې ناروغي زیاته شوه او بالاخره په ۱۷۷۲ز.کال چې د دسمبر د میاشتې ۳۳ مې نېټې سره سمون خوري، د یو پنځوس کالو په عمر له دې فاني نړۍ څخه وکوچېد. د دغه نومیالي او اتل مشر یاد دې تر ډېره تازه او په زړونو کې خوندي وي.(۱۴: ۲۷ مخ)

**پایله**

د څېړنې په پای کې ویلای شو چې احمدشاه بابا د دې هېواد یو مدبر مشر، مجرب سپه سالار، سپېڅلی مسلمان، مجاهد، مبارز، عادل امپراتور او د اوسني افغانستان بنسټګر او مؤسس دی. داسې بنسټګر چې د نورو هر اړخیزو( سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو) فعالیتونو ترڅنګ یې نظامي او پوځي اقدامات هم په خپلې ۲٦ کلنې دورې کې ترسره کړي. څېړنې دا هم وښودله چې نوموړي خپل ملي پوځ د یوې اسلامي، ملي او خپلواکې مفکورې پر بنسټ وروزه، هغه ملي پوځ او اردو چې په دوو(منظم – غیر منظم) برخو وېشل شوې وه او د ده د سپېڅلو موخو په تحقق کې یې ونډه ښکاره او روښانه وه.

ویلای شو چې احمدشاه بابا داسې مهال د واک پر ګدۍ کېناست چې په افغانستان کې د ملي وحدت هغه څلی چې د پښتنو د ملي قاید(میرویس نیکه)

پر لاسونو ودان شوی و، د بهرنیو دښمنانو د یرغل له امله نړېدلی او د افغاني قبیلو یووالی له منځه تللی و.

دا هم دیادولو وړ ده چې احمدشاه بابا د خپلې واکمنۍ په جریان کې د خپل دولت لپاره د نورو پالیسیو ترڅنګ یوه هر اړخیزه پوځي سیاسي پالیسي درلوده، کومه کې چې د افغانستان ښېرازي، خپلواکي او اسلامي مقدساتو ته درناوی درج و. کومې کې چې له مظلومانو څخه دفاع او د ظالمانو پر وړاندې په مېړانه درېدل ثبت وو.

پاتې دې نه وي چې نوموړي پاچاهي غوښتله، خو په خپل هېواد کې د خپل ولس پاچاهي. ځکه ده ته خپل افغاني احساس او پښتني غیرت اجازه نه ورکوله چې له افغانستانه پرته بلې سیمې ته په زړه کې ځای ورکړي. دی په دې پوهېده که د هند پر تخت کېني، نو د نورو افغاني شاهانو(غوریانو، سوریانو او نورو) په څېر به یې د فکر او عمل ټولې لاسته راوړنې او شهکارونه په پردۍ خاوره کې خاوري شي.

**وړاندیزونه**

۱- علمي او فرهنګي ټولو ادارو ته وړاندیز کوم چې د افغانستان د ویاړلي بنسټګر په یاد، هڅو او هر اړخیزو مبارزو تل علمي سمینارونه او غونډې جوړې کړي، تر څو د دغه نومیالي شخصیت لوړ فکر ژوندی او تازه وي.

۲ - د وخت چارواکو او مشرانو ته مې وړاندیز دي چې د احمدشاه بابا د پوځي سیاست مهم او برجسته ټکي د خپل نظامي او پوځي سیاست یوه برخه وګرځوي او ترڅنګ دې په پلازمینه کابل کې د دغه عادل او مبارز شخصیت د نوم ژوندي ساتلو په موخه یو نظامي یا علمي مرکز ورغوي.

**مأخذونه**

۱ - انصاري، غلام فاروق. فشرده تاریخ افغانستان، چاپ ششم، انتشارات امیري: کابل، ۱۳۹۵.

۲ - الحسیني، محمود. تاریخ احمدشاهی، مقدمه او تعلیقات، سرور همایون، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۷۹.
۳ – جلالي، علي احمد. د افغانستان نظامي تاریخ(د حرب تاریخ)، ژباړن، شېرمحمد کریمي، لومړی چاپ، سروش کتاب پلورنځی: کابل، ۱۴۰۱.
۴ – جلالي، علي احمد. مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکری، جلد دوم، مطبعه وزارت دفاع ملي:کابل، ۱۳۸۸.
۵ – حبیبي، عبدالحی. د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن، عبدالروف بېنوا، دویم چاپ، دانش مطبعه: پېښور، ۱۳۸۲.
٦ – رښتیا، سید قاسم. افغانستان په نولسمه پېړۍ کې، لومړی چاپ، دانش مطبعه:کابل، ۱۳۸۹.
۷ – زماني، خیر محمد. تاریخ معاصر افغانستان، چاپ اول، انتشارات عازم: کابل، ۱۳۹۲.
۸ – صلاحي، محمد نبي. د لوی احمدشاه بابا پوځي تاکتیکونه، لومړی چاپ، د افغانستان قلم ټولنه: کابل، ۱۳۹٦.
۹ – عطایي، محمد ابراهیم. د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، لومړی چاپ، میوند خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۳.
۱۰ – غبار، میر غلام محمد. احمدشاه بابا افغان، ژباړن، امین الله دریځ، لومړی چاپ، دانش مطبعه: پېښور، ۱۳۷۷.
۱۱ – غبار، میر غلام محمد. افغانستان دتاریخ په تګلوري کې، لومړی چاپ، میوند خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۳.
۱۲ – فیضان، عبدالمالک. د افغانستان معاصر سیاسي تاریخ، لومړی چاپ، حکمت خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۴.
۱۳ – ګنډاسنګهـ. درانی احمدشاه، ژباړن، نصرالله سوبمن، دویم چاپ، اسد دانش مطبعه: کابل، ۱۳۸۸.

۱۴ - مستعلي، نیازی. د افغانستان معاصر تاریخ، لومړی چاپ، ختیځ خپرندویه ټولنه: ننگرهار، ۱۴۰۰.
۱۵ - منیب، عبدالعزیز. د افغانستان معاصر تاریخ، لومړی چاپ، محمدي انتشارات: کابل، ۱۳۹۳.
۱٦ - م - ع. د افغان پاچاهانو لنډ تاریخ، دویم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه: ننگرهار، ۱۳۹۸.
۱۷ - هاشمي، سید محی الدین. د لوی احمدشاه بابا یاد، لومړی چاپ، د آزادۍ مطبعه: کابل، ۱۳۸۲.

څېړندوی ولي‌باز ارین

# د زمان‌شاه په مقابل کې د انګرېزانو دفاعي سیاست

# The British Defensive politics against Zaman Shah

***<u>Assistant Prof. Wali Baz Aryan</u>***


## Abstract

Zaman Shah achieved power during a critical period of Afghan modern history. This was a time, when the British had not yet fully consolidated their foothold in India. Zaman Shah wanted to strengthen the borders established during his grandfather's reign. For this reason, he consistently directed his efforts toward India. Although nearly two centuries have passed since these events, this chapter of history remains an enduring lesson for Afghan rulers and politicians.

This research discus Zaman Shah’s persistent attempt to move toward India. His ambitions posed a threat to British interest in India, so the British to seek solutions. They employed every possible remedy to protect themselves from Zaman Shah. The British did not relent in their efforts until Zaman Shah was deposed. In Afghanistan, their strategies included supporting British spies, instigating Zaman Shah's opponents, and supporting them against the Afghan ruler, forming alliances with Iran, and ultimately developing both

internal and external conspiracies against him. These are the main and general context explored in this brief study.

The findings of the research shows, that Zaman Shah's desire to conquer India, was neither unrealistic nor untimely. He had the necessary resources to pursue this goal. However, the reasons behind his failure to achieve it are analyzed and explained in this research.

**لنډیز**

زمان‌شاه د تاریخ په یوه حساسه دوره کې د افغانستان واک ترلاسه کړ. دا هغه وخت و چې په هند کې انګرېزانو لا په بشپړه توګه پښې نه وې ټینګې کړې. د زمان شاه غوښتنه د خپل نیکه د وخت د پولو ټینګول و. ځکه خو یې تل د هند پر لور هلې ځلې کولې. که څه هم له دې موضوع څخه شاوخوا دوه پېړۍ تېرېږي، خو دا بحث به تل تر تله د افغان واکمنو لپاره د عبرت درس وي.

په دې څېړنه کې د هند پر لور د زمان شاه پرلپسې هڅې تشریح شوې دي. د زمان شاه له لاسه په هند کې د انګرېزانو ګټې تر خطر لاندې وې، هماغه و چې د چارې په لټه کې شول. دوی له زمان شاه څخه د خلاصون په پار له هرې ممکنه وسیلې څخه کار واخیست. دوی تر هغه وخته په زمان شاه پسې و، چې له قدرته وغورځېد. د انګرېزانو له لوري په افغانستان کې د انګریزي جاسوسانو ملاتړ، د زمان خان د مخالفینو لمسول او له هغوی څخه ننګه کول، د افغان واکمن پر ضد له ایران سره د انګرېزانو ګوتې پټول او بالاخره د نوموړي پر ضد د انګرېزانو له لوري د کورنیو او بهرنو دسیسو جوړول هغه مهم او غوښن موضوعات دي چې په دې لنډه څېړنه کې بحث پرې شوی دی.

د څېړنې موندنې ښیي چې د هند د نیولو په برخه کې د زمان شاه هیله بې‌ځایه او بې وخته نه وه، نوموړي د دې کار لپاره د پام وړ امکانات درلودل، خو دا چې ولې په دې کار بریالی نه شو، په همدې لنډه څېړنه کې واضح شوې ده.

## سریزه

د بشریت په تاریخ کې د پیاوړو هېوادونو او حکومتونو له لوري د سرشارو، ښېرازو، ګټورو، ستراتیژیکو او اقتصادي ځمکو نیول او په هغو کې د خپل نفوذ پراخول له ډېر پخوا دود دي او دا چاره تر نن ورځې دوام پسې لري. د دې کړنې ننني ښه بېلګه د اوکراین او تایوان پر سر، د امریکا، روس او چین ترمنځ روان کړکیچونه دي، چې سخت حالت ته رسېدلي دي. ځواکمنو حکومتونو تل هغو سیمو ته پاملرنه کړې چې د ځمکې لاندې او باندې سرچینې او موقعیت یې د دوی په کار ورځي. له معنوي اړخه د دې نیونو یو بل هدف په نیول شویو سیمو کې د خپلو ایډیالوژیو، دینونو، افکارو او عنعناتو خپرول هم دي، په دې طریقه په یوه غشي دوه هدفونه ترلاسه کېدلی شي.

د نړۍ په طبیعي جغرافیه کې هندوستان د همدې هېوادونو په جمله کې شمېرل کېږي. د سترې او پیاوړې احمدشاهي امپراتورۍ په جوړېدو سره هند د افغانستان له سپوږمۍ څخه وګڼل شو. د تیمورشاه په دوره کې هند ته څومره چې په کار وه، هغومره پاملرنه ورته ونه‌شوه. شک نه شته چې زمان‌شاه د تیمورشاه په زامنو کې ځیرک او تکړه انسان و. نوموړي هیله درلوده چې د خپل نیکه په څېر هند یو ځل بیا تر خپل واک لاندې راولي او دا یې یوهستره هیله هم وه. دا وخت انګرېزانو په هند کې د ختیځ هند کمپنۍ له ادرس څخه خپلې ریښې ځغلولې وې، خو لا یې بشپړ قوت نه و موندلی. څرنګه چې انګرېزانو د هند په اړه د زمان‌شاه افکار، هیلې او حرکتونه له خپلو ګټو سره په ټکر کې بلل، هماغه و چې له افغان پاچا سره یې په خطرناکه او فریب‌ناکه لوبه لاس پورې کړ او د شا له‌خوا یې وار پرې وکړ، چې وړاندې د همدې موضوع د ښه څېړلو هڅه شوې ده.

## مبرمیت

د افغانستان په معاصر تاریخ کې ځینې پیاوړي افغان حکومتونه د بهرنیو یرغلګرو د لاسوهنو او یا مستقیم یرغل په ترڅ کې له‌منځه تللي دي. انګرېزانو

له زمان‌شاه سره د مخامخ مقابلې توان نه درلود، همدا لامل و، چې د ده پر وړاندې يې په دفاعي سياست لاس پورې کړ. همدې ټکي ته په کتو، د دې سياست څېړنه ځکه اړينه او مهمه ده، چې له امله يې انګرېزان په ډېره اسانه بريالي او په هند کې خوندي پاتې شول، مګر د زمان‌شاه حکومت د همدې سياستونو په ترڅ کې له‌منځه يووړل شو.

**هدف**

د دې علمي څېړنې هدف د زمان شاه پر وړاندې د انګرېزانو د دفاعي سياست، نقشو او د هغوی د دسيسو روښانه کول دي. همدارنګه د اوسنيو او راتلونکو واکدارانو او نسلونو د سياسي پوهې لوړول دي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱ ـ انګرېزانو د زمان‌شاه پر وړاندې څه ډول دفاعي سياست ولوباوه او څه پايلې يې درلودې؟

۲ ـ انګرېزانو د لږو امکاناتو په کارولو سره د هند پر لور د زمان شاه له پرمختګ څخه څنګه مخنيوی وکړ؟

**د څېړنې ميتود**

د دې څېړنې په بشپړولو کې له تاريخي، توصيفي او تحليلي ميتود څخه استفاده شوې ده چې په اساس يې ټاکل شوي اهداف ترلاسه شوي دي.

**د زمان‌شاه واک ته رسېدل او لومړنی اقدام**

د احمدشاه بابا زوی تيمورشاه په ۱۷۹۳م. کال مړ شو او پر ځای يې د نوموړي پنځم زوی زمان‌خان، چې سن يې ۲۴ کاله و، پر تخت کښېناست.(۴: ۱۲۹ مخ) زمان‌شاه له واک ته رسېدو وروسته سمدلاسه خپل ټول ورونه د کابل په بالاحصار کې بنديان کړل. يوازې محمود او همايون چې په هرات او کندهار کې وو، له بنده ازاد پاتې شول. وروسته بيا همدا دوه ورونه د زمان‌شاه لپاره د سر درد جوړ شول.(٦: ۷۰۹ مخ)

زمان‌شاه په داسې وخت کې قدرت ته ورسېد چې انګرېزان په هند کې د سیاسي نفوذ د پراخولو او ټینګولو په لټه کې وو. انګرېزانو د دې لپاره، چې له زمان‌شاه څخه په هند کې خوندي پاتې شي، پر ضد يې په دسیسو او اقداماتو لاس پورې کړ او له تازه واک ته رسېدلي افغان پاچا (زمان‌شاه) سره يې د مخالفت لپاره متې رابډوهلې.(۴: ۱۲۹ مخ)

زمان‌شاه ته خپل پلار او نیکه څخه تقریباً د نیمې پېړۍ په اوږدو کې جوړه شوې ستره امپراتوري په میراث پاتې شوه، دا په داسې حال کې و، چې په ټوله امپراتورۍ کې امنیت په بشپړ ډول تأمین و. زمان‌شاه غوښتل چې په میراث ورپاتې ټینګ مرکزي دولت او پراخه امپراتوري لا پسې پیاوړې کړي او په هند کې د انګرېزانو د پرمختګ مخنیوی هم وکړي.(۳: ۳۷ مخ)

**له زمان‌شاه څخه هند ته د ورتللو غوښتنې**

علاوه له دې نه چې زمان‌شاه په هند کې د انګرېزانو د پرمختګ او نفوذ د مخنیوي کلک هوډ درلود، په هند کې د انګرېزانو د ټولو مخالفینو سترګې هم د وخت افغان دولت ته وې. په دې اړه غبار د «ویلیام جان کی» له قوله داسې لیکلي: «... په هندوستان کې له شمالي اوده او جنوبي میسور څخه څلور ځلې د افغانستان له شاه څخه هندوستان ته د ورتګ بلنه ورکړل شوه او د افغانستان پاچا ته د هر ډول نظامي او مالي مرستې ډاډ ورکړل شو. وزیر علي د افغانستان پاچا هڅاوه، چې له خپلو ځواکونو سره هند ته ورشي». د رامپور نواب غلام‌محمدخان روهیله خو په‌خپله په کابل کې د زمان‌شاه دربار ته راغی او د نظامي مرستې غوښتنه يې وکړه، ترڅو هغه ځمکې چې د ده د پلار فیض‌الله‌خان له لاسه وتلې وې، بېرته ترلاسه کړي.(۸: ۳۸۱ مخ) وزیر علي او سلطان ټیپو زمان‌شاه ته لیکلي وو، چې ((د مسلمانانو یو لوی لښکر د هندوستان د آخستو د پاره راکوز کړه نور کسان هم چی چا سره د هغه د مذهب شرکت نه و هغه سره د ملګرتیا قول اقرار وکړو د جوناګړ [جوناګر] راجا دا لوظ وکړو چی هر کله شاهی پوځونه د هغه په علاقه کی قدم کیږدی نو هغه به یو

لک روپۍ روزانه هغه ته ادا کوی.))(۱۰: ۱۷۴ مخ) د میسور د حاکم او د انګرېزانو د سرسخت مخالف او پنځلس کلن مبارز سلطان ټیپو استازي، میر رضا علي او میر حبیب‌الله د سمندر له لارې کندهار ته او له هغه ځایه کابل ته راغلل، دې استازو د زمان‌شاه لپاره دوه میلیونه روپۍ او ګران‌بیه ډالۍ هم راوړې وې. سلطان ټیپو له زمان‌شاه څخه غوښتنه کړې وه چې هند ته له ۲۰۰۰۰ سپرو سره ورشي او له افغانستان څخه د ورتلونکي پوځ د ملاتړ لپاره به د افغان پوځ لګښت او ۳۰ میلیونه روپۍ هم زمان‌شاه ته ورکړي.(۱۲: ۵۰ مخ) د بهاولپور حاکم بهاول‌خان او د ملتان حاکم مظفرخان سدوزي هم له خپلو اړخونو د مرستې ډاډ ښودلی و، همدارنګه مغول ولیعهد میرزا اکبرشاه هم زمان‌شاه هند ته وربللی او د ډېرو پیسو د ورکړې ژمنه یې کړې وه.( ۱۲: ۴۹ مخ) له زمان‌شاه څخه په هند کې د مختلفو حاکمانو د بلنو له کبله انګرېزان په دې لټه کې شول، چې په هند کې د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره د زمان‌شاه په وړاندې په اقداماتو لاس پورې کړي.(۳: ۳۸ مخ)

**زمان‌شاه ته د ناپلیون وړاندیز**

د هند د نیولو په اړه د زمان‌شاه لېوالتیا او د دریغ پیاوړتیا له دې ټکي په ښه توګه څرګندېږي چې زمان‌شاه د ناپیلیون له پلان سره خوښاوی ونه‌کړ. ناپیلیون داسې پلان طرح کړی و چې ۷۰۰۰۰ روسي او فرانسوي عسکر به د ایران او افغانستان له لارې په هند کې په انګرېزانو حمله کوي. د ناپیلیون استازی د همدې پلان د پلي کولو او د زمان‌شاه د راضي کولو په موخه کابل ته راغی او له زمان‌شاه سره یې د پورتني پلان د تطبیق په اړه خبرې وکړې. دا چې دا مهال زمان‌شاه په‌خپله پیاوړی او د ۱۵۰۰۰۰ ځواکمن عسکري ځواک درلودونکی و او لا له وړاندې یې له انګرېزانو څخه د هند د خلاصون اراده درلوده، نو ځکه یې د ناپیلیون غوښتنه ونه‌منله.(۸: ۳۸۱ ـ ۳۸۲ مخونه)

**د همایون او محمود ټکول**

زمان‌شاه د خپلې پاچاهۍ په لومړي کال پنجاب ته له تللو وړاندې، په کندهار کې د خپل ورور همایون بغاوت وټکاوه او همایون بلوچستان ته په تېښته اړ شو.(هماغه: ۳۸۲ مخ) د همایون په څېر محمود هم د زمان‌شاه له پاچاهۍ څخه سرغړونه کړې وه، ځکه خو د هغه د تابع کولو په نیت هرات ته روان شو. کله چې محمود د همایون له تېښتې خبر شو، نو له زمان‌شاه سره له مقابلې څخه تېر شو او د اطاعت سر یې ورته کېښود. زمان‌شاه هم ومنله او د محمود د دې عمل په بدل کې یې د هرات حکومت بېرته ده ته ورکړ.(۹: ۱۸۱ مخ)

**د هند پر لور د زمان‌شاه نظامي سفر، بېرته راګرځېدل او کورنۍ اوضاع سمول**

اوس چې داخلي اړو دوړ یو څه منظم شو، زمان‌شاه د لومړي ځل لپاره د پنجاب په لوري حرکت وکړ او د ۱۷۹۳ م. کال په ډسمبر کې پېښور ته ننوت.(۸: ۳۸۲ مخ) خو کله چې د همایون له دوهم‌ځلي بغاوت خبر شو، ډېر ژر له پېښوره بېرته کندهار ته راغی. همایون د تېر په څېر بیا د تېښتې لاره ونیوله، مګر بریالی نه شو او د زمان‌شاه د کسانو له لوري لومړی ونیول شو او له ړندولو وروسته زندان ته واچول شو.(٦: ۷۱۱ مخ)

زمان‌شاه له همایون څخه تر بېغمه کېدو وروسته په ۱۷۹۴ م. کې سند ته ولاړ، ترڅو په سند کې د تالپوري له سرغړونکي والي فتح‌علي سره حساب او کتاب وکړي. زمان‌شاه تالپوري ته په رسېدو سره لا په اقدام لاس نه و پورې کړی، چې یو ځل بیا په هرات کې د محمود له مخالفت څخه خبر شو. هماغه و چې د تالپوري کار نیمګړی پاتې شو او فتح‌علي له سند څخه د ۳۰۰۰۰۰ کالنیو مالیاتو د ورکړې اندازه ومنله، چې د افغان دولت خزانې ته به یې سپاري. زمان‌شاه هم ومنله او د حاضر وخت لپاره یې د سند حکومت فتح‌علي ته پرېښود او په‌خپله د کندهار په لوري روان شو.

محمود وار له‌مخه له هراته په کندهار د حملې په نیت را روان شوی و. د زمان‌شاه او محمود لښکرې د ګرشک او زمینداور ترمنځ سره مخامخ شوې. د دواړو لورو ترمنځ کابو ۱۵ ساعته سخته جګړه وشوه. په پای کې محمود له ۱۰۰ سپرو سره فراه ته وتښتېد، له هغه ځایه بیا هرات ته ولاړ.(۱۰: ۱٦۹ مخ) زمان‌شاه د محمود ځارنه پرې‌نښوده او په همدې نیت یې هرات محاصره کړ. محمود یو ځل بیا د چل او فریب لاره ونیوله او د اطاعت ښکارندونه یې وکړه. زمان‌شاه دا ځل بیا د هېواد د سیاسي مصالحو له کبله محمود وبانښه او د هرات حکومت یې بېرته ده ته ورکړ.(۸: ۳۸۳ مخ)

د زمان‌شاه په وړاندې د محمود د مخالفت په لیدو سره په شمال کې ازبکانو هم د بغاوت بیرغ پورته کړی و، خو کله چې د زمان‌شاه له بریا او د محمود له ماتې خبر شول(٦: ۷۱۲ مخ) نو د بخارا امیر هم له بلخ څخه منصرف شو، د خپل استازي په وسیله یې په بلخ باندې د تیري له امله بښنه وغوښته او هیله یې څرګنده کړه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ پوله دې د پخوا په څېر آمو سیند وي.(۴: ۱۲۹ مخ)

**د هند پر لوري د زمان‌شاه سفر او پر خراسان د قاجار برید**

اوس چې زمان‌شاه یو ځل بیا کورنۍ اوضاع برابره کړې وه، هند ته د تلو په نیت یې د سفر اعلان وکړ. زمان‌شاه په ۱۷۹۵ م.کال له خپل ۳۰۰۰۰ کسیزه لښکر سره له سند (اټک) څخه تېر شو (۸: ۳۸۳، ۳۸۴ مخونه) او په حسن‌ابدال کې یې واړول. له دې ځایه یې یوه پوځي ډله د روهتاس کلا د نیولو لپاره ولېږله.(٦: ۷۱۲ مخ) په روهتاس کلا د حملې په ترڅ کې سیکانو ماته وخوړه او غرونو ته وتښتېدل. په حسن‌ابدال کې د زمان‌شاه لا اونۍ نه وه تېره شوې، چې د اقامحمد قاجار د حملې خبر ورته راورسېد.(۱۱: ۱۹۱ مخ) اقامحمد قاجار په خراسان حمله کړې وه. د خراسان افغان والي (شاهرخ میرزا) یې وژلی او مشهد یې چور کړی و. دې عمل زمان‌شاه سخت غصه کړ او بې له ځنډه یې له حسن‌ابدال څخه د کابل پر لور حرکت وکړ. زمان‌شاه له خپل پوځ سره د ۱۷۹٦

م. کال د جنوري په ۳ نېټه پېښور ته ورسېد، مخکې له دې چې زمان‌شاه او لښکر يې له پېښور څخه را روان شي، قاجار خراسان پرېښود او بېرته وتښتېد.(۴: ۱۲۹ ـ ۱۳۰ مخونه) د قاجار له تيښتې وروسته زمان‌شاه په پېښور کې پاتې شو او دا چې له ايران څخه يې د هند موضوع مهمه وګڼله، (۸: ۱۸۴ مخ) نو د هند پر لور يې حرکت وکړ. زمان‌شاه او پوځ يې د ۱۷۹۷ م. کال د جنوري په ۳ نېټه لاهور ته ننوتل. (۱۱: ۱۹۱ مخ) زمان‌شاه د دې سفر په اوږدو کې له پېښور څخه تر لاهور پورې ټولې سيمې له سيکانو څخه تصفيه کړې او د هند پر لور يې په چمتووالي پيل وکړ.(٦: ۷۱۲ مخ)

زمان‌شاه لاهور ته د ننوتلو په وخت کې له هېڅ خنډ سره مخامخ نه شو. دا په داسې حال کې و، چې د زمان‌شاه قوماندان شيرمحمدخان چې ۲۰۰۰ تنو يې ملګرتيا کوله، د لاهور په لاره کې سيکان له مخې لرې کړي وو. په لاهور کې زمان‌شاه ته د هندوستان د پاچا شاه عالم ليک راورسېد او په هغه کې يې زمان‌شاه د هندوستان پلازمېنې ډهلي ته وربللی و. په انګرېزانو کې له زمان‌شاه څخه زياته وېره هغه مهال پيدا شوه، چې زمان‌شاه په ليکلي ډول د ختيځ هند کمپنۍ (انګرېزانو) ته خبر ورکړ، چې دی هند ته د ننوتلو او د مرهټه ځواکونو د شړلو اراده لري.(۸: ۱۸۴ مخ) زمان‌شاه لا د هند په لوري حرکت نه و کړی، چې يو ځل بيا د خپل ورور محمود له بغاوت څخه خبر شو. د ناچارۍ له امله يې د هند پر ځای د کندهار مخه راونيوله. د دواړو ورونو ترمنځ د جګړې په پايله کې محمود ماته وخوړه او د خپل زوی کامران سره يو ځای په ايران کې د قاجار دربار ته ور وتښتېد. دا وار زمان‌شاه د هرات واګې خپل زوی قيصر ته وسپارلې.( ٦: ۷۱۲ مخ)

## له سکانو سره جوړ جاړی

د هندوستان نيول د زمان‌شاه هدف و او له کورنيو ستونزو به لا سم نه و فارغ شوی، چې بيا به يې د هند په لور حرکت پيل کړ. زمان‌شاه د تل په څېر له هرات څخه په راګرځېدو د هند پر لور روان شو او د ۱۷۹۸ م. کال د اکتوبر په

۲۵ نېټه لاهور ته ورسېد. نوموړي په لاهور کې له سیکانو سره د روغې جوړې لاره ونیوله. د رنجیت سنګهـ په ګډون د سیکانو اکثریت سرداران زمان‌شاه ته راغلل.(۱۱: ۱۹۲ مخ) همدې سکانو، چې تل به یې سرغړونه کوله، دا ځل یې د اطاعت ژمنه وکړه. زمان‌شاه د دې لپاره چې هند ته د ننوتلو پر مهال د پنجاب لهخوا ډاډه وي، د پنجاب او لاهور په حکومت یې رنجیت سنګهـ وګماره. رنجیت سنګهـ ډېر ژر د سیکانو شیندل شوی ځواک سره راټول او د انګرېزانو پاملرنه یې ځان‌ته راواړوله.( ۸: ۳۸۵ مخ)

## انګرېزانو ته له زمان شاه څخه د وېرې پیدا کېدل

دا مهال په هند کې انګرېزان له زمان‌شاه څخه سخت وېرېدلي وو.( ۸: ۳۸۵ مخ) د انګرېزانو حقیقي وېره د کپتان مالکم له دې لیکنې په ښه توګه څرګندیږي، نوموړی لیکي: «... د نړۍ‌نیونې عمل [فکر] چې تل د زمان‌شاه دراني د خاص پاملرنې وړ دی، د هغه په هېواد کې د بې‌اتفاقۍ له زېږولو پرته هیڅ‌شی نه‌شي کولی چې هغه له دې عمل څخه لاس په سر کړي... زه د افغانستان سلطان زمان‌شاه درانی د هندوستان په هېواد کې د انګلیس د قدرت یو له ډېرو قوي دښمنانو څخه ګڼم د زمان‌شاه دښمني په‌خپله او بې د کوم اړخ له مرستې کېدلی شي زیاته شي او په لومړي فرصت کې به د بشپړ قدرت او وسیلې په درلودلو سره په هندوستان حمله وکړي.»(۱۳: ۱۷۰ مخ) دوی فکر کاوه چې هسې نه زمان‌شاه هم د خپل نیکه (احمدشاه ابدالي) په څېر هند ونیسي.(۱۱: ۱۹۲ مخ)

د ختیځ هند کمپنۍ په ۱۷۹۳ م. کال کې د غلام سرور په نامه خپل یو جاسوس کندهار ته استولی و، ترڅو په هند باندې د زمان‌شاه د حملې لپاره د هغه د مالي او عایداتي اوضاع، نظامي استحکاماتو او سیاسي تشبثاتو په اړه راپور چمتو کړي. بالاخره غلام سرور خپل راپور چمتو کړ او د ۴۵۰۰ روپیو په بدل کې یې د ختیځ هند په استعماري کمپنۍ باندې وپلوره.(۵: افغان جرمن آنلاین سایټ)

شک نه شته چې انګرېزان به د هند د نیولو په اړه د زمان‌شاه له پلانونو څخه خبر نه وو، خو کېدای شي چې په دې برخه کې د غلام سرور راپور دوی ته تر ټولو ښه معلومات ورکړي وي او په دې پوه شول چې زمان‌شاه د هند د نیولو لپاره په پوره اندازه مالي او مادي امکانات (پیسې او پوځ) لري، د انګرېزانو دا فکر رښتیا و، هغه مهال په شاهي خزانه کې لس میلیونه د سرو زرو مهرونه (یو د سرو زرو مهر ۱۵ هندۍ روپۍ کېده) او څلوېښت میلیونه د سپینو زرو مهرونه لرل. د پوځ شمېر یې هم برابر و. څرنګه چې انګرېزانو له افغان ځواکونو سره د مخامخ مقابلې توان نه درلود او د هغوی پر ضد یې په خپله دفاعي عملیات نه شوای ترسره کولی، (۱۲: ۴۹، ۵۰ مخونه) نو ځکه خو انګرېزانو په دې پلان کار پیل کړ، چې زمان‌شاه بل ځای بوخت وساتي او پر هند د حملې وخت پیدا نه کړي.(۱۱: ۱۹۲ مخ)

**د زمان‌شاه پر وړاندې د انګرېزانو بله دسیسه**

د انګرېزانو لپاره د افغانستان په داخل کې تر ټولو مهمه نقطه هرات، په پارس کې پارسي دربار او په هغه دربار کې د ده د ورور محمود شتون و، انګرېزانو غوښتل چې محمود د ایران له قاجاري دولت سره په ګډه وخت ناوخت پر هرات برید وکړي او زمان‌شاه ته د هند په لوري د تللو فرصت ورنه‌کړي (۱۲: ۵۱ مخ) د همدې هیلې د پوره کوله لپاره په ایران کې د ختیځ هند کمپنۍ استازي (مهدي علي خان) هلې‌ځلې پیل کړې، ترڅو د ایران قاجاري دولت د زمان‌شاه د بربادۍ او په افغانستان کې د هغه د بوخت ساتلو لپاره وکاروي، چې له امله یې لږ تر لږه زمان‌شاه تر دریو کالونو پورې په هند د حملې وخت ونه‌مومي.(۸: ۳۸۵ مخ) همدارنګه انګرېزانو د بمبیي ګورنر جنرال جانتان ډیکن ته دنده ورکړه ترڅو نوموړی د ترکیې دولت او په قسطنطنیه کې انګرېز سفیر منیستې دې ته وهڅوي، چې ایران په افغانستان حمله وکړي او په خپل کور کې د سر درد ورته را وټوکوي او په دې سره به زمان‌شاه پر هند باندې له حملې څخه لاس په سر شي.(۱۲: ۵۲ ـ ۵۳ مخونه)

د زمان‌شاه په وړاندې د انګرېزانو لپاره تر ټولو اسانه او ارزانه لاره له ایرانیانو سره د انګرېزانو د سیاسي اړیکو جوړول او د افغانستان پر ضد د هغوی استعمالول وو. انګرېزانو هڅه کوله ترڅو قاجاري دولت پر افغانستان برید وکړي او زمان شاه ته مزاحمت پیدا کړي. د همدې هدف لپاره يې په ایران کې د ختيځ هند کمپنۍ ایراني استازي مهدي علي خان ته دنده وسپارله چې د ایران قاجاري دربار د درانیو (زمان شاه) پر ضد ولمسوي. مهدي علي خان د فتحعلي‌شاه قاجار دربار ته لاره ومونده او د نورو خبرو تر څنګ يې دا هم ورته وويل: «زمان شاه چې په لاهور کې دی، د هغه ځای په شیعه‌ګانو ظلم کوي. زرګونه تنه شیعه‌ګان د هغه د ظلم له لاسه د ختيځ هند کمپنۍ ممالکو [هغه مهال په هند کې مختلف لوی او واړه حکومتونه موجود وو، چې انګرېزانو د خپلو ګټو لپاره استفاده ترې کوله او دوی يې يو د بل پر ضد جنګول.] ته پناه وړې ده. که د ایران پاچا پر افغانانو حمله وکړي، نو جمیل ثواب به ترلاسه کړي. د دې کار لپاره ښه ده محمود شاه، چې په ایران کې پناه‌وال دی، له مرستندویه ځواک سره افغانستان ته ولېږي ترڅو په خپل ورور [زمان شاه] بریالی شي او پر شیعه‌ګانو د زمان شاه ظلمونه پای ته ورسېږي.»(۹: ۱۸٦ ــ ۱۸۷ مخونه)

مهدي علي خان ته په دې ماموریت کې دوه دندې سپارل شوې وې: لومړی دا چې د افغانستان په لویدیځو پولو کې د ایران په واسطه د افغانستان لپاره ګواښونه پیدا کړي او دوهم دا چې په ایران کې د فرانسې د نفوذ مخنیوی وکړي. مهدي علي خان خپله دنده په بریالۍ توګه ترسره کړه. د ختيځ هند کمپنۍ مهدي علي خان ته په کال کې له ۲۰۰ زره ــ ۳۰۰ زره روپۍ په واک کې ورکړې وې، ترڅو په افغانستان باندې يې د ایران د لښکرکشۍ په لاره کې مصرف کړي، خو کله چې هغه د نوي قاجاري پاچا حالت درک کړ، نو خپل اصلي مقصد يې پټ کړ او داسې يې وښوده چې ګني نوي پاچا ته د مبارکۍ لپاره راغلی دی، دا ځکه چې د ختيځ هند کمپنۍ استازی مهدي علي خان په

دې پوه شو، چې کولی شي بې د پیسو له مصرف کولو څخه ایران په افغانستان باندې حملې ته ولمسوي.(۵: افغان جرمن آنلاین سایټ)

د مهدي علي خان په واسطه د انګرېزانو یو غشي دوه ښکاره وکړل. یو دا چې ایران دې ته غاړه کېښوده چې د انګلیس په ګټه په خراسان ولایت کې زمان شاه ته مزاحمت ولټوي. بل دا چې له ایران سره د تړون لپاره فوق‌العاده انګلیسي سفیر په تهران کې ومني.(۹: ۱۸۷ مخ)

مخکې مو یادونه وکړه چې زمان‌شاه په لاهور کې د هند لپاره په ترتیباتو بوخت و. دا چې پیرنګیانو (انګرېزانو) د زمان‌شاه د حملې تاب نه درلود، نو فتحعلي‌شاه قاجار یې ولمساوه، ترڅو په خراسان حمله وکړي او هماغسې وهم‌شول. زمان‌شاه لا هند ته نه و خوځېدلی چې په خراسان باندې یې د فتحعلي‌شاه قاجار د حملې خبر ترلاسه کړ. زمان‌شاه ناچاره په ډېره بېړه د کابل پر لور را روان شو او په ۱۷۹۹ م. کال پېښور ته راورسېد.(٦: ۷۱۲، ۷۱۳ مخونه)

د فتحعلي‌شاه دا حرکت یوازې یو سیاسي مانور و او فارسیانو ته یې هیڅ ګټه هم ونه‌رسېده. دا ځکه چې فتحعلي‌شاه قاجار یوازې تر سبزوار او نیشاپور پورې وړاندې راغی او بېرته په شا ولاړ، خو په دې کار سره یې په هند کې د انګرېزانو هیلې پوره کړې.(۱۰: ۱۷۱ مخ) هغه دا چې له دې وړاندې چې په هند کې د برسات موسم شروع او د هند له اوبو ډک سیندونه د زمان شاه په وړاندې خنډ جوړ شي، زمان شاه اړ شو چې په خپله خوښه د قاجاري برید د مهارولو او ځوابولو لپاره افغانستان ته راشي، له دې سره د هند موضوع یو ځل بیا د پخوا په څېر وځنډېده.(۸: ۳۸٦ مخ)

دا چې په قاجاري دربار کې د انګرېز استازي لپاره لا له وړاندې د مهدي علي خان په واسطه زمینه برابره شوې وه، د هند ګورنر جنرال ویلسلي Wellsiley د ۱۷۹۹ م. کال په اګسټ کې سر جان مالکم د ایران دربار ته واستاوه او درې یا څلور سوه‌زره روپۍ یې هم د دې لپاره ورکړې، ترڅو د ایران په دربار کې یې پر افغانستان د حملې کولو لپاره د رشوت په توګه وویشي.

نوموړی په خپل دې ماموریت کې پوره بریالی شو. مالکم په دې اړه د ختیځ هند کمپنۍ چارواکو ته داسې لیکلي وو: «که چېرته دراني [درانی] پاچا په هند حمله وکړي د ایران پاچا به حتمي په افغانستان حمله کوي.» (١٢: ٦٧ مخ) بیا لیکي: « ته دا تسلی لره چی زمان شاه د ١٨٠١ کال د برسات نه وړمبی په هندوستان کی هیڅ نه شی کولی هغه سره د دی حملی کولو فرصت نشته اگر که په هغه کی د حملی کولو زور وی هم. او د خدای په فضل به هغه په دی طرفونو کی تر ډیرو کالونو دومره مصروف وی چی د بل طرف به هغه هډو خیال نشی کولی.»(١٠: ١٧٦ مخ)

**د افغان او ایراني اړخ ترمنځ د لیکونو تبادله**

ایران ته تازه رسېدلی انګلیس سفیر مالکم د ختیځ هند کمپنۍ ته د افغان او فارسي لوري ترمنځ د لیکونو د تبادلې په اړه داسې لیکي(٩: ١٨٧ مخ.) «مخکې له دې چې قاجار شاه د خراسان مشهد او نیشاپور د افغانستان د امپراتورۍ د خاورې برخې) په لوري حرکت وکړي، خپل وزیر حاجي ابراهیم ته یې امر وکړ، چې هغه د خپل ځان له لوري د زمان شاه لومړي وزیر وفادارخان [رحمت‌الله‌خان] ته لیک ولیکي، ولیږي او یادونه وکړي چې ډېره ښه ده د جګړې د لمبو له بلولو څخه په داسې ترتیب، چې د عدل او انصاف سره برابر وي، مخنیوی وشي او یادونه وکړي چې د ایران شاه د شرافت او اخلاقو د اصولو پر بنسټ د شهزاده محمود ملاتړ، چې د زمان شاه مشر ورور دی، پر غاړه اخیستی او په پام کې یې نه درلوده چې هغه د افغانستان امارت ته ورسوي، بلکې شهزاده سلطان محمود ته به د هرات او د هغه د ملحقاتو په پرېښودلو سره راضي وي.»

د دې لیک په ځواب کې افغان لومړي وزیر رحمت الله خان داسې ورته لیکلي وو: «...د ایران د شاه جګړه‌ییزه بهانه د هغو بې‌دینه انګرېزانو په لمسون او فساد سره ده، چې که د تېرو دوو کالونو په اوږدو کې په هندوستان کې د

هغوی په مستملکاتو د ده د پاچا له حملو څخه له دې لوري [د ايران له اړخه] مخنيوی نه وای شوی، تر نن ورځې به يې د هغه هېواد نيمايي له‌منځه وړی و.»

حاجي ابراهيم يې په خوب کې ليکلي وو: «د دې په فرض سره چې له انګليس سره دوستي د ايران د پاچا د اقداماتو له څو لاملونو څخه يو وي. خو هوښيار خلک او د نظر خاوندان پوهېږي چې په سياسي چارو کې مذهب ته ډېره لږه پاملرنه کېږي.»(۱۳: ۱۵۹ ـ ۱٦۰ مخونه)

انګرېزانو زمان‌شاه ته د لا ډېرو ستونزو زېږولو او په هر لوري کې د بوختياوو په موخه خپل استازی ناتان کرو په سند کې د تالپور کورنۍ ته ولېږه، ترڅو له يوې خوا د زمان‌شاه حرکتونه تر څارنې لاندې ونيسي او له بلې خوا په سند کې د زمان‌شاه هملاسي کسان د مرستو په ورکولو سره د نوموړي پر ضد ولمسوي. په لومړيو کې د سند امير فتح علي خان د انګرېزانو تر اغېز لاندې راغی او هغوی ته يې اجازه ورکړه چې انګرېزان دې په سند کې فابريکات جوړ کړي. زمان‌شاه د سند امير له دې کار سره مخالفت وښود او په غوښتنه يې ناتان کرو او د هغه ملګري بېرته له سند څخه وايستل شول.(۱۲: ٦۳ مخ)

## د زمان‌شاه پر وړاندې د کودتا پلان

څرنګه چې د هند په لورې د زمان شاه پرله‌پسې هڅو او هيلو انګرېزان سخت وېرولي وو، ځکه خو يې هر هغه کار ته لاس اچاوه چې په وسيله يې زمان شاه ته ستونزې پيدا کېدې او د هند په لور يې  د هغه نظامي حرکتونه ځنډول. يو له دې دامونو د زمان شاه پر ضد کودتا هم ګڼل کېدای شي. په دې اړه محمدابراهيم عطايي ليکي: «... يو کودتايي غونډې حرکت ؤ. په دغه حرکت کې يوه طرح جوړه او تر تطبيق لاندې نيول شوې وه خو بد جهت يې دا ؤ چې په لاربښوده شورا کې يې يوه خارجي عنصر برخه درلوده او له دې جهته داسې فکر کيږي چې دا لومړی حرکت دی چې خارجي لاس را اوچت کړی ؤ.»(۷: ۴٦ مخ)

په دې بحث کې د کودتا له داخلي لاملونو څخه تېرېږو او په بهرني اړخ يې بحث کوو. ۱۷۹۹م. کال د زمان شاه لپاره د نورو هغو په پرتله خورا له ستونزو ډک کال و. له يوې خوا انګرېزانو د ختيځ هند کمپنۍ استازی وګماره، ترڅو فتح‌علي‌شاه د زمان شاه پر ضد ولمسوي، له بلې خوا په همدې کال (۱۷۹۹م.) ميا غلام محمد له هند څخه کندهار ته راغی. نوموړي د قومي مشرانو په ګډون ډېر خلک پر ځان ورټول کړل. ويل کيږي چې د زمان شاه په وړاندې د کودتا پلان په همدې لنګر کې جوړ شوی و.

مؤرخين د کودتا د پلان عمده غړي د ميا غلام‌محمد هندي او بانفوذه مشر پاينده‌خان بارکزي په ګډون ۱۳ تنه ښيي. همدې ډلې کسانو د تړون په لاندې مادو سره سوګند کړی و.

۱ ــ زمان شاه دې لرې او پر ځای دې يې شجاع پاچا شي.

۲ ــ په راتلونکي کې به پاچا د قومونو د مصلحت په صورت کې ټاکل کيږي.

۳ ــ کوم پاچا چې د قومونو له غوښتنو سره سم کار نه کوي، نو سرداران (قومي مشران) به يې له پاچاهۍ لرې کوي.

ځينې نور مؤرخين دا هم وايي، چې کودتاچي ډلې د زمان شاه د وژلو او د محمود د پاچا کولو پرېکړه کړې وه. په هر حال د کودتا خبر زمان شاه ته د هغه د لومړي وزير وفادار خان (رحمت‌الله خان) په واسطه ورسېد او مخکې له دې چې کودتا پيل او بريالۍ شي، د طرحې جوړونکي ټول ونيول شول. ميا غلام‌محمد هندی د هند په لور وتښتېد، خو بيا ونيول شو او له نورو نيول شوو قومي مشرانو سره يو ځای اعدام شو.

عطايي په کودتا کې د بهرني لاس په اړه ليکي: «د ميا غلام محمد په باب تر اوسه ما کوم سند نه دی ليدلی چې ده ته دې لارښوونه يا د راپور ورکړنه او غوښتنه پروته وی [پرته وي.] خو دا هم سالم عقل نشي ردولای...» چې ميا غلام‌محمد هندي «... څرنګه په دغسې حساس وخت کې ځان کندهار ته راورساوه او بيا يې... د قومونو مشران دې ته راوبلل چې د پاچا پر ضد قيام

وکړي.»(۷: ۴۷، ۴۸ مخونه) له دې پېښې وروسته د زمان شاه پر ضد په کور دننه ستونزې لا پسې ډېرې شوې.

**د زمان‌شاه په مقابل کې د ایران او انګلیس تړون**

لکه چې وړاندې یادونه وشوه، د ایران قاجاري دولت به تل د انګرېزانو په اشاره هغه مهال د افغانستان پر ملحقاتو بریدونه پیلول چې زمان‌شاه به د هند په لور سفربري پیل کړه او لا به د لارې نیمايي ته نه و رسېدلی، چې د ایران د برید او لاسوهنو له کبله به بېرته راوګرځېد. انګلیس په دې لټه کې شو چې دا ځل له زمان‌شاه څخه د بېغمه کېدو لپاره له ایران سره رسمي تړون لاسلیک کړي، د همدې موخې لپاره د انګلیس او ایران ترمنځ د ۱۸۰۱ م. کال د تهران دفاعیه تړون لاسلیک شو، د دې تړون مادې په لاندې ډول دي:

۱ ـ که چېرته د افغانستان پاچا په برتانوي هند باندې د حملې نیت وکړي، نو د ایران شاه به یو جراره لښکر د افغان د نابودي لپاره لیږي.

۲ ـ که د افغانستان پاچا د ایران له شاه سره د دوستۍ اراده وکړي، نو د ایران شاه به له هغه څخه ژمنه اخلي چې پر هند حمله ونه‌کړي.

۳ ـ که چېرته د افغانستان پاچا یا له فرانسې څخه یو شخص پر ایران د حملې اراده ولري، په هغه صورت کې به د برتانیې سرکار وسله او جنګي توکي له ازمویل شویو نظامي افسرانو سره د شاه د مرستې لپاره د ایران یوه نږدې بندر ته لیږي.

۴ ـ که چېرته فرانسویان د ایران د سواحلو له جزیرو څخه په یوه کې د راکښته کېدلو اراده وکړي، د ایران او برتانیې عسکر به په یووالي سره له هغوی څخه مخنیوی وکړي.

۵ ـ که چېرته د افغانستان د پاچا او ایران ترمنځ جګړه پېښه شي، تر هغه وخته چې دواړه لوري د منځګړیتوب غوښتنه ونه‌کړي، د برتانیې دولت به مداخله نه کوي. د جنوري لومړۍ نېټه، ۱۸۰۱ م.

لاسلیک: (جان مالکم ـ حاجي ابراهیم)(۲: ۷ ـ ۸ مخونه)

**د هند جنرل گورنر ته د جان مالکم وضاحتونه**

جان مالکم د هند جنرل گورنر ته په یو لیک کې له ایران سره د سیاسي تړون په اړه وضاحتونه ورکړي او لیکي چې د دې تړون یو شرط دا دی چې د تړون کوونکو هېوادونو څخه به یو هېواد هم د تړون کوونکي هېواد له دښمن سره مرسته نه کوي. کله چې زمان‌شاه پر هند حمله کوي، د ایران شاه به د افغانستان په لویدیځو پولو حمله کوي او که د ایران شاه له زمان‌شاه سره دوستي کوي، نو پر دې به یې هم قانع کوي چې نوموړی باید پر هند حمله ونه‌کړي او که دې شرایطو ته یې پاملرنه ونه‌کړه، نو د ایران شاه به د خپل پوځ په واسطه پر افغانستان حمله کوي. مالکم زیاتوي چې لکه څرنگه مې چې د اگسټ د میاشتې د ۱۰ نېټې په لیک کې خبر درکړی و چې په ۱۸۰۱ م. کال کې د هند پر لور د زمان‌شاه هر ډول اقدام د زغم وړ نه دی، اوس باید خپل ډاډ بیا څرگند کړم او دا زیاته کړم چې له روان حالت څخه داسې ښکاري چې روان کال او په ۱۸۰۲ م. کال کې له افغانستان څخه د هند لپاره د کوم خطر اټکل نه کیږي.(۱: ۴۹۴ ـ ۴۹۵ مخونه)

مالکم جنرل گورنر ته د زمان‌شاه د فراري ورور محمود په اړه داسې توضیحات وړاندې کړي وو: محمود له خراسان څخه حرکت کړی او ډاډه داسې دی چې کندهار ښار او د هغه شاوخوا څو کلاوې یې نیولې دي. څو تنه قومي مشران چې له زمان‌شاه څخه ناراضه وو، له محمود سره یو ځای شوي او د راتلونکي کال د پسرلي لپاره د جگړې په چمتووالي بوخت دي. له دې وخت، یعنې پسرلي وړاندې د زمان‌شاه پرمختگ او حمله ناشونې ده، ځکه د ټول ژمي په اوږدو کې د کابل او کندهار لاره د ارتباطي وسایلو پر مخ بنده ده. له دې بغاوت ورهاخوا قاجاري شاه هم ډاډ راکړی چې د ایران پوځ به خامخا په اپریل کې د خراسان په لوري حرکت وکړي. دا وخت نو ښکاره ده چې امکان نه لري ترڅو زمان‌شاه له سپټمبر یا اکتوبر وړاندې دې لوري ته له لښکرکشۍ وروسته

فارغ شي او بېرته کابل ته وګرځي. دا وخت يعنې په ۱۸۰۱ م. کال کې به ډېر وخت ونيسي چې زمان‌شاه په هند باندې د حملې لپاره چمتووالی نيسي.

مالکم د ايران دولت له اړخه د ختيځ هند کمپنۍ ته ليکلي وو: «تر هغه وخته چې د ايران هېواد متشکل پاتې شي، د هندوستان په نسبت د زمان‌شاه دراني له دښمنانه حملو څخه مخنيوی شوی دی...» (۱۳: ۱۷۰، ۱۷۱مخونه)

**پايله**

زمان‌شاه د افغانستان له څواکمنو او هغو پاچاهانو څخه ګڼل کېږي، چې په رښتينې توګه د انګرېزانو سترګه ترې سوځېدله او د ده په ستر شخصيت باندې په‌خپله انګرېزانو هم اعتراف کړی دی. زمان‌شاه د هند نيولو ته خورا لېواله و او غوښتل يې چې د نيکه په څېر يې هند له تورې او واک لاندې وي. نوموړي د خپلې همدې هيلې د پوره کولو لپاره څو ځلې پر هغه لوري لښکرې بوتلې، خو د کورنيو ستونزو له لاسه به بېرته بې‌پايلې له نيمې لارې راوګرځېد.

د هند پر لور د نوموړي پرله‌پسې او بې‌له ځنډه لښکرکشي يوه لويه تېر وتنه وه. په کار خو دا وه، چې له لومړۍ او دوهم ځل لښکرکشۍ وروسته يې لومړی د هېواد د کورنۍ اوضاع د بشپړې سمونې، د ايران غم او بيا يې د هند نيولو ته متې رابډوهلې وای. دا کار ځکه شونی و، چې زمان‌شاه د پوره، منظم او پياوړې نظامي ځواک څښتن و او د ايران هميشني او مسلسل ګوابنونه او لاسوهنې، چې د انګليس په لمسون يې کولې، په ډېره اسانه او ښه توګه يې له‌منځه وړلی شوې. که چېرې زمان‌شاه له دې اړخه ځان بېغمه کړی وای، نو د هند ګډوډ حالت، له انګرېزانو سره د هغه ځای د سيمه‌ييزو حاکمانو دښمني او د زمان‌شاه ورتلو ته د هغوی تندې ته په کتو لرې نه وه، چې له هنده به يې ډېر ژر د انګرېزانو ټغر ټول کړی وای. د ايران دربار ته د وزير وفادار خان له لېږل شويو ليکونو ښکاري چې دوی د انګرېزانو په دسيسو ډېر ښه خبر وو، چې د دوی پر وړاندې خنډونه جوړوي، خو دربغه چې نوموړي د خپلو هيلو د پوره کېدو لپاره ډېر بېړنۍ اقدام وکړ او مخکې له دې چې په کور دننه يې ټول مخالفتونه او د

لویدیځ ګاونډي ګوانبونه شنډ کړي وای، په وار وار یې د هند پر لور د تللو هڅه کوله.

بالاخره د زمان‌شاه پر وړاندې د انګرېزانو ټولو هڅو د هغوی لپاره مثبته پایله درلوده. زمان‌شاه د خپل واک تر پایه د خپلو وروڼو او قاجاري حکومت له لاسه وخت پیدا نه کړ، چې هند تر خپل واک لاندې راولي. په ډېر لږ لګښت او ډېرو هڅو انګرېز خپل هغه فرمول تطبیق کړ چې وايي نفاق واچوه او سیاست وکړه! نوموړي خپل ځان او دولت د انګلیس له توطئو څخه ونه‌شو ژغورلی، ځکه خو یې هیلې نیمګړې پاتې او انګرېز د خپلو هدفونو په ترلاسه کولو کې بریالی شو.

**وړاندیز**

د افغانستان دولت ته وړاندیز کېږي چې د هېواد له پولو بهر د خپلو سیاستونو تر پلي کولو او همالته د خپلو اهدافو تر ځارلو وړاندې لومړی د خپل هېواد داخلي اوضاع برابره او په کور دننه هر ډول مخالفتونه او ستونزې حل کړي، له هغه پرته به د وخت دولت د زمان شاه د دولت په سرنوشت اخته شي.

**ماخذونه**


۱ ــ جلالی، علی احمد. مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکری، جلد دوم، مدیریت عمومی نشرات وزارت دفاع ملی: ۱۳۴۷ ل.

۲ ــ حبیبی، عبدالحی. تاریخ تجزیه شاهنشاهی افغان، مرکز تحقیقاتی علامه حبیبی: ملت پریس ــ لاهور، ۱۳۸۰ ل.

۳ ــ ځدراڼ، محمدشریف، د برتانوي او پاکستاني استعمارګرو پرضد د پښتنو او بلوڅو د مبارزو تاریخ، لیکوال: د چهاردهي صنعتي مطبعه ــ کابل، ۱۳۹۹ل.

۴ ــ زرملوال، غلام محمد. افغانستان ـــ تر وروستي افغانه، مهتمم محمد اصف صمیم، دانش خپرندویه ټولنه: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه، قصه خوانی بازار، پېښور، ۱۳۸۳ل.

٥ ـ سیستانی، اعظم. ((توطئه انگلیس بر ضد زمانشاه و از دست رفتن خراسان)) افغان جرمن آنلاین، ۲۴ / ۲ / ۲۰۲۳ ، د لیکوالانو آرشیف، د اعظم سیستاني آرشیف، [۹ / ۱ / ۱۴۰۲هـ.ش.].
٦ ـ ظفر کاکاخیل، سیدبهادرشاه. پښتانه د تاریخ په رڼا کې، پنځم چاپ، یونیورسټي بُک اجنسی پېښور: ۱۹۹۹م.
۷ ـ عطایي، محمد ابراهیم. د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، میوند خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۳ل.
۸ ـ غبار، میرغلامحمد. افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول و دوم، مطبعه دولتي: کابل ـ افغانستان، ۱۳۴٦ل.
۹ ـ فرهنگ، میرمحمدصدیق. افغانستان در پنج قرن اخیر، جلد اول، ۱۳۷۱ل.
۱۰ ـ قاضی عطاءالله خان. د پښتنو تاریخ، لومړی ټوک، حربي پوهنتون: کابل ـ افغانستان، ۱۳۵٦ ل.
۱۱ ـ محسود، علي‌خان. له پیر روښانه تر باچاخانه پورې د پښتنو ملي مبارزې ته کتنه، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه، قصه‌خوانۍ بازار، پېښور. چاپ کال نامعلوم.
۱۲ – نیازی، مستعلي. د شاه زمان واکمني او د انګلیسانو دریځ، دانش خپرندویه ټولنه: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه ـ پېښور، ۱۳۸۴ ل.
۱۳ ـ وکیلی، فوفلزائی. درةالزمان فی تاریخ شاه زمان، ۱۳۳۷ ل.

څېړنیار سیدمحمد صادق سادات

# د سیدجمال الدین افغان علمي او تاریخي شخصیت ته لنډه کتنه

# A brief overview of Sayeed Jamaluddin Afghan scientific and historical personality

***junior Assistant Prof. sayed mohammad sadiq sadat***

**Abstract**

Afghanistan has been the land of many famous and renowned personalities, along the history, whose knowledge, wisdom and intelligence was outstanding in international level. One of these famous personalities is the Syed Jamaluddin Afghan. He is considering as one of the famous historical, political and genius figure of 13th (AH) century. The Afghan syed jamaludding was born in kunar province of Afghanistan, latterly shifted to Kabul with his family, by the request of government of that time. After completing his studies at a young age, he started working as an adviser in the royal court of king Amir Dost Muhammad Khan.

At the government of Amir shir ali khan, he was known as the founder of modern culture. Afghan Syed Jamaluddin spent his entire life in the struggle against colonialism, also had lefted several scholarly publications related to afghan culture and general knowledge, so that’s why raised up our history at international level.

This scientific research article, investigated the biography, religious and modern education, relations with the royal court and scientific and historical works of syed Jamaluddin Afghan which are important for the history of Afghanistan. This academic paper is concluded on the introduction, content, conclusion and bibliography.

**لنډیز**

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې په خپله غېږه کې داسې ستر او نومیالي اشخاص روزلي دي چې په پوهه، تدبیر او ذکاوت کې یې په نړیواله کچه ساری نه لیدل کېږي، چې یو له دغو نومیالیو څخه افغان سیدجمال الدین دی، نوموړی د دیارلسمې هجري لمریزې پېړۍ یو له مشهورو تاریخي، سیاسي او نابغه وتلو څېرو څخه شمېرل کېږي، افغان سیدجمال الدین د افغانستان په کُنړ ولایت کې نړۍ ته سترګې غړولي، وروسته د وخت د واکمن په بلنه له خپلې کورنۍ سره کابل ته کډوال شو. نوموړی د ځوانۍ پر مهال د زده کړو له بشپړولو وروسته له افغان واکمن امیر دوست محمد خان سره په دربار کې د سلاکار په توګه دنده پیل کړه، هغه وروسته د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ پر مهال د عصري فرهنګ د رامنځ ته کېدو د مؤسس په توګه پېژندل کېږي.

افغان سید جمال الدین د ژوند ټوله موده د استعمار پر ضد مبارزه کې تېره کړه. دغه راز یې د افغاني کلتور او پوهې د پراختیا لپاره زیات شمېر علمي آثار پر ځای پرېښي او زموږ د هېواد تاریخ یې په نړیواله کچه لوړ کړی دی

په دې علمي څېړنیزه مقاله کې د سیدجمال الدین افغان لنډ ژوند لیک، دیني او عصري زده کړې، له شاهي دربار سره اړیکي، د استعمار ضد مبارزه او د هغه د علمي او تاریخي آثارو په اړه چې د افغانستان د تاریخ لپاره مهم دي څېړنه شوي ده او د دې تر څنګ دا علمي مقاله پر سریزې، منځپانګې، پایلې او ببلیوګرافۍ باندې مشتمله او بشپړه شوې ده.

**سریزه**

د لرغوني افغانستان د هسکو غرونو په لمنو او په کُنړ ولایت کې د ساداتو په یوه جاهده، دینداره، متدینه او علم پالونکې کورنۍ او د سید صفدر په کور کې داسې یو نابغه وزېږېد چې د هغه وخت له وتلو علمي اشخاصو، فیلسوفانو او سیاست پوهانو څخه شمېرل کېده. دا نابغه سیدجمال الدین افغان و چې په پوهه، لیاقت، استعداد او ذکاوت کې یې هغه مهال په نړیواله کچه سارې نه لیدل کېده. له همدې امله زموږ د هېواد یو شمېر ګاونډیان هڅه کوي چې دغه ستر شخصیت او د هغه کارنامې په خپل هېواد پورې وتړي او زموږ د ګاونډیو هېوادونو په شمول یو شمېر نور هېوادونه هم هڅه کوي تر څو د بې اساسو لیکنو او نشریاتو په واسطه نړیوالو ته دا وښیي چې سیدجمال الدین افغان د دوی د هېواد وګړی دی او د هغه کارنامې په خپله ګټه وکاروي، خو هغه متل دی چې وایي: لمر په دوه ګوتو نه پټېږي، سید جمال الدین افغان په افغانستان کې زېږېدلی، دلته یې زده کړې کړې او په دې خاوره کې لوی شوی دی، خو دا چې افغان خاوره تل د پردیو د شومو پلانونو او شخصي ګټو په خاطر خپل اصیل بچیان د سیاست قرباني کړي او دې ته یې نه دی پرېښي چې د هېواد د آبادۍ او ښېرازۍ په لاره کې خپله پوهه او انرژي په کار واچوي، چې یو له هغو سترو شخصیتونو څخه چې د سیاست ښکار وګرځېد او له وطنه په نا هیلي توګه رخصت کړای شو، هغه سیدجمال الدین افغان و، د وخت واکمن امیر شیرعلي خان په لومړي ځل واکمنۍ کې د دربار که نفوذ لرونکو اشخاصو څخه ګڼل کېده، کورنۍ جګړو او د واک پر سر د بارکزي کورنۍ د شهزاده ګانو سیالۍ د دې سبب شوه چې افغان سیدجمال الدین ته د امیر شیر علي خان په دویم ځل واکمنۍ کې په دربار کې ځای ورنکړ شو او نوموړی یې دېته مجبور کړ چې هېواد پرېږدي. که څه هم سیدجمال الدین افغان له هېواد څخه هجرت وکړ او په بېلابېلو هېوادونو کې د جلاوطنۍ شپې او ورځې تېرې کړې، تر څو د سختو کړاونو او جلا وطنۍ له درد سره سم په ترکیه هېواد کې خپل روح د پاک رب

دربار ته وسپاره، خو هغه څه یې چې د اسلام د مبارک دین د خپرولو او د خپل هېواد د پرمختګ او د دې خاورې د بچیانو د هوساینې لپاره سرته رسولي نه هېرېدونکي دي. نوموړی د هر مسلمان او افغان په زړه کې ځای لري او د هغه هڅو او خدمتونو ته د قدر په سترګه ګوري. افغان سیدجمال الدین د افغانستان لپاره په سیاسي، ټولنیز او علمي برخو کې نه ستړې کېدونکي کارنامې پر ځای پرېښې، هغه که په هېواد کې د عصري فرهنګ پیل او که د عصري دولت، مطبوعاتو او عصري نظامي اردو جوړول وو او یا هم هغه علمي او تاریخي آثار او مقالې دي چې یو شمېر یې د چاپ په ګاڼه سمبال او یا هم له چاپ څخه پاتي دي، دا ټول هغه څه دي چې هغه موږ ته په میراث پرېښي او زموږ د تاریخ، کلتور او فرهنګ د ژوندي ساتلو او پرمختګ لپاره یې سرته رسولي دي.

که څه هم د یاد علمي او تاریخي شخصیت په اړه په هېواد کې د ننه او بهر د پوهانو او لیکوالانو لخوا زیات شمېر علمي لیکنې او مقالې لیکل شوي دي، خو افغان سیدجمال الدین له شخصیت او علمي او تاریخي لاسته راوړنو سره د مینې له امله مې یاده مقاله پیل کړه. تر څو د هغه په تاریخي او علمي لاسته راوړنو باندې څېړنه وکړم. او د دغه ستر شخصیت د کارنامو په باب یو بل اثر هم بشپړ کړم.

**د څېړنې مبرمیت**

د څېړنې مبرمیت په دې کې دی چې سیدجمال الدین افغان د یوه اسلامي لارښود او علمي او فرهنګي شخصیت په توګه په افغانستان او نړۍ کې یو مطرح شخصیت دی چې پېژندل او له آثارو او نظریاتو څخه یې په اوس او راتلونکي کې سمه ګټه اخیستل د هر افغان لپاره اړین دي.

**د څېړنې موخه**

د دې علمي څېړنې موخه د افغان سیدجمال الدین د علمي او تاریخي شخصیت او لاسته راوړنو او په هر زمان کې د پوهانو درناوي پېژندل دي.

**د څېړنې میتود**

د دې څېړنې په بشپړولو کې له تاریخي، توصیفي او تحلیلي میتودونو څخه استفاده شوې ده.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱ــ د افغان سید جمال الدین د شخصیت په اړه څه پوهېږئ؟

۲ــ له افغان سید جمال الدین کوم آثار په میراث پاتې دي؟

۳ــ د افغان سید جمال الدین د تاریخ لیکنې میتود کومه ځانګړتیا درلوده؟

**الف ــ د سیدجمال الدین افغان ژوند لیک**

سید جمال الدین افغان په ۱۲۵۴هـ ق کال چې له ۱۲۱٦ل. کال سره سمون خوري د کُنړ ولایت اړوند اسعد آباد سیمه کې په یوه دینداره متدینه او علم پروره کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. نوموړی د سید محمد صفدر زوی و. دوی په قوم سادات او شجره یې د حضرت محمد (ص) لمسي امام حسین (رض) ته رسیږي، کله چې سید صفدر خپل زوی سیدجمال الدین افغان ولید، نو په څېره یې پوه شو چې دی به په راتلونکي کې ستر شخصیت وي نو له همدې امله یې نوم ورباندې سید جمال الدین کېښود. د افغان سید جماالدین کورنۍ هغه مهال نه یوازې دا چې د کُنړ ولایت د اوسیدونکو د درنښت وړ وه، بلکې د وخت امیرانو او حاکمانو هم د دوی کورنۍ ته ډېر احترام او درناوی درلود. د افغان سیدجمال الدین پلار یو تکړه دیني عالم و او په صورت او سیرت کې یو له وتلو او پوهو اشخاصو څخه شمېرل کېده او هغه مهال په کُنړ ولایت کې له ډېر نفوذ څخه برخمن و. دغه راز د یاد ولایت له بېلابېلو سیمو څخه به خلک د دم او دعا لپاره ورته راتلل.(۲: ۳۰ــ ۳۲مخونه)

سید جمال الدین افغان په کوچینتوب کې له خپل پلار سره په خپل کلي اسعد آباد کې اوسېده او د نوموړي لومړنی استاد هم د هغه پلار و چې په کور کې یې خپل زوی ته روزنه ورکوله، داسې هم ویل کېږي چې د سیدجمال الدین افغان پلار به کله نا کله نشو کولای چې په تدریس کې خپل زوی ته

قناعت ورکړي او د هغه له ذکاوت څخه به عاجز و، دا مهال په افغانستان کې د امیر دوست محمد خان واکمني وه. امیر دوست محمد خان او له هغه څخه مخکې د سدوزیو او بارکزیو د کورنیو امیرانو د کُنړ ولایت ساداتو ته ډېر درناوی درلود او هر امیر د خپلې واکمنۍ پر مهال دې کورنۍ ته مادي او معنوي امتیازات ورکول. له همدې امله امیر دوست محمد خان هم د دې لپاره چې د سید جماالدین او د هغوي له کورنۍ سره ښې او نږدې اړیکې ولري، نو لازمه یې وګڼله چې د سید جمال الدین پلار او د کورنۍ غړي یې کابل ته راولي، هماغه و چې امیر دوست محمد خان په غوښتنه سیدصفدر د کورنۍ له ټولو غړو سره له کونړ څخه کابل ته کډوال شول، دا مهال افغان سید جمال الدین اته کاله عمر درلود او له دې وروسته یې له خپلې کورنۍ سره په کابل کې اوسېده. په کابل کې د هغه د روزنې لپاره ښه زمینه برابره وه په ډېره کمه موده کې افغان سید جمال الدین په یو ستر شخصیت باندې په نړیواله کچه مشهور شو.(۲: ۳۲ـ ۳۵مخونه)

**ب ـ د سید جمال الدین افغان زده کړې**

سید جمال الدین افغان ته الله (ج) عجیبه ذهن، لیاقت او استعداد ورکړی و، له همدې امله نوموړي ته د ختیځ نابغه هم ویل کېږي، هغه لومړنۍ دیني زده کړې په خپل کور کې له پلار څخه پیل کړې، دا هغه مهال و چې د دوی کورنۍ لا کابل ته کډه شوې نه وه. د سید جمال الدین پلار سید صفدر به ځینې وخت نشو کولای چې خپل زوی ته قناعت ورکړي. دغه راز سید جمال الدین افغان به د عربي ژبې کتابونه څو مخونو وروسته نور پخپله ویل او په ټول کتاب به پوهېده.(۵:۱۱مخ)

کله چې د سیدجمال الدین افغان پلار له کُنړ څخه کابل ته کډوال شو، په کابل کې د هغه د روزنې لپاره ښه زمینه برابره وه او هلته سید جمال الدین افغان په ښه توګه خپلو زده کړو ته دوام ورکړ. هغه دیني او شرعي علوم لکه فقه، تفسیر، حدیث، اصول، عقاید او تصوف او د عربي ژبې په ګډون ټول اړوند

علوم لکه نحوه، صرف، معانی، بیان، دغه راز عقلي علوم لکه نظري منطق، حکمت، رياضي، هندسه، الجبر او طبي کتابونه کوم چې په افغانستاه کې موجوده و او تدريس کېدل پای ته ورسول. کله چې په افغانستان کې د نوموړي د زده کړو مرحله پای ته ورسېده، نو د نورو زده کړو لپاره يې هندوستان ته سفر وکړ، افغان سيدجمال الدين هلته د رياضي علم په نويو او عصري ميتودونو سره ولوست او د څه باندې يو کال مسافرت وروسته له نويو تجربو او علومو سره هېواد ته راستون شو.

سيد جمال الدين افغان له هر اړخيزو زده کړو وروسته په ۱۲۳۵ل. کال چې عمر يې شاوخوا (۱۹) کاله و، د حج د فريضې د ادا کولو تکل وکړ او د يادې فريضې د ادا کولو لپاره عربستان هېواد ته ولاړ، نوموړی د حج د مبارکې فريضې له تر سره کولو وروسته په ۱۲۳۶ل. کال بېرته هېواد ته راستون شو. هغه په دې سفر کې په عقيدوي او علمي لحاظ زيات شمېر تجربې تر لاسه کړې او په دې و پوهېده چې د اسلام د مبارک دين او د مسلمه امت اصلي دښمنان څوک دي او په څه ډول اسلامي ټولنه کولای شي چې د کفارو له شومو دسيسو او پلانونو څخه ځان خلاص او يوه غوره اسلامي ټولنه ولري.(۸: ۲۵۸مخ)

**ج ـ له دربار سره اړيکې**

د کُنړ سيدانو له پخوا زمانې له شاهي کورنۍ سره اړيکې درلودې او د دوي د کورنۍ بېلابېلو مشرانو په شاهي واکمنۍ کې بېلابېلې دندې سرته رسولې وې، خو دا چې د سيدجمال الدين افغان پلار په کُنړ ولايت کې هغه مهال له ډېر نفوذ څخه برخمن و، نو له همدې امله د وخت واکمن امير دوست محمد خان هغوی ته بلنه ورکړه تر څو کابل ته راشي. له همدې امله افغان سيد جمال الدين له خپلې کورنۍ سره کابل ته راغی او په کابل کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، هغه د زده کړو له بشپړلو وروسته د سيمې هېوادونو ته يو لړ سفرونه هم وکړل چې په علمي او سياسي برخو کې يې زياتې لاسته راوړنې درلودې.

نوموړي د دې سفرونو پر مهال په ګاونډيو او عربي هېوادونو کې د مسلمانانو د پرمختګ او پر ځان بسايني لارې چارې زده کړې او د دې سفرونو په ترڅ کې يې د ختيځو ملکونو له اخلاقو او عادتونو سره ځان پوره بلد کړ. د هغه دا لاسته راوړنې ورته په راتلونکي کې ګټورې تمامې شوې.

د افغان سيدجمال الدين اړيکې له شاهي دربار سره هغه مهال ټينګې شوې چې په هېواد کې مو د امير دوست محمد خان واکمني وه، او افغان سيدجمال الدين هم له سفرونو وزګار شوی و او د خپل هېواد د آبادۍ او پرمختيا هيلې يې له ځان سره درلودې، امير دوست محمد خان هم هغه ته په دربار کې لوړ مقام ورکړ او افغان سيدجمال الدين يې د خپل شاهي دربار د مصاحب سلاکار په توګه مقرر کړ. دغه راز نوموړي ته يې دنده وسپارله تر څو د امير زوی محمداعظم خان تر خپلې ځانګړې روزنې لاندې ونيسي او په ديني او عصري برخو کې ورته زده کړې ورکړي.(۱۱: ۱۵ـ ۱٦مخونه)

سيد جمال الدين افغان د امير دوست محمد خان د واکمنۍ پر مهال تر پايه پر همدې دنده پاتې شو او له امير سره يې په بېلابېلو برخو کې خپلې نېکې مشورې او تجربې شريکولې، په ۱۲۴۲ل. کال امير دوست محمد خان له دې نړۍ سترګې پټې کړې او د هغه پر ځای يې زوی امير شيرعلي خان د هېواد د چارو واګې په لاس کې واخيستلې.امير شيرعلي خان هم سيدجمال الدين افغان ته هماغه منصب ور کړ کوم چې پلار يې هغه ته ورکړی و او هغه يې د خپل دربار د سلاکار په توګه وټاکه.

افغان سيدجمال الدين په شاهي دربار کې امير شيرعلي خان ته د هغه په لومړي ځل واکمنۍ کې تر ټولو نږدې او د اعتماد وړ کس شمېرل کېده، له همدې امله ځوان سيد جمال الدين له دې ښې او مناسبې موقع نه په استفادې د خپل هېواد د فرهنګي پرمختګ لپاره د هېواد په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د شمس النهار جريده تأسيس کړه. دغه راز د هېواد د دفاع لپاره يې د عصري اردو د جوړولو لپاره هم هڅې پيل کړې، لکه څرنګه چې مخکې مو

یادونه وکړه سیدجمال الدین د خپلو سفرونو په پایله کې دې نتیجې ته رسېدلی و چې د ختیځ هره ټولنه که غواړي له استعمار او بدبختیو څخه ځان خلاص او خپلواکه جغرافیه او دولت ولري، نو باید چې په عصري فرهنګ او تکنالوژۍ ځانونه سمبال کړي. له همدې امله د سید جمال الدین په هڅو او کوښښونو سره امیر شیرعلي خان په افغانستان کې د عصري معارف او اردو د مؤسس په توګه پېژندل کېږي، امیر د دې اردو لپاره د کابل په شیر پور او فقیر آباد کې په عصري وسایلو سمبال یو لړ عصري ودانۍ جوړې کړې. دغه راز افغان سید په هڅو یو شمېر نظامي اصطلاحات او رتبې له انګلسي او دري ژبو څخه پښتو ژبې ته وژباړل شوې او فرهنګي، سیاسي او دیپلو ماټیکو برخو کې زیات شمېر اصلاحات راوستل شول، پښتو ژبه د حکومتدارۍ ژبه شوه او د دربار قاضي به د افغانستان په اړه د سیمې او نړۍ اخبار پښتو ته را ژباړل او د امیر شیرعلي خان په واک کې به یې ورکول تر څو د نړۍ د پېښو او وضعیت څخه خبر و اوسي.(٦ :٩٨ـ ٩٩مخونه)

د امیر شیر علي خان د واکمنۍ لومړۍ دوره د هغه د وروڼو امیر محمد اعظم خان او محمد افضل خان لخوا له سقوط سره مخ شوه او په١٢۴۵ل. کال په افغانستان کې د امیر محمد افضل خان واکمنۍ دوره چې شاوخوا یو کال یې دوام وکړ پیل شوه او ورپسې یې بل ورور امیر محمد اعظم خان د چارو واګې په لاس کې واخیستې، چې هغه هم تر ١٢۴٧ل. کال پورې د یو کال لپاره د افغانستان واکمن و. یادو دواړو وروڼو واکمنانو سیدجمال الدین افغان ته د صدارت دنده ورکړې وه او په خپل دربار کې یې په ډېر درناوي سره وساته.

په ١٢۴٧ل. کال امیر شیرعلي خان یو ځل بیا په دې وتوانېد چې خپل مخالفین له مخې لرې او واک تر لاسه کړي. افغان سید جمال الدین د امیر شیرعلي خان په دوهم ځل واکمنۍ کې هم د امیر د اعتماد او درناوي وړ کس شمېرل کېده. دغه راز سیدجمال الدین افغان هم په پوره مېړانه او صداقت سره د خپل هېواد د پرمختګ پلانونه پلی کول، خو دا ځل په شاهي دربار کې

نوموړي ته یوشمېر ستونزې جوړې شوې، د شاهي کورنیو غړو او د شاهي دربار یو شمېر نورو کسانو د سیدجمال الدین له نفوذ څخه ویره درلوده، هماغه و چې د شاه او د سیدجمال الدین افغان ترمنځ یې اختلافاتو ته لمن ووهله او هڅه یې وکړه چې سیدجمال الدین او امیر شیرعلي خان سره لرې کړي.(۱۱: ۱٦ـ ۱۷مخونه)

مخکې یادونه وشوه چې امیر دوست محمد خان سیدجمال الدین افغان د خپل زوی محمداعظم خان د ښوونکي په توګه ټاکلی و تر څو ورته په دیني او عصري برخو کې روزنه ورکړي، له همدې امله کوم وخت چې امیر شیرعلي خان له محمداعظم خان نه د دوهم ځل لپاره واک تر لاسه کړ او په ۱۲۴۷ل. کال په افغانستان کې د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ دویمه دوره پیل شوه، نو د نوموړي په دربار کې یو شمېر کسانو امیر دې ته وهڅاوه تر څو افغان سید له دربار څخه لرې کړي او هغه واکونه چې مخکې یې ورکړي وو، بېرته ترې واخلي، په دې شوم پلان کې محمد رفیق خان لودي چې د امیر شیرعلي خان د دربار له مهمو غړو څخه و او د افغان سید جمال الدین له نفوذ څخه یې ویره درلوده مهم رول درلود. نوموړي امیر شیرعلي خان ته داسې مفکوره ورکړه چې سید جمال الدین د محمد اعظم خان ښوونکی پاتې شوی او له هغه سره یې په دربار کې مرسته کړې وه او ستا په دویم ځل واکمنېدو خوښ نه ښکاري، نو ښه دا ده چې نوموړی له دندې ګوښه او یا هم له هېواد څخه تبعید کړې. امیر شیرعلي خان هم چې د ورونو سره په ستونزو او ناخوالو کې ستړی شوی و او د هغوی پلویان یې هم بد راتلل د دربار د یو شمېر کسانو تر اغیزې لاندې راغی او له سید جمال الدین سره یې داسې کړنې پیل کړې چې موخه یې له دربار څخه دده رخصتول و. افغان سید جمال الدین هم چې په حالاتو باندې پوه شو نو ښه یې وګڼله چې هېواد پرېږدي او له هېواد څخه د وتلو هوډ یې وکړ.(٦: ۹۹مخ)

سیدجمال الدین افغان مخکې له دې نه چې هېواد پرېږدي، امیر شیرعلي خان ته یې داسې یو لیک منظم کړ چې په هغه کې د افغانستان د پرمختګ او خپلواکي د ترلاسه کولو لپاره مهم یادښتونه راغلي وو، دا لیک یې امیر ته د وروستي لیدنې پر مهال وسپاره، په دې سره د سید جمال الدین افغان او شاهي دربار ترمنځ اړیکې هم پای ته ورسېدې.

افغان سید جمال الدین جلا وطنۍ ته ملا وتړله او له هېواد څخه په داسې حالت کې ووت چې د ژوند تر پایه بېرته رانغی او په جلا وطنۍ کې په ۱۲۷۵ل. کال چې له ۱۳۱۴هجري سپوږمیز سره سمون خوري د سرطان د ناروغۍ له امله د ترکیې په هېواد کې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او همدلته د شېخلر مزارلغې په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو، خو په ۱۳۲۳ل. کال د افغان او ترکیې دولتونو د هوکړې له مخې یې تابوت کابل ته انتقال او په کابل پوهنتون کې ورباندې لوړ ځلی جوړ شو.(۴: ۴۸مخ)

**د ـ د سید جمال الدین افغان د څېړنې او تاریخ لیکنې میتود**

افغان سید جمال الدین زموږ د هېواد وتلی، نومیالی او علمي څېره وه چې د ځوانۍ له پیل څخه د ژوند تر پایه خپل دین، هېواد او ټولنې ته نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړي، هغه په لسګونه علمي او تاریخي آثار موږ ته په میراث پرېښي دي. نوموړی د نړۍ د نورو نابغه اشخاصو، فیلسوفانو، تاریخ لیکونکو او نومیالیو څېرو په شان ښکلی صورت او سیرت او په علمي او سیاسي ژوند کې د ځانګړو کردارونو او خصوصیاتو درلودونکی و.

سید جمال الدین په څېړنه کې یو خاص مهارت درلود، نوموړی د نړۍ زیات شمېر هېوادونو ته سفرونه کړي وه او کله به چې کوم هېواد ته په سفر ولاړه نو هلته به له لږ وخت تېرولو وروسته د یاد هېواد ژبه زده کوله او خبرې به یې پرې کولې. له همدې امله نوموړي زیات شمېر ژبې زده کړې وې او دا معمول خبره ده چې د ژبو زده کړه په څېړنه کې خاص رول لري. له همدې امله سید جمال الدین افغان په خپلو څېړنو کې د بېلابېلو هېوادونو کلتور، عنعنات، تاریخ او

فرهنګ د هغه هېواد په ملي ژبو کې لیکلی دي. دغه راز نوموړي په فارسي، عربي، ترکي، او یو شمېر نورو ژبو باندې زیات شمېر آثار، مقالې او علمي لیکنې کښلي دي.

د سید جمال الدین افغان د څېړنې او تاریخ لیکنې میتود ځانګړي طرز درلود، د بېلګې په توګه نوموړي هڅه کوله چې د هر هېواد او ټولنې لپاره د هغوی په ژبه علمي آثار ولیکي. په دغو علمي آثارو کې د خپل وخت بېلابېلې پېښې د وخت او مکان، علت او معلول په قید سره څېړلي دي. هغه همېشه د اسلامي نړۍ د وروسته پاتې والی په عواملو او د نړیوالو استعمار نه د دوی د آزادۍ په لارو چارو غږېدلی دی. او په خاصه توګه د اسلامي امت د کامیابۍ او د استعمار سره د مبارزې لپاره یې په بېلابېلو برخو کې داسې لیکنې کړي دي چې اسلامي ټولنه یې د استعمار پر ضد راوینښه کړي او هغوی ته یې د خپلواک ژوند اصول ور زده کړي دي.

په دې توګه موږ ویلای شو چې د سید جمال الدین د څېړنې او تاریخ لیکنې میتود د نقد، تحلیل او تفسیر پر پنسټ ولاړ و او د اسلامي امت او په ځانګړې ډول د افغان ملت د خپلواکۍ ګټلو او له استعمار سره د مبارزې پر اصولو متکي و، هغه په خپلو زیات شمېر آثارو او لیکنو کې تر ډېره اسلامي امت د کفارو او استعمار ګرو پر وړاندې مبارزې ته رابللي دي او په مقابل کې یې اسلامي امت ته د عصري تمدن او عصري فرهنګ سره بلدتیا مهمه او اړینه ګڼلې ده.

**هـ ـ د سیدجمال الدین افغان علمی او فرهنګي آثار**

سید جمال الدین افغان د خپل ژوند زیاته برخه د هېواد پرمختګ او فرهنګي لاسته راوړنو ته ځانګړې کړې وه او د ژوند تر پایه یې بې شمېره علمي او تاریخي اثار اسلامي ټولنې ته په میراث پرېښي دي. موږ کولای شو چې د افغان سید جمال الدین علمي آثار په څلور برخو باندې وویشو.

لومړی: د افغان سید جمال الدین هغه آثار او کتابونه چې په مختلفو ژبو باندې د چاپ په ګاڼه سمبال شوي دي.

دويم: د نوموړي هغه علمي او فرهنګي آثار چې له چاپ څخه پاتې دي او يا هم اوس په لاس کې نشته.

دريم: د هغه علمي او سياسي مقالې چې د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو په جريدو او ورځپاڼو کې چاپ او خپاره شوي دي.

څلورم: د افغان سيد جمال الدين د ژوند خاطرې او د يو شمېر هېواودونو واکمنانو ته ليکونه او سپارښتنې دي.

دا چې په دې مقاله کې د نوموړي د ټولو آثارو يادونه ناشونې ده، له همدې امله يې دلته د نمونې په ډول د يو څو علمي آثارو او د مقالو ټولګو څخه يادونه کوم، هغه چې د افغان ولس د تاريخ، فرهنګ او عصري تمدن د پرمختګ لپاره مهمې دي.

۱ـ عروة الوثقی: العروة الوثقی نه يوازې دا چې جريده وه، بلکې دا يو انجمن و چې د افغان سيدجمال الدين لخوا تأسيس شوی و، په دې جريده کې د افغان سيدجمال الدين او همفکره ملګرو لخوا د استعمار ضد او د اسلام د مبارک دين د خپرولو په ملاتړ يې موضوعات خپريدل. د دې جريدې ګڼې هغه مهال په افغانستان او يو شمېر نورو ګاونډيو او عربي هېوادونو کې په وړيا ډول ويشل کېدې. د عروة الوثقی جريدې اغيزې په اسلامي ټولنه باندې په بې ساري ډول د ډېريدو په حال کې وې او ورځ تر بلې يې مينه وال زياتېدل، له همدې امله په مصر او يو شمېر نورو هېوادونو کې د دې جريدې په نشراتو بنديز او جريمه ولګول شوه.۷: ۱۳ـ ۱٦مخونه)

۲ـ ضياء الخافقين(روشنايي خاور و باختر): دا هم يوه جريده وه چې په عربي، انګليسي، اردو او ترکي ژبو يې بېلابېلې مقالې خپرولې، د دې جريدې مؤسس هم سيد جمال الدين و چې د خپلو ملګرو سره يې خپل علمي مطالب په دې جريده کې نشرول. دا جريده په لندن کې چاپ او په وړيا ډول پر خلکو ويشل کېدل، نوموړې جريده هم د عروة الوثقی په څېر ډېر وخت دوام ونکړ او د يو څوګڼو له خپرولو وروسته وتړل شوه.(۷:۴۲ـ ۴٦،۴۳مخونه)

۳ـ تتمت البيان فی تاريخ الافغان: دا د افغان سید جمال الدین یو ډېر مهم اثر دی چې په عربي ژبه لیکل شوی، دا اثر په ۱۳۱۸ل. کال د محمدامین خوګیانې له لوري فارسي ژبې ته وژباړل شو. دغه راز یاد اثر په همدې کال (۱۳۱۸ل.) کې د محمد رفیق حبیبی په واسطه فارسي او پښتو ژبې ته وژباړل شو چې پښتو ژباړه يې په ۱۳۸٦ل. کال د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې لخوا د چاپ په ګاڼه سمبال شوه.(۴۷:۷ـ ۴۸مخونه)

د سید جمال الدین افغان دا اثر د افغانستان د تاريخ لپاره ډېر ارزښت لري. لیکوال په دې اثر کې د افغان کلیمې د تسمیې پر وجې غږیدلی او وروسته په افغانستان کې پر تاریخي مهمو پېښو، د پښتنو او نورو قومونو د کلتور عنعناتو او د افغان او افغانستان د تاریخي مخینې په اړه مطالب راوړي دي.(۷: ٥٦،٦٥مخونه)

۴ـ تاریخ اجمالي ایران: د سیدجمال الدین افغان یاد اثر په ۱۳۳۳هـ ق. کال کې د هندوستان په بمبئی ښار او مظفری چاپخونه کې له چاپ څخه را وتلی، خو وروسته دا اثر په ایران کې هم چاپ شوی دي. په دې اثر کې افغان سیدجمال الدین د ایران له لرغونی تاريخ څخه پیل تر قاجاري کورنۍ پورې د هر واکمن د واکمنۍ موده او مهمې پېښې ذکر کړي دي. سربېره پردې یاد اثر په ایران کې د افغاني هوتکیانو د واکمنۍ په اړه هم مفصل معلومات وړاندې کړي دي.(۷: ۴۹،۴٦مخونه)

٥ـ البیان فی الانجلز و الافغان: البیان فی الانجلز و الافغان د افغان سیدجمال الدین د مقالو ټولګه ده چې د لومړي ځل لپاره په ۱۲٥۷ل. کال د مصر په جریده کې خپرې شوي دي، چې شپږ اوونۍ وروسته له چاپ او خپرېدو څخه جورج پیرسی پادچر دا د مقالو ټولګه انګلیسي ژبې ته وژباړله. دا اثر دوه میاشتې وروسته له هغه چې په عربي ژبه چاپ شوی و، په انګلیسي ژبه هم د چاپ په ګاڼه سمبال شو.

افغان سید جمال الدین په خپل دې اثر کې د امیر شیر علي خان او انگلسیانو ترمنځ د اړیکو، د ۱۲۵۷ل. مهمو پېښو او په افغانستان باندې د انگلیس احتمالي یرغل په اړه خپل معلومات ذکر کړي دي.(۷: ۷۷،۸۰مخونه)

٦ـ د سید جمال الدین افغان هغه ناچاپ آثار چې تر اوسه نه دي چاپ شوي، او یا هم په مختلفو هېوادونو کې په غیر منظم ډول پاتې دغو، د دې آثارو او مقالو ترڅنګ یو شمېر واکمنانو او مشهورو شخصیتونو ته د لیکونو تعداد لسګونو ته رسیږي.(۱۰: ۱۴ـ ۱۷مخونه)

په پای کې باید ووایو چې سید جمال الدین افغان نه یوازې خپل ژوند د علمي او فرهنګي آثارو په لیکلو کې تېر کړی، بلکې د استعمار پر ضد او د اسلامي امت د پرمختګ او د کفارو او یرغلګرو له شر څخه د خلاصون په لاره کې یې نه ستړې کېدونکې مبارزه کړې ده. له همد امله موږ ویلي شو چې افغان سید جمال الدین زموږ د هېواد تکړه علمي، فرهنګي او سیاسي لارښود و.

**پایله**

په پایله کې ویلای شو چې سیدجمال الدین افغان زموږ د هېواد افغانستان یو له هغو وتلو او نومیالیو سیاسي او علمي شخصیتو څخه شمېرل کېږي چې د ژوند ټوله موده یې نه یوازې د افغاني ټولنې د پرمختګ او افغاني پوهې د بډاینې لپاره وقف کړې، بلکې د ټولې اسلامي نړۍ د پرمختګ او سوکالۍ لپاره یې نه ستړې کېدونکې مبارزه کړې ده.

نوموړي ته د الله (ج) له لوري داسې ذهن ورکړل شوی و چې هغه مهال یې په نړیواله کچه ساری نه لیدل کېده، هغه لومړنی زده کړې په خپل کور کې له خپل پلار څخه پیل کړې خو وروسته د پوهې داسې مرحلې ته ورسېد چې د کوم کتاب لیک لږ له لوستلو وروسته به په ټول کتاب پوهېده او لوستلو ته به یې ضرورت نه پېښېده.

افغان سيد جمال الدين د زده کړو له تر لاسه کولو وروسته له شاهي دربار سره يو ځای شو او په افغانستان کې يو شمېر مهم او بنسټيز اصلاحات يې رامنځ ته کړل، خو وروسته يې د يو شمېر چارواکو په لمسونه د وخت واکمن امير شيرعلي خان سره د يو لړ عواملو له امله اختلاف پيدا شو او د امير لخوا جلا وطنۍ ته اړ شو، خو دا چې افغان سيد جمال الدين له خپل هېواد سره بې کچې مينه درلوده او د افغانستان زرغونتيا يې هيله او اميد و، نو له وطن څخه د هجرت پرمهال يې امير شير علي خان ته د اصلاحاتو يو شمېر يادښتونه ورکړل او بيا له وطن څخه په داسې حالت کې ولاړ چې د ژوند تر پايه يې بيا خپل وطن ونه ليد.

نوموړی زموږ د هېواد تاريخ او فرهنگ ته داسې نه سترې کېدونکې هلې ځلې کړي چې د نړۍ زيات شمېر ليکوالانو پرې ليکنې او تبصرې کړې دي او هغه د يو وتلي ديني عالم، نابغه، سياسي او علمي شخصيت په توگه را پېژني.

په دې توگه موږ ويلای شو چې افغان سيد جمال الدين د افغانستان او د ټولنې اسلامي نړۍ لپاره ستر وياړ دی او هغه هڅې يې چې زموږ د هېواد او اسلامي نړۍ د تاريخ، فرهنگ او استعمار پر وړاندې د مبارزې روحيې د ژوندي ساتلو لپاره سرته رسولي د ستايلو وړ دي او موږ ته په کار ده چې افغان سيدجمال الدين د هېواد او نړۍ په کچه د يوستر لاربنود، علمي، فرهنگي، رسنيز، سياسي او مبارز شخصيت په توگه په کور دننه او بهر نړيوالو ته وروپېژنو.

**وړانديز**

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د افغان سيد جمال الدين په څېر د داسې نوميالیو او علمي شخصيتونو ټاټوبی گڼل کېږي چې په نړيواله کچه يې شهرت موندلی او په کارنامو باندې يې نړيوال څېړنې او ليکنې کوي. دې نوميالیو ټولنې اسلامي نړۍ او په ځانگړې توگه د افغانستان تاريخ او فرهنگ ته نه سترې کېدونکي کارنامې پر ځای پريښي دي چې بايد ترې هر افغان وگړی

خبر او د هغوي په نقش قدم باندې روان شي له همدې امله د يادو ملي او علمي شخصيتونو د نوم او نښان ژوندي ساتلو لپاره يو شمېر وړانديزونه لرم.
۱ـ د افغانستان اسلامي امارت ته مې وړانديز دی تر څو د افغان سيدجماالدين په څېر د افغانستان د ملي او تاريخي شخصيتونو د نوم او نښان د ژوندي ساتلو لپاره علمي مراكز او پوهنتونونه د هغوی په نومونو مسما كړي.
۲ـ د هېواد علمي بنسټونو ته مې وړانديز دی تر څو د افغان سيد جمال الدين په څېر علمي او تاريخي وتلو څېرو په اړه علمي سيمينارونه او كنفرانسونه جوړ كړي تر څو هېوادوال مو خپل ملي اشخاص وپېژني او له كارنامو څخه ځان خبر كړي.

**مأخذونه**

۱ـ ابوريه، محمود. مبارزه سيد جمال الدين افغان، مترجم، پنجشيری، غلام ربانی و راضی، محمدحسين. وزارت معارف رياست دار التاليف: ۱۳۴۱ه ش.
۲- ابوريه، محمد، د افغان سيد جمال الدين د ژوند لنډ تاريخ، پښتو ژباړه، غلام ربانی وطن يار، كتاب چاپولومؤسسه: پيښور، ــ.
۳ـ رهين، سيدمخدوم، گزيده آثار سيد جمال الدين افغانی، مؤسسه انتشارات بيهقی: ۱۳۵۵ه ش.
۴ـ صفا، مصطفی. د نړۍ سل مشهورې څېرې. دويم چاپ، مومند خپرندويه مؤسسه: جلال آباد، ۱۳۹۵ل.
۵ ـ طبيبی، عبدالحكيم. تلاشهای سياسی سيد جمال الدين افغان، مؤسسه اتشارات بيهقی: حوت ۱۳۵۵ه ش.
٦ـ عطايی، محمدابراهيم. د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه كتنه، ميوند خپرندويه ټولنه: كابل، ۱۳۸۳ل.
۷ـ فاضل، فضل الرحمن. بيدارگر عصر، وزارت اطلاعات وفرهنگ: كابل، ۱۳۸۷ل.

۸ ـ قاسم، محمود.«د افغان سید جمال الدین ژوند ته لنډه کتنه» مجموعه مقالات، رساله ها و مقالات درباره سیدجمال الدین افغان، اهتمام و تدوین، حبیب الرحمن جدیر، مؤسسه انتشارات بیهقی: ۱۳۵۵ل.
۹ـ مخزومی، محمد باشاد. د افغانی سید جمال الدین خاطرات، ژباړن، ارشاد، محمدشاه، سمون او تعلیقات سیدامن مجاهد. د علومو اکاډمي: بهیر مطبعه، ۱۳۹۰ل.
۱۰ـ مهدی، اصغر. مجموعه اسناد و مدارک چاپ نشده در باره سیدجمال الدین افغانی، انتشارات دانشگاه تهران: تهران، ۱۳۴۲ه ش.
۱۱ـ نړیوال، رازقي. علامه سید جمال الدین افغانی، کتاب ښار: کابل، ۱۳۹۷ل.

څېړندوی شوکت الله عابد

# په افغانستان کې د ګرځندوی صنعت د ودې موثر او عمده لاملونه: فرصتونه او ننګونې (۱۴۰۱-۱۴۰۲)

# Main and effective factors of tourism in Afghanistan; opportunities and challenges

***Researcher: Shaukatullah Abid***

**Abstract**

It’s much important to invest in every economic and social sector for the economic growth and development of Afghanistan. Where tourism is an international economic, social and entertainment related sector, thus, many parts and many classes of society involve in. So, mostly tourists visit famous and historical and they usually take part in the Cultural, Social, Economic and Historical issues there, therefore it could be cause to established social and economic relations among these people. Furthermore, political stability, good weather, attractive nature, well economic situations, good cultural customs and many more are the main and effective factors, which widely have impact on tourism. Currently, good economic status tourists’ tries to travel where the climate is in a good condition, pollution is not exist or at least it’s least as much it is and other mentioned factors to be exists. Thus, it’s been tried by the descriptive and

analytical methods of research in this paper to introduced main and effective factors of tourism in Afghanistan and answer the research questions and could be declare that, what's the economic impact of the tourism for Afghanistan.

**Key words:**
Tourism, Economics, Opportunities, Challenges, Afghanistan

**لنډیز**

د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختيا لپاره اړينه ده چې د هېواد په ټولو اقتصادي او ټولنېزو سکتورونو کې بنسټيزه پانګونه وشي او له ټولو اقتصادي فرصتونو څخه ښه اغېزمنه ګټه واخيستل شي. په همدې موخه ګرځندوی هم يو له مهمو اقتصادي، فرهنګي او تفريحي سکتورونو له جملې څخه دی. په دغه برخه کې ډېر اړخونه شامل دي؛ چې د دغه برخې ګډونوال د ټولنو په بېلابېلو اقشارو او طبقو پورې اړوند دي. د نړۍ له هرې برخې څخه مشهورو، تاريخي او تفريحي ځايونو ته سيلانيان ورځي، هلته په علمي، فرهنګي، تاريخي او اقتصادي مسائلو کې برخه اخلي، دا ښکيلتيا اقتصادي او ټولنيزې اړيکې ايجادوي. په ټوله کې په دغو اړيکو باندې يو لړ اساسي فکتورونه لکه سياسي ثبات، ښه ټولنيز اقتصادي وضعيت، هوا، ښکلې طبعيت، غوره فرهنګي دودونه او نور تاريخي-فرهنګي لاملونه اغيز لري. له بله پلوه د نړۍ ښه اقتصاد لرونکي سيلانيان هڅه کوي چې داسې نقطو ته سفرونه وکړي او حتی ژوند کول په کې غوره کړي، چېرې چې اقليم مناسب وي او د هوا ککړتيا نه وي يا هم کمه وي او ټول پورته ياد فکتورونه په کې موجود وي. د همدې موضوع د څېړنې لپاره په دې مقاله کې له توصيفی-تحليلي ميتود په وسيله هڅه شوې چې په وروستيو کلونو کې د ګرځندوی صنعت د ودې عمده او مؤثر لاملونه روښانه او د څېړنې پوښتنو ته ځواب وويل شي او دا په ډاګه شي چې د افغانستان د اقتصاد لپاره ټوريزم څه اقتصادي اهميت لري؟

***کلیدي کلمې: گرځندوی، اقتصاد، فرصتونه، ننگونې، افغانستان***

**سریزه**

گرځندوی د اوسنۍ نړۍ د هېوادونو لپاره د عوایدو غوره سرچینه ده چې په ۲۰۲٤ز کال کې یې د نړۍ په کچه اقتصادي ارزښت یا د نړۍ په کچه په ناخالص تولید کې د ټوریزم سهم ۱٦ تریلیون ډالرو ته رسېده. (statista, ۲۰۲٤)همدارنگه په ۲۰۱۹ز کال کې دغه اندازه ۱۰٫۳ تریلیون ډالره وه (statista, ۲۰۲٤)چې همدې امله دغه صنعت یو له مخ پر ودې سکتور گڼل کېدای شي. همداشان د دې سکټور پرمختگ د عوایدو د ایجاد لپاره د نورو منابعو تر څنگ غوره اقتصادي فرصت گڼل کیږي او دغه اقتصادي- ټولنیز صنعت چې نړیوال اقتصادي، فرهنگي او تفریحي اړخونه لري، د نړۍ د پام وړ گرځیدلی دی. د دې اقتصادي او ټولنیز صنعت په رامنځ ته کېدو او پراختیا کې د ټولنې بېلابېل اقشار، عامه او خصوصي سکتورونه ارزښتناکه رول لري. د نړۍ په هېوادونو کې د دې صنعت وده جغرافیایي موقعیت او اقتصادي وضعیت ته په کتو توپیر کوی، چې هره ټولنه خپل ماهیت او جوړښت ته په کتو د دې صنعت په برخه کې جلا، جلا ځانگړتیاوی لري. افغانستان هم د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د ټوریزم او گرځندوی په برخه کې ځانگړي او فوق العاده فرصتونه لري. تر ټولو مهمه دا ده چې افغانستان په طبیعي او ارگانیکه توگه ډېرې ښکلاوی او جاذبې لري، چې د تیرو سیاسي کشمکشونو، جگړو، خپل منځي اختلافاتو، ناامنیو او نورو لاملونو په وسیله د دغو جاذبو د پېژندنې، ساتنې، پراختیا او د مصنوعي جاذبو د ایجاد لپاره د اړتیا وړ پاملرنه نه ده شوي. په وروستیو کلونو کې د دغه سکتور په برخه کې په کور دننه او له هېواده بهر تحرکات رامنځته شوي چې، ځانگړی ټولنیز او اقتصادي اهمیت لري. د نړۍ له گوټ، گوټ څخه مشهورو، تاریخي او تفریحي ځایونو ته سیلانیان ورځي، هلته په علمي، فرهنگي، تاریخي او اقتصادي مسائلو کې گډون کوي، دا گډون او ښکیلتیا اقتصادي او

ټولنیزې اړیکې چې ځانګړی ټولنیز او اقتصادي اهمیت لري، ایجادوي. د همدې برخې د ودې لپاره سیاسي ثبات، غوره اقلیم، ښه ټولنیز اقتصادي وضعیت، مناسبه هوا او ښکلې طبعیت، غوره فرهنګي دودونه او نور تاریخي- فرهنګي او اقتصادي لاملونه د اهمیت وړ دي.

سیلانیان معمولاً د سفر په وخت کې د ترانسپورت، خوړو، هستوګنې، ډالیو پېرودلو او نورو برخو کې مصرف کوي، چې دغه عواید په هېواد کې ملي عاید باندې مستقیم تاثیر غورځوي. دا موضوع  د همدې اقتصادي اهمیت له کبله څېړل شوې او ځینې عمده او موثر لاملونو او فرصتونو باندې بحثونه مطرح شوي چې د دې صنعت د ودې سبب کیږي. همداشان ځینې عمده ننګونې او ګواښونه چې دغه سکتور او صنعت یې متاثره او کمرنګه کړی دی، هم په دې موخه په نخښه شوي چې د دې برخې د پالیسۍ جوړونکی یې په پام کې ونیسي او د غوره حللارو د پیدا کولو په موخه په دې څېړنه وړاندېزونو هم په نظر کې نیول شوي چې د اړوند سکتور د پراختیا او غښتلتیا په موخه ترې استفاده وشي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

د ګرځندوی صنعت د نړۍ په کچه اقتصادي اهمیت لري چې د بېلابېلو لاملونو په وسیله د دغه سکتور ارزښت د پام وړ دی، نو افغانستان هم یو له هغه هېوادونو څخه دی چې بهرني او کورني سیلانیان یې له بېلابېلو تاریخي او فرهنګي ځایونو لیدنې کوي، چې دغه صنعت د افغانستان په اقتصادي وده کې ارزښتناکه رول لري. نو د دغې برخې د اقتصادي اهمیت په اړه څېړنه ترسره کول مبرمه اړتیا ده چې د دې سکتور اقتصادي اهمیت څرګند کړي، په دغه برخه کې شته فرصتونه وڅېړل شي او د شته ستونزو لپاره یې مناسبې حل لارې وړاندې شي.

**موخه**

په افغانستان کې د ګرځندوی صنعت د ودې د عمده او موثر لاملونو پېژندنه، په دې برخه کې د شته ننګونو روښانه کول او د هغو د حل لپاره د دې سکتور پالیسي جوړونکو ته مناسب وړاندېزونه کول د دې څېړنې اصلي موخه ده.

**د څېړنې پوښتنې**

- په افغانستان کې د ګرځندوی د ودې عمده او موثر لاملونه کوم دي؟
- په هېواد کې د ګرځندوی په برخه کې کومه عمده فرصتونه موجود دي؟
- د هېواد په کچه د ګرځندوی په برخه کې عمده ننګونې څه دي؟

**میتود**

د دې مقالې په لیکنه کې د څېړنې له توصیفي-تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی او د څېړنې د اړتیا وړ مواد له بېلابېلو سرچینو څخه ترلاسه شوي او تحلیل شوي دي.

**د څېړنې شالید**

د ګرځندوی صنعت په نړۍ کې مخ پر ودې روان دی چې ډېرې اقتصادي او فرهنګی لاملونه لري. که څه هم په افغانستان کې دغه برخې ته تر ډېره د اړتیا او تقاضا مطابق پاملرنه نه ده شوې، اما په هېواد کې د ګرځندوی صنعت اوږده تاریخي مخینه لري. په همدې بنسټ د دغه سکتور او صنعت په اړه بېلابېلې لیکنې شوي دي، چې د دې مقالې په بشپړولو کې ترې د مأخذ په ذکر سره استفاده شوی ده. چې په همدې لړ کې Kunal Gaurav ۲۰۱۹ز. کال کې په خپله څېړنیزه مقاله کې چې په تحلیلي تحقیقي کړنلاره باندې Factors Influencing Destination Choice of Indian Tourists Visiting Abroad- Analytical study تر سرلیک لاندې لیکل شوی او په ۲۰۲۳ز کال کې خپره شوې، د هند څخه د لېدنې په موخه د سیلانیانو د مسیرونو او د سفر هدف ځایونو د ټاکلو موثر لاملونه په کې د څېړنې لاندې نیول شوي

دي. همداشان دغه سکتور د نړۍ په کچه د ژر وده کوونکو سکتورونو له جملې څخه شمېرل شوی دی. (Gaurav, Kunal, ۲۰۲۳) د هند ټولنې ته په کتو او د هند په اقتصاد کې د دغه سکتور ارزښت په نظر کې نیولو سره دغه عملي مقالې مهم مباحث مطرح کړي دي.

حکیمي، عصمت الله. (۱۴۰۳). "شناسایی و اولیتبندی عوامل موثر در توسعه گردشگیر در افغانستان" ترسرلیک لاندې مقاله کې د افغانستان لپاره د ګرځندوی د پراختیا په موثرو لاملونو باندې څېړنه کړې ده. په دغه مقاله کې تر ۲۲ موثرو لاملونو په اړه یادونه شوې لکه: د امنیت تامین، د ترانسپورت د زیربناوو بهبود، د ګرځندوی د کړنو سم مدیریت، په هېواد کې د ګرځندوی په برخه کې برنامې تدوین، د نړۍ له هېوادونو سره سیاسي اړیکې او داسې نور لاملونو باندې بحث شوې. (حکیمي، عصمت الله. ۱۴۰۳) دغه مقاله د اړوند سکتور په برخه کې ژورو او لا ډېرو څېړنو ته لار پرانیزي چې دغه چاره د ګرځندوی سکتور د ودې لپاره ارزښتناکه ګڼل کېدای شي.

حسیني، سیدمهدی . ۱۴۰۲ل. کال کې د "صنعت گردشگری در افغانستان؛ ظرفیت جهانی و محرومیت تکرار"، تر سرلیک لاندې تحلیلي مقاله لیکې او د دغه برخې تاریخي، فرهنګي اړخونو سربېره یې په کې د ځینو سیاحتي او ټوریستي ساحو یادونه کړې ده. د دې سکتور د ضعف لاملونه یې ناامني، ناکافي زیربناء او نړۍ د خلکو منفي ذهني انځور ذکر کړې دی. په دغه لیکنه کې لیکوال دې پایلې ته رسیدلی چې که چیرې اوسنۍ ځینې ستونزې حل شي، نو د اوسني امنیت په شتون کې افغانستان کولی شي چې د نړۍ د ګرځندوی یو غوره قطب وي. (حسني، ۱۴۰۲)

د لوړو زده کړو وزارت په ۱۴۰۳ل کال کې "د افغانستان د سیاحتي جاذبو (ګرځندویانو) ملي کنفرانس" دایر کړ چې عمده موخه یې په افغانستان کې د ګرځندوی صنعت پراختیا، د افغانستان د لرغونو سیمو او سیاحتي ځایونو پېژندنه، په هېواد کې د ګرځندوی وضعیت د ښه کولو لپاره

اړین فرصتونه، اسانتیاوې او سرچینې پېژندل و. په دغه کنفرانس کې د دغو موخو او محورونو په نظر کې نیولو سره بېلابېلې علمي مقالې وړاندې شوي چې په عمومي توگه دغه راز علمي او تحقیقي هڅې د سیلانیانو د راجلبولو په برخه کې مهم رول لري او په اقتصادي څان بسیاینه کې د دغه سکتور نقش اړین وښودل کیږي. (باختر، ۲۰۲٤)

د دولتي ورځپاڼو ریاست، ۲۰۲۳ کال کې د "گرځندوی څه دی او گټې یې څه دي؟" تر سرلیک لاندې لیکنه خپره کړې چې گرځندوی یې د معاصرې نړۍ د وگړو ترمنځ د اړیکو د ټینگښت، اقتصادي ودې، د یو بل له کلتوري دودونو، طبیعي ښکلاگانو او جاذبو څخه د لیدنې (سیل) او د خوند اخستلو سفر بللی دی. همداشان د نورو موضوعاتو سربېره په کې د قراني نصوصو له استنباط څخه د سیر اوسفر مسائلو ته اشاره شوې ده.

(د دولتي ورځپاڼو ریاست،۲۰۲۳) همدارنگه باختر اژانس په ۲۰۲٤م. کال کې په خپله تبصره کې چې د "واخان ته ښه راغلاست؛ افغانستان د گرځندوی په برخه کې چټک گامونه اخلي"، تر سرلیک لاندې خپره کړې ده، د واخان په اړه یې ویلی دي، چې دا سیمه افغانستان ته څو مهمې گټې لري لکه: د طبیعت ساتنه، د گرځندوی یو مهمه جاذبه ده چې د اقتصادي پرمختگ او عوایدو زیاتوالي لامل گرځي، د کارزمینه برابریږي، علمي څېړنو ته زمینه برابریږي او د اقلیم په برخه کې د دغه سیمې د اهمیت په اړه په کې ویل شوي دي.(باختر. ۲۰۲٤)

پورته ذکر شوې مقالې او نورې هغه لیکنې او شننې چې د افغانستان د گرځندوی د اهمیت او ارزښت په اړه شوي، هره یوه یې ځانگړی ارزښت لري، اما په پښتو ژبه باندې د گرځندوی صنعت د ودې عمده او موثرو لاملونو باندې په دغه زماني محدوده کې موجوده شرایطو ته په کتو په همدغه سرلیک کومه ځانگړې مقاله تر سترگو نه شوه، نو دا څېړنیزه مقاله به دغه تشه ډکه کړي.

## د ګرځندوی صنعت

په هغو ځایونو کې چې معمولاً ژوند کوو، له هغې وتل او نورو ساحو ته سفر کول د ګرځندوی په معنی دی.(خادم، ۱٤۰۲) دغه صنعت د چاپېریال، طبیعت او ژوند سره نږدې اړیکه لري او ویلی شو چې د نړۍ له پیدایښت سره سم د ګرځندوی چارې پیل شوي. د نویو ساحو پېژندنه او د طبیعت په اړه نوي معلومات ترلاسه کول، ښکار پسې له خپلو ساحو وتل، تفریح کول، اقتصادي فعالیتونه ترسره کول او نورې ډېرې موخې او چارې دي چې د ګرځندوی په وسیله ترسره کیږي.

د ګرځندوی صنعت یو خدماتي صنعت دی چې د بېلابېلو اقتصادي او اجتماعي فعالیتونو له ترکیب څخه منځته راغلی چې عمدتاً په دې صنعت کې د هستوګنې، خوړو، څښاک، ترانسپورت، تفریح او نورو اړخونه شامل دي. د دغه صنعت ډولونه یې د ماهیت او موخو په څیر دي، د هرې موخې لپاره چې له خپله ځایه وځي، هماغه د دې صنعت یوه بڼه بللی شو. د دې ترڅنګ بېلابېل اصطلاحات او مفاهیم هم له ځانه سره لري.

افغانستان هم لکه د نورو هېوادونو په څېر د سیاحت او ټوریزم طبیعي جاذبې لري او له ډېر پخوا څخه د دې هېواد د بېلابېلو ساحو د لېدو لپاره د نړۍ له ګوټ، ګوټ څخه سیلانیان راتلل او لا هم دا صنعت ژوندی او مخ پر ودې روان دی. په ۳۰ او ٤۰ لسیزو کې د لومړنی سیاحتي شرکت منځته راغلی (حسنی، ۱٤۰۲) اما ویل کیږي چې په ۵۰مې څخه تر ۷۰مې لسیزو پورې د دغه صنعت د ودې لپاره ځینې اقدامات ترسره شوي دي، چې بهرني سیلانیانو به د کابل، هرات، بامیان، مزارشریف او نورو ساحو څخه لېدنه کوله. اوسمهال په افغانستان کې د سیاحت لپاره بېلابېل ملي بڼونه، شنې ساحې او تفریحي ځایونه جوړ شوي دي، چې دغه ساحې د کورنیو او بهرنیو سیلانیانو د پام وړ هم ګرځیدلي دي.

د بامیانو بندامیر، هرات جامع جومات، ارگ او نورې ساحې، د ننگرهار ولایت ځینې سیمې لکه ممله او نورې ساحې، د کونړ ولایت درې لکه دانگام دره، غازي اباد، شیگل او نورې ساحې، د غور ولایت د جام منار چې دغه تاریخي اثر ۸۰۰کلن تاریخ هم لري او د افغانستان لومړنی تاریخي اثر دی چې په یونسکو کې ثبت شوی دی، د بلخ ولایت مذهبي او سیاحتي سیمې، د پکتیا ولایت اریوب ځاځی بڼ او نورې تاریخي سیمې، د کابل ولایت درې او ځینې ساحې، د غزني تاریخي سیمې او همداشان د هېواد په کچه بېلابېلې ساحې او نقطې اوسمهال د سیاحت په برخه کې د کورنیو او بهرنیو سیلانیانو پام ځانته راړولی دی.

**په افغانستان کې گرځندوی د ودې عمده لاملونه**

د گرځندوی (ټوریزم) پراختیا بېلابېل لاملونه لري چې په ټوله کې مدیریت، تبلیغات، اطلاع رسونه، امنیت او ثبات، اړیکې (ارتباطات)، زده کړه، برېښنایي (الکترونیکي) تبلیغات او محیطي شرایط د ټوریزم په پرمختیا کې شامل دي.(اقتصاد، ۱۳۹۶) همداشان د افغانستان د گرځندوی په پراختیا کې موثر لاملونه د امنیت دوامداره ټینگښت، د تگ راتگ بیخ بناء بهبود، د گرځندوی سم مدیریت، د نړۍ له هېوادونو سره ښې اړیکې، د تاریخي جاذبو ساتنه، موثر تبلیغات، د طبیعي جاذبو ساتنه، د مرتبطو بنسټونو خپل منځي همغږي، د هستوگنې د ځایونو بهبود او ښه والی، د جشنوارو دایرول، د ورته فعالیتونو څارنه، موثر اقتصادي سیاستونه، اړوندو برخو کې د مسلکي اشخاص گمارنه، د روغتیایي خدمتونو بهبود، د میلمه پالنې دود لا غښتلی کول، بانکي خدمتونو ارایه کول، د مصنوعي جاذبو ایجادول، عامه پوهاوی، بین المللي ژبو سره اشنایي او له نورو لاملونو څخه عبارت دي.(حکیمي، ۱٤۰۳)

په یوه څېړنه کې چې د هند د ټوریزم د ودې په اړه ترسره شوې، د ټوریزم د ودې لاملونه یې په دې توگه یاد کړي دي: جغرافیوي، فرهنگي برنامې، امنیت

او ثبات، اقتصادي حالت، سهولتونه او خدمتونه او حکومتي پالیسۍ (NIOS, ۲۰۱۵) د دغه هېواد د ګرځندوی د ودې مهم لاملونه یاد شوي دي. همداشان د سیاحت لپاره د ساحو د غوره کولو په اړه د ترسره شویو تحقیقاتو په پایله کې ترلاسه شوې چې د سفر د ساحو انځور او جاذبه، د سفر د ساحو اقلیم، د باور وړ فضا، تفریحي سهولتونه، سیاسي ثبات، ارزښتناکه او معیاري خدمتونه، ارامښت(Gaurav, ۲۰۱۹) هغه فکتورونه دي چې د سفر د ساحو په ټاکلو مهمه ونډه لري. همدې ټولو مسائلو او د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو د داخلي اوبهرني ګرځندوی په برخه کې د هغو عمده او موثر لاملونو یادونه کیږي چې اوسمهال د ټوریزم د صنعت په پرمختګ کې اغیزمن دي او د هېواد د اقتصادي ودې په پار ورته لا پاملرنه په کار ده.

**الف: سیاسي ثبات او اړیکې**

د اقتصادي او ټولنېزو برخو د ودې او پرمختیا لپاره سیاسي ثبات یو له مهمو لاملونو څخه دی. سیاست دی چې د هېواد اقتصاد ته مسیر ورکوي او په هره اندازه چې په هېواد کې سیاسي ټیکاو او ثبات رامنځته کیږي، په هماغه کچه د ټوریزم طبیعي جاذبې غښتلي کیږي.

د ټوریزم د کمزورتیا په لاملونو کې لومړی لامل د ناامنۍ دی(حسني، ۱٤۰۲) ، همدا ناامني چې د سیاسي ثبات نه شتون زیږدنده ده؛ دغه صنعت ځپي او هېواد ته د بهرنیو سیلانیانو د راتګ مخه نیسي او همداشان په هېواد کې دننه د سیاحت سرچنې وچوي. نو په همدې موخه اړینه ده چې سیاسي ثبات، امنیت او خوندیتوب موجود وي. په دې برخه کې بله مهمه موضوع د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د سیاسي اړیکو ایجاد، ساتنه او پراختیا ده چې پاملرنه ورته په کار ده. اړیکې پانګونې ته لار پرانیزي او له بېلابېلو اړخونو څخه د هېواد په اقتصاد باندې تاثیر کوي، چې د ګرځندوی صنعت هم د نړۍ د هېوادونو سره د تګ راتګ د پراختیا په برخه لا چټکه وده کولی شي.

**ب: غوره اقليم او طبيعي لاملونه**

په نړيواله کچه شواهد ښيي چې سيلانيان د سفر کولو په وخت کې اقليم، اوبو، هوا، طبيعت او نورو ورته لاملونو ته ترجيح ورکوي. دا هم ثابته شوې چې په غوره اقليم لرونکو سيمو د ټوريستي جاذبې قوه غښتلې وي او ډېر سيلانيان ځانته راجلبوي. په همدې موخه افغانستان هم د نړۍ د ښه اقليم درلودونکو په قطار کې راځي، په ځانګړې توګه د هېواد هغه سيمې چې سيلانيان ورځي؛ غوره اقليم لري. د نورستان ملي پارک، د باميانو د بندامير تفريحي بڼ، د کابل شمالي سيمې او ولسوالۍ، د پکتيا اريوب ځاځی بڼ، د کونړ د دانګام ولسوالۍ، د همدې ولسوالۍ د بنشۍ سياحتي سېمه، د وټپور ولسوالۍ اړوند د ګمبير سيمه، د شيګل دره او ځينې نورې ښکلې درې همدارنګه د هېواد په کچه ټوريستي جاذبې چې خپل غوره اقليم او طبيعي ښکلا له کبله يې شهرت موندلی او کورني او بهرني سيلانيان ور درومي. همدارنګه د ژمي د واورو په موسم کې د باميانو ولايت کې بېلابېلې ورزشي لوبې هم ځانګړې سيلانيان لري چې همدې موضوع ته په کتو بايد وويل شي چې د افغانستان د کال په بېلابېلو فصلونو کې د سياحت لپاره مناسب ځايونه لري.

**ج: اقتصادي لاملونه**

ګرځندوی د اقتصادي، اجتماعي پرمختيا او ښاري او د ښاري سيمو د هستوګنو د رفاه د يو لامل په توګه معرفي کيږي، (راضيه تميوری او نور، ۱۳۹۳) ځانګړی اقتصادي ارزښت لري او د نړۍ په اقتصاد کې يې په دې وروستيو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی.

د ګرځندوی د صنعت په پرمختګ کې د نور لاملونو ترڅنګ اقتصادي لاملونه هم رغنده رول لري. هغه سيمې او هېوادونه چې د هغو اقتصادي وضعيت ښه، اقتصادي ثبات په کې موجود وي، د انفلاسيون کچه يې لوړه نه وي، ترانسپورتي لګښتونه يې ټيټ وي او بلاخره هلته چې د سفر مصارف ټيټ

او کم وي؛ نو د نورو لاملونو په درلود سره په دې ټولنو کې گرځندوی ژر وده کوي. د گرځندوی د ماهيت په نظر کې نيولو سره دغه ټول ذکر شوي اړخونو د سفر په بيه پورې اړوند دي. دلته يې په لاندې توگه د وضاحت لپاره بحث مطرح کيږي. دلته د يو مهم اقتصادي لامل په توگه ويلی شو چې د افغانستان پولي واحد د ډېرو پرمختللو او د پرمختگ په حال کې هېوادونو له کرنسيو څخه ټيټ دی، نو دا هم يو اقتصادي لامل کېدای شي چې سيلانيانو په جذب کې نقش ولوبوي. د پولي واحد تر څنگ د ترانسپورت ټيټ لگښت، د هستوگنې ټيټ نرخونه، د خوړو او څښاک ارزانه نرخونه، د بهرنيو سيلانيانو په برخه کې د ويزې د ترلاسه کولو ارزانه او اسانه ترلاسه کول او نور اقتصادي لاملونه په دغه سکتور باندې تاثير لرونکي اقتصادي لاملونه گڼل کيږي.

**د سفر ارزانه بيه**

د سيمې او نړۍ په کچه افغانستان ته د سفر کولو بيه ټېټه ده، په ويزه، ټکټ او د سفر نورو اړوند اسنادو باندې کم لگښت راځي، چې له همدې امله د بهرنيو سيلانيانو د پام وړ گرځېدلی دی. که دغې برخې ته لا پاملرنه وشي نو د ټوريزم صنعت د پياوړتيا سبب گرځي. له بله پلوه، په هېواد کې د مصرفي او غير مصرفي توکو نرخونه د نورې نړۍ د لوړ ارزښت لرونکو کرنسيو پرتله او حتي له ځينو نورو هېوادونو څخه ټيټ دي، په ځانگړې توگه، د بهرنيو سيلانيانو لپاره د نرخونه او بيې په زړه پورې دي. په همدې اساس د نرخونو ثبات هم د هغه عواملو په ليست کې شاملېږي چې د ټوريزم د صنعت د ودې لپاره اغېزناکه اهميت لري. په ځانگړې توگه په وروستيو کلونو کې دغې فرصت د سيلانيانو پام ځانته را اړولی دی.

په ټوله کې اقتصادي ثبات د ټوريزم د پراختيا سره اړيکه لري او دغه اقتصادي لامل د داخلي او بهرني سياحت په برخه کې مهم رول لري. د نړۍ په کچه د ملي ناخالص توليد GDP کې د ټوريزم اندازه په ۲۰۱۹ز کال کې ۱۰ ترېليونه ډالره، په ۲۰۲۲ز کال کې دغه اندازه ۷,۷ ترېليونه ډالره او په

۲۰۲۳ز کال کې یاده اندازه ۹،۵تریلیونه ډالره ښودل شوې ده.( statista, ۲۰۲۳) د همدې سرچینې د وړاندوینې پر اساس ویل شوي دي چې په ۲۰۳۳ز کال کې به دغه اندازه تر ۱۵،۵ تریلیونه ډلرو ته ورسیږي. په ورته وخت کې فرانسه په نړۍ کې هغه هېواد دی چې ډېر سیلانیان ورغلي دي چې له ۲۰۲۰ز کال څخه تر ۲۰۲۳ز کال پورې دغه ته په ترتیب سره په دغو څلور کلونو کې ۴۱،۶۸ میلیونه، ۴۸،٤ میلونه، ۹۳،۲ میلیونه او ۱۰۰ میلیونه سیلانیان ورغلي دي. (statista, ۲۰۲٤) په۲۰۲٤ز کال کې بیا دغه ارقام له ۱۰۰ میلیونو اوړي چې په همدغه کال کې یې د دغه هېواد ۷۱ بیلیونه یورو عاید د همدغه سکتور له لارې ترلاسه کړي دي چې د ۲۰۲۳م کال پرتله دغه ارقام ۱۲٪ ډېر شوي دي.(Campus, ۲۰۲٤)

له همدې معلوماتو څرګندیږي چې دغه سکتور مخ پر ودې روان دی او د نړۍ په اقتصاد کې اغیزمن رول لري. اوس نو افغانستان هم د نړۍ په کچه د سیاحت او ټوریزم لپاره غوره سرچینې لري چې د ملي اقتصاد په برخه کې د غوره عایداتي سرچینو په توګه معرفي کولی شو. د ۱٤۰۱ او ۱٤۰۲ کلونو له ارقامو جوتیږي چې د یو کال په موده کې په دغه برخه کې تر ۳۹میلیونه افغانۍ عاید ترلاسه شوې دی، همداشان د سیلانیانو د لارښودانو او د دې برخې کاروبار هم څو برابره ښه شوې دی. (BBC, ۲۰۲۳)

## د: د طبیعي جاذبو پېژندنه او معرفي کول

په هېواد کې د طبیعي جاذبو نړیواله پېژندنه ترسره کولو د دې سکتور د دوې د موثر او عمده لامل په توګه معرفي کېدای شي، چې په همدې موخه عامه او خصوصي برخو ته په کار ده چې د شته جاذبو د پېژندنې لپاره بېلابېل ویډویي او چاپي ځانګړي فلمونه، بروشورونه، انځوریز کتابونه او نور ابزار تولید او خپاره کړي. په دې برخه کې تر ټولو ډېر موثریت الکترونیکي بازارموندنه لرلی شي چې د دغې برخې لپاره د مصنوي هوش او ټکنالوژي به مرسته ترسره شي. همدارنګه عامه او خصوصي رسنۍ د طبیعي او مصنوعي جاذبو په

معرفي کولو کې مهم رول لرلی شي. ځانګړی خپرونې دې طرحه او تولید شي، شته خپرونې دې په سیستماتیکه بڼه پراختیا ومومي. په دې وروستیو کې د چین او ځینو نورو هېوادونو د سیلانیانو د راتګ یو عمده لامل د امنیت تر څنګ د افغانستان د طبیعي جاذبو پېژندنه یادولی شو.

**ز: تاریخي او فرهنګي لاملونه**

افغانستان د اوږد تاریخ په لرلو سره په بېلابېلو برخو کې تاریخي او لرغوني سیمې او تاریخي اثار لري، دغو سیمو او اثارو د بهرنیو او کورنیو سیلانیانو په جذب کې مهم رول لرلی دی.

د لرغوني هرات، مزارشریف، بامیانو او نورو سیمو د سیلانیانو د سفر یوه عمده موخه د تاریخي سیمو څخه لېدنه وي. همدا ده چې ویل کیږي، د ګرځندوی د ودې یو لامل تاریخي او فرهنګي دي، چې د نړۍ خلک یې د افغانسان څخه لېدنې ته هڅولي دي. د دغو لاملونو څخه او نورو هغو موثرو لاملونو څخه په پوره اندازه ګټه پورته کول د هېواد د اقتصادي ودې سره په کافي اندازه مرسته کولی شي. په همدې بنسټ اړینه ده چې دې برخو ته اړینه پاملرنه وشي.

**په افغانستان کې د ګرځندوی د کمزورتیا عمده لاملونه**

د هېواد وضعیت او د دې برخې په تحلیل سره باید وویل شي چې په دې سکتور کې بېلابېلو لاملونه شته چې دغه برخه یې ننګولی او له ګواښونه سره یې مخ کړې ده. په همدې اساس دغه سکتور د اړتیا وړ پرمختګ نه دی کړې چې ځینې عمده لاملونه لري.

- د نړیوالو په ذهن کې د افغانستان منفي انځور

که د نړۍ په هر ګوټ او کنج کې له یو چا سره مخامخ شی او دغه اشخاص د افغانستان په اړه واقعي معلومات ونه لري، نو د افغانستان د نوم په اورېدو یې لومړی خبره د جګړې، وحشت او دهشت په اړه وي. د افغانستان د ارزښتونو په اړه نه پوهیږي، د دې هېواد له شاهکارونو، میراثې، تاریخي

مخینې او نورو ویاړونو باندې نه وي خبر، په دې اړه یې څه نه وي اوریدلي. نو همدا وجه ده چې دې هېواد ته بهرني سیلانیان زړه نه ښه کوي، نو همدا منفي او منفور ذهنیت افغانستان ته د بهرنیو د سفر د ترسره کولو کولو د مخنیوي یو عمده دلیل په توګه یادیږي.

ـ د ټوریزم په برخه کې کمزوری زیربناء

د تیرو سیاسي کشمکشونو، دوامداره بې ثباتۍ، مصرفي او وروسته پاتې اقتصادي وضعیت د دې برخې د زیربناء د ضعف عمده لاملونه ګڼل کیږي. همدا لاملونه باعث شوي چې دغه برخه د پام وړ پرمختګ او انکشاف ونه کړي. د ګرځندوی اړوند بیخ بناء لکه ترانسپورتي سیستم، د سړکونو او لارو خراب وضعیت، د هوټلونو او د سیلانیانو د هستوګنځایونږ او یا هم د طبیعي جاذبو ساحو کې د ژوندانه او وخت تیرولو امکاناتو کمزوری حالت او حتی نه شتون او داسې نور موضوعات د دې ننګونې د اساسي لاملونو په توګه معرفي کېدای شي.

ـ د افغانستان د ټوریزم په برخه کې د بازار موندنې او تبلیغاتو ضعف

د ټوریزم د پراختیا په موخه بازارموندنه، تبلیغات او د جاذبو معرفي کول او پېژندنه اساسي رکن دی. د تیرو ناخوالو او سیاسي کشمکشونو، حکومتي بې تفاوتۍ او بې کفایتۍ، په اړوند سکتور کې د مسلکي او متخصصو افرادو نه شتون، د ګرځندوی صنعت د پرمختګ لپاره د ملي برنامې اوپالیسۍ نه شتون، حکومتي تشکیلاتي ضعف او نور فکتورونه د دې لامل و چې د دغې برخې لپاره د سیلانیانو جذب پروسه ټکنۍ او په ټپه ولاړه وي. نو اوس اړینه ده چې د دغه سکتور د پراختیا او پرمختګ لپاره د شته ګواښونو او ننګونو په حل کار وشي او هغه ټولې ممکنه حل لارې په نظر کې ونیول شي چې د دغې برخې د قوت او غښتلتیا لپاره موجودې دي. همداشان اړینه ده چې د ګرځندوی صنعت د ودې موثر او عمده لاملونو د نورو عامو او فرعي لاملونو

ځخه په لومړتوب کې قرار ولري او په دغه برخه کې لنډمهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله برنامې پلي شي.

**پایله**

افغانستان د لرغوني تاریخ، طبیعي ښکلا، غوره اقلیم او د ګرځندوی طبیعي جاذبو په لرلو سره د کورنیو او بهرنیو سیلانیانو پام راجلب کړی دی. په دې څېړنه کې ذکر شوي لاملونه او نور هغه فکتورونه چې د ګرځندوی صنعت د ودې او پراختیا لپاره اړین دي، باید ارزښتناکه استفاده ترې وشي. امنیت او ثبات چې د سیاحت په برخه کې مهم رول لري، دوامداره ټینګښت یې د دې سکتور د پراختیا او پرمختیا سبب ګرځي. همداشان د طبیعي جاذبو ساتنه او پراختیا، د مصنوعي جاذبو ایجاد، د دغه صنعت د ودې له اساسي لاملونه ځخه شمېرل کیږي. په همدې موخه د دې سکتور ودې لپاره اړینه ده چې ټول هغه لاملونه چې په دې څېړنه کې په نخښه او په مخکنیو مطالعاتو او لیکنو کې جوت شوي؛ د پالیسي جوړونکو پام ځانته راواړوي، چې د دې برخې د پراختیا لپاره یې په یوې جامع او ملي برنامه کې په نظر کې ونیسي. له بله پلوه هغه ننګونې چې دا سکتور ورسره مخامخ دی؛ د هغو د حل لپاره جدي او لازم اقدامات ترسره کول اساسي بحث دی. د بهرنیو سیلانیانو د پاملرنې د جذب په موخه د افغانستان پېژندنې تر عنوان لاندې نړیوال او بین المللي ستراتیژۍ ترتیبول او د بېلابېلو ارتباطي لارو په وسیله په نړۍ کې خپرول یې کولی شي د دغې ننګونې تأثیرات راکم او په منځمهال او اوږد مهال کې شونې ده چې دغه ننګونه له منځه ولاړه شي. همداشان د طبیعي جاذبو ساتنه او د مصنوعي جاذبو ایجاد او پراختیا، پار ملي بڼونه جوړول او د سفر ټول امکانات لکه هوټلونه، د هستوګنې ځایونه، د اړتیاوو د رفع کولو سهولتونه، بانکي او مالي خدمتونه، لوژستیکي امکانات، عامه اوخصوصي ترانسپورتي خدمتونه او نور د اړتیا وړ سهولتونه برابرول په دغه برخه کې لازمې او مهم دي.

**وړاندیزونه**

حکومت ته وړاندېز کیږي چې د ټوریزم صنعت د پراختیا او ودې په موخه په لاندې برخو کې ځانګړې پراختیایي برنامې طرح او پلي کړي:

- د ګرځندوی د طبیعي جاذبو د لاښکلا او د مصنوعي جاذبو د ایجاد لپاره ځانګړې برنامه چې مالي، بشري او فزیکي مشخصې منابع ولري؛ طرح او تطبیق کړي.
- د ترانسپورټ وزارت ته وړاندېز کیږي چې د ګرځندوی په برخه کې دې د عامه او خصوصي ترانسپورټي خدمتونو ساحه پراخه کړي.
- د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته وړاندېز کیږي چې د ښاروالیو، ولسوالیو او نورو اړوندو ارګانونو په مرسته په کور دننه او له کوره بهر د ګرځندوی په برخه کې تبلیغات ترسره کړي.
- د لوړو زده کړو وزارت ته وړاندېز کیږي چې په پوهنتونونو اړوند د افغانستان پېژندنې په څانګو کې د دې برخې په اړه ځانګړې تدریسي او ممد اثار ځای پر ځای کړي.
- د اطلاعاتو او کلتور وزارت وړاندیز کیږي چې د هېواد د ټولو طبیعي او مصنوعي ښکلو او جذابو سیمو او ساحو انځوریز کتلاکونه او انځوریز لنډ تشریحي اثار په ملي او انګلیسي ژبو تولید او خپاره کړي.

**مأخذونه**


۱ـ باختر. ۲۰۲٤. *واخان ته ښه راغلاست؛ افغانستان د ګرځندوی په برخه کې چټک ګامونه اخلي*. باخترخبري اژانس:۲۰۲٤/۹/۲۳. کابل. لاسرسی:/https://www.bakhtarnews.af. مراجعه: ۲۰۲٤/۱۲/۱۸

۲ـ بي بي سي. ۲۰۲۳. *افغانستان ته د بهرنیو سیلانیانو ورتګ او عواید یې ډېر شوي*. BBCویبپاڼه: ۲۰۲۳/٦/۲۵. لاسرسی:

https://www.bbc.com/pashto/articles/cv۲r۳۸pz۲z٤o مراجعه: ۲۰۲٤/۱۲/۱۲.

۳ـ تیموری، راضیه او نور. ۱۳۹۳. *((عوامل موثر بر گردشگری مکان های تاریخی شهری نمونه موردی: بازار تاریخ ی کانشهر تبریز))*. گردشگری شهری، دوره ۱، شماره ۱، ۱۳۹۳. ایران.

۴ـ حکیمی، عصمت الله. ۱٤۰۳. *((شناسایی و اولویتبندی عوامل موثر در توسعه گردشگری در افغانستان))*، چهارمین کنفرانس بین المللی و هفتمین کنفرانس ملی مدیریت، روان شناسی و علوم رفتاری،تهران. نشر: https://civilica.com/doc/۲۰۲۷۹۳.

۵ـ د دولتي ورځپاڼو رياست. ۲۰۲۳. *((ګرځندوی څه دی او ګټې يې څه دي؟)) لاسرسی:* https://dailies.gov.af/. مراجعه: ۲۰۲٤/۱۲/٦

٦ـ د نیای اقتصاد. ۱۳۹٦. *((هفت عامل تاثیرگذار در توسعه گردشگری ایران))*. دنیای اقتصادی، ایران. لاسرى: https://donya-e-eqtesad.com/بخش-گردشگری-۲/۱۱۰۰۹۳۲/. مراجعه: ۱٤۰۲/۱۲/۲۲.

۷ـ سید مهدی، حسنی.۱٤۰۲. *((صنعت گردشگری در افغانستان؛ ظرفیت جهانی و محرومیت تکراری))*. نشر: ۲۵/سرطان/۱٤۰۲.: تحلیل روز. لاسرسی: tahlilroz.com/. مراجعه: ۲۲/۱۲/۱٤۰۲

۸ـ علی خادم. ۱٤۰۲. *((معرفي مفاهیم صنعت گردشگیری وطبعیت گردی))*. مجله گردشگری الی گشت، ۱٤۰۲/۱۰/۲۷. لاسرسی:eligasht.com/blog/tourism/. مراجعه: ۱٤۰۲/۱۰/۲۷.

۹- Campusfrance. (۲۰۲٤). *A record year for international tourism in France*. Campusfrance.org. access: https://www.campusfrance.org/en/actu/۲۰۲٤/ access:۱/۱/۲۰۲۵

١٠- Gaurav, K. (٢٠١٩). *Factors Influencing Destination Choice of Indian Tourists Visiting Abroad – An Analytical Study*. Pramana Research Journal, ٩(٦), pp. ۲۰۳-۲۱۷., Available at SSRN: https://ssrn.com/abstract=٤٤٩٠٧٤٤

١١- NOIS. (٢٠١٥). *Growth and patterns of tourism in India*. Nation Institute of Open Schooling. Retrieved from: https://www.nios.ac.in/media/documents/tourism_٣٣٧_courseE/٣٣٧_tourism_eng_l١٣.pdf. Access: ١٠/Nov/٢٠٢٤. India. ۹۵.

١٢- Statista. (٢٠٢٤). *Countries with the highest number of international tourist arrivals worldwide from ۲۰۱۹ to ۲۰۲۳*. Available at: statista.com/statistics/٢٦١٧٢٦/. Access: ١/١/٢٠٢٥.

١٣- Statista. (٢٠٢٤). *Total contribution of travel and tourism to gross domestic product worldwide in ۲۰۱۹ with a forecast for ۲۰۲٤*. Retrieved from: statista.com/statistics/٢٣٣٢٢٣/. Access date: ١٠/Nov/٢٠٢٤.

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Abdul Baqi Shahab

**AS. Editor:** Nabiullah Badri

**Editorial board:**

Senior research fellow Sher Ali Tazari

Senior research fellow Muhammad Sharif Zadran

Senior research fellow Abdul Jabar Abid

Researcher Fellow Muhammad Dawood Nazim

Researcher Gholam Nabi Hanafi

**Composed & Designed By:**

Abdul Baqi Shahab

**Annual Subscription:**

Price of each issue in Kabul: 320 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.